# پښتو پښويه (ګرامر)

# PASHTO GRAMMAR

دويم لاسوهلی ازمېښتي چاپ

پوهندوی دوکتور مجاور احمد زيار

Dr. M. A. Zyar

PROPERTY OF ACKU
5596

ادب پوهنځی

د ۱۳۵۷ وری

## نيو ليك (فهرست)

| سرليک | مخ |
|---|---|
| ياد ښت | الف |
| پښويه (گرامر) | ۱ |
| لومړۍ برخه ـ غږ پوهه (فونو لوژي): | ۱ |
| دويمه برخه ـ گړ پوهه (مور فولوژي): | ٦ |
| تـوم گړ پوهـه | ٦ |
| نوزي (جنس) | ۷ |
| پير (حالت) | ۱۰ |
| ناوښتونى نومونه | ۱۲ |
| شيز نوم (اسم) | ۱۳ |
| ستاينوم (صفت) | ۱٤ |
| شميرنوم (عدد اسم) | ۱٦ |
| نومځري (ضمير) | ۱۸ |
| ځانگړي نومځري (شخصي ضميرونه) | ۱۸ |
| تولنو مځري (ملکي ضميرونه) | ۱۹ |
| نغوتومځري (اشاري ضميرونه) | ۱۹ |
| پوښتنو مځري (استفهامي ضميرونه) | ۲۰ |
| وييکو مځري (اداتي ضميرونه) | ۲۱ |
| اړيکو مځري (ارتباطي ضميرونه) | ۲۲ |
| غبرگون نومځري (انعکاسي ضميرونه) | ۲٤ |
| ناټيکو مځري (ابهامي ضميرونه) | ۲٤ |

| سرليک | مخ |
|---|---|
| گډ تولنومخري ( اشتراکی ضمير | ۲۷ |
| تول ـ ځانگړي نومخري ( شخصی ـ ملکی ضميرونه) | ۲۷ |
| لومړي کړ اوونه ( تمرينونه) | ۳۲ |
| دويم کړ اوونه( تمرينونه) | ۳۳ |
| دکړ گړ پوهه يا دفعل صرف | ۳٤ |
| کړ نومونکی ( مصدر) | ۳٤ |
| دکړ اوړونی توکونه اوارخونه | ۳۵ |
| اوړونونه ( گردانونه ) | ۳۹ |
| دتيرمهال کړ اوړون | |
| ووز دنی تيرمهال ( اعتيادي ماضی ) | ٤۱ |
| لنډ تيرمهال ( قريبه ماضی ) | ٤۲ |
| لرتيرمهال ( بعيده ماضی ) | ٤۳ |
| گومانی تيرمهال ( احتمالی ماضی ) | ٤٤ |
| ارمانی تيرمهال ( تمنايی ماضی ) | ٤۵ |
| اړوتی تيرمهال ( شرطی ماضی ) | ٤۷ |
| توانی تيرمهال ( امکانی ماضی ) | ٤۸ |
| ټينگاري تيرمها ل ( تاکيدي ماضی ) | ٤۸ |
| هيښنی تيرمهال ( تعجبی ماضی ) | ٤۹ |
| پوښتنی تيرمهال ( استفهامی ماضی ) | ٤۹ |
| ناليزندکړ ( لازمی فعل ) | ۵۰ |
| بشپړ تيرمهال ( مطلقه ماضی ) | ۵۰ |

| سرلیـــــــک | مـــخ |
| --- | --- |
| خبرې تيرمهال | ٥٠ |
| لنـــــــډه | ٥٠ |
| لـــر | ٥١ |
| نابشپړ | ٥١ |
| روزدنی | ٥١ |
| ارمانی | ٥١ |
| توانی | ٥٣ |
| گومانی | ٥٣ |
| ټينگاري | ٥٤ |
| پوښتنی | ٥٥ |
| اړوتی | ٥٥ |
| د اوسمهالکړ اوړون | ٥٦ |
| بشپړ اوسمهال ــ خبري | ٥٦ |
| اړوتی | ٥٧ |
| ارمانی | ٥٧ |
| پوښتنی | ٥٧ |
| هيښنی | ٥٧ |
| توانی | ٥٨ |
| امري | ٥٨ |
| ټينگاري | ٥٨ |
| غوښتنی | ٥٩ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| گومانی | ٥٩ |
| نابشپړ اوسمهال | ٥٩ |
| اړوتی | ٦٠ |
| ارمانی | ٦٠ |
| پوښتنی | ٦٠ |
| هیښنی ــ گومانی ــ توانی ــ امري ۰۰۰ | ٦١ |
| نالیزند ( تل ــ ) ــ بشپړ اوسمهال | ٦٢ |
| خبري ــ اړوتی ــ ارمانی ۰۰۰۰ | ٦٢ |
| نابشپړ اوسمهال | ٦٣ |
| خبري ۰۰۰۰ | ٦٤ |
| داوسترمهالکړ اوړون ( د مستقبل فعل گردان ) | ٦٥ |
| نالیزندغ ــ ولاړ ــ | ٦٥ |
| دکړ رغاونی ( ساختمانی ) ډولونه | ٦٦ |
| یوستوي ــ بیلښتی ( ساده ــ اشتقاقی ) | ٦٦ |
| خواپرخوا ( ست ترکیبی ) | ٦٧ |
| ترښتی ( ترکیبی ) | ٦٨ |
| دویمه برخــــه : | ٦٩ |
| ناوړیدونی گړونه | ٦٩ |
| کړولونه (قیدونه) | ٦٩ |
| ویېکی ( ادوات) | ٧١ |

| سرليک | مخ |
|---|---|
| اړيکوييکی – ورتش وييکی – ترويیکی | ٧١ |
| تولوييکی – سريلونه | ٧٢ |
| ٣– کسر اوونه ( تمرينونه) | ٧٨ |
| ٤– کړ اوونه | ٧٩ |
| د پښتو ګړ ونو انځوريک | ٨٠ |
| د ريمه برخه : | |
| غونډ له پوهه ( نحو) | ٨١ |
| غونډ له( جمله ) | ٨١ |
| دغونډ لی جوړ ښت | ٨١ |
| دغونډ لی رغنده توکونه | ٨٥ |
| اوډ ون ( ترتيب ) | ٨٧ |
| دغونډلی بشپړ اند توکونه( اهنګ – خج .... ) | ٨٨ |
| داينس اوايښونی سمون | ٩١ |
| نومواله اوکړ واله غونډ له | ٩٣ |
| دغونډ لی مانيز ډولونه | ٩٤ |
| دغونډ لی جوليز ډولونه | ٩٥ |
| يوستوي غونډ له | ٩٥ |
| غبرګغونډ له | ٩٦ |
| ګډه غونډ له | ١٠١ |
| ګډ لی غونډ له | ١٠٣ |

سـرليـک | مـخ
--- | ---


| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| گړنې (اصطلاحات) | ۱۰۵ |
| غونډه له پوهېزه شننه (نحوي تجزیه) | ۱۰۷ |
| کړاوونه | ۱۱۵ |
| نوي نوموونې | ۱۱۷ |
| ربې پانګه | ۱۳۲ |
| اخځليك | ۱۵۷ |

## یادښت

دنوي اوزاړه ترمنځ یوه نه شلیدونکی شخړه یو دیالکټیکی قانون دي • هر زوړ شیز اوپدیده په خپل ځان کی دننه دیوه ورسس نوي اړ پیچ (ضد) زړي روزي او په هغه دي دود اودوی دوگړنی ټولنی بشپړتیا ین بهیرمخ پروړ اندي دروی اولـــه دي سره ین انداوبوهه • په دي توګه له مهال تیریدنی اوځانګړ و ځانی او جهانی اړونو سره سم بشري پوهنه تل بدلون اونوي کیدون موس اوهمد غه بدلون اونوي کیدون یـــی بشپړتیاین تګلوري ورسیخوي •

زموږ په ورروسته پاتی ټولنه کی دنورو بشري پوهنو په لړ کی ژبپوهنه هم شـــوي دودیدونکی ده او زموږ له ټولنیزو اړونو سره سم ین یو رنګ لاسم دود نه وي موندلـــی چی په نوره نړ ۍ کی هغه بیا دوخته زوړ وي • که څه هم لږ ترلږه شل کاله پوره کیدونکی دي چی نوي ژبپوهنی دادبپوهنځی له لارې زموږ هیوادته سررادننه کړې خوبیا یــی هم نه یوانحس دزړې دودیزي ژبپوهنی اوښوونی ځای نه دي نیولی چی لاکوړش ین ثړې سـر هومره هم نه دي هسك کړي •

دعبدالاحد یاري دنوي ژبپوهنی څولوستونه اولیکنی لادشاګردانو مغزو ته سمی نه وي رسیدلی چی درښتین ژبنودنی بیاټول افغانستان نیولی وکه له الهامه تیرشو • دپښتو ځانګی پازوال استاد شاکر دنوي ژبپوهنی دپیښاوو په توګه نه دومره اکادمیکـه زده کړه اوسمبالتیا درلوده اونه ین ورسره لږه کی زړ ورتیا چی هغه زړه ژبنودنـــه لږ ترلږه له پوهنځی څخه وباسی • ده چی دژبپوهنی مو٘ سس او پښتو ځانګی دژبنیو څیړنو او ښوونی بشپړ مونو پول ین په لاس کی وله (( نه یم وڅه ته وایی ـ مورڼهم وڅـه ته وایی؟ )) پرته نه نورڅه زده وو اونه ین ترهغه زیات څه وړ اندي کړ اي هــــول •

نو په دي توګه به ترې پخپله د پښتو ژبپوهنې یا پښتو پښوونې په باب څه هیله شوي واي .
د تېزي نوي ژبپوهنې ( د پښتو ټولنې د ۱۳۴۴ خپرونې ) او د پالوال نوي مصدر ( د ادبپوهنځي د ۱۳۵۰ خپرونې ) بیاهم زاړه غوزونه یوځه ویښ ګول او دا یې لږ تر لږه وښووله چې نوې ژبپوهنه یا پښوونه څه مانا !

ما د ژبپوهنې د یوه نویزده کوونکي او پښتو ګړ د ودڅېړونکي په توګه د سویس له زده کړونه له بېرته راستېدو سره له زړې ژبپوهنې او زړې ژبښودنې سره یوې مخېزې نه پخلا کېدونکې سرغړاوي ته راودانګل او خپله لومړۍ دنده مې داوبلله چې له پښتوڅانګې څخه همدومره د زړې ژبښودنې تغرونېلز د بوم لکه کوم کار چې په دري څانګه کې الهام او نګهت کړي دي او ترخپل مسلکي واک او وس پورې د نوي ژبپوهنې په رڼاکې د یوې نوې ښوونځیوالي ( مکتبي ) پښوونې او ژبښوونې بنسټ هومره کېږدم .

زه دا باتې نه وهم چې دغه پښوونه په تیوریک ډول د کوم ډېر تازه او لوکس ژبوهنیز ښوونځي ( لکه ترانسفور ماسیونل ــ ژنراتیف ګرامر ) ښکارندویي ګولاي شي او نه په سلو کې د پښتو یو بشپړ سپړیز ( تشریحي ) ګرامر او سي خود ا په ډاډ ویلای شم چې د ودیز نور ماتیف ګرامر هم نه دي . دا چې ایکي او علمي پښتو لامنځ ته نه ده راغلې او هرچا خپله کلیواله او ځانګړي پښتو رامخکې کړېده نو کېدای شي ځینو ګوتیوونکو ته زما دغه پښوونه یو نور ماتیف ګرامر وایې ځکه ما د نورو پرخلاف ځان ته یوازینۍ پښتو امرلي او غوره کړي ده او د ګرادري د ودونو ( قاعدو ) او ټولیو ( کتیګوریو ) په سپړنه ایستنه او ویشنه کې مې د ټولو پښتو ګړ د ود ونو د یوي ګډې امرلي ( انتخابي ) پښې اراو معیار په کار اچولي دي په دي چې د (( پښتو )) ګرامر لیکه او د (( پښتو ګانو )) ګرامر لیکه سره توپېر لري .

دموخې اومرام له پلوه مازيات دپښتو ښانگې دشاګردانو راتلونکې اړتيا په پام کې نيولې ده . هغه داچې دوي په داسې يوې‌نوي پښوې سره پرخپل خپل وار په منځنيو او لوړو ښوونيزو ښانګوکې سمدلاسه دزړې ژبښوونې پايته رسيدل اوله دود ه لويدل هومره وښوولاي شي اوپرځاي يې دنوي ژبښوونې يوه وزمه هومره خپره کړي داسې نوي ژبښوونه چې هم تخنيکي اومتوديکې نوښوالې لري اوهم ژبنې نوښوالې . او زماپه ازميښت ندي لاسوند چې ماولې دغه دوه اړخيز نوښوالې ته پريووار را ودانګل ، داديچې پواځې په دې يوه نوښوالې له زړې ژبښوونې او پښوې سره مبارزه بياهم نيمګړې وه . د ((حرف ياتوري ))ـ((مصدر)) ـ ((فاعل)) او ((مفعول ))غوندې کرغيړنې نومونې چې استاديې په ويلو او شاګردان ياشاګردانې يې په اوريدلو شرميزي نور هماغسې له دوړه او موده وتلې بريښې لکه پخپله دزړې ژبښودنې کرغيړن دوداو تخنيک .

که څه هم ددې نوي‌غورځنګ دغه دويم اړخ راته داپنځه شپږ کاله دسريه کاسه کې اوبه راکړې اودزړې لياري پلويانو مې دکوټلو لپاره همداپلمه ونيوله خوما هرڅه ديوه ((علمي بري)) په خاطر وزغمل او ټال مې پرځمکه کښې نښود . همدغه زغم اړتينګ هوډ اوويلاړ و چې تربري يې ورسولم او هغه داچې دغه نوي پښو به مې له ټولو نويو نومونو اوترمونو سره هم شاګردانو وسهلاي شوه او زده کړاي شوه او هم مې دشاګردانو شاګردانو . داد بپوهنځي دناپښتو ښانګوا و ځينو نورو پوهنځيو لپاره له همدغه ګرامر څخه لوستونه برابر شول او همداسې يې پسې دهيواد نورو لويرو ښوونيزو مرکرونو ته لاريید اکړه اولا پيدا کوي يې . دملالي ليسې پښتو ښانګې زما له همدغه ګرامر څخه يووتلې لوستليکي ګاپي کړ او دهغه ليسې په درسې کتابونو کې يې ورته ځاي ورکړ . بې له دې چې زما له شاګردانو څخه کوم يوه هلته ښکارندويې کړيوي . له دې ټولو خبرو سره سره زه بياهم خپله پښويه يوه بشپړه اوبې ((خو )) نه بولم اونه يې بوللاي شم . هماغسې چې زما

دغه پښتویه د پوهاند رښتین ترژباړونې نوي ده او دهغې ځاي یې ونیو همدغسې به په
ځا پس د دوکتور تزي هغه هم زما تردي ښوېوي اوځاي به یې ونیسي . مقصد یوه نویلاره
هومره مې وایستله اوس نو هر نوي ژبپوهاند او پښتو پېژندونکي پوهاند کولاي شي بې له کـــوم
سرخوږه دنوي ژبپوهنې دهماغه بیخي نوي ښوونځي په رڼا کې دلازیاتي نوي پښتو
ژبپوهنې او پښتو پښوونې په باب تازه نوښتونه او نو چارونه وړاندې کړي . نه یوازې
په ګړ هار بلکې په چار او کړن سره زما د دغوځاي ونیسي او په دې توګه دنوي نړۍ او
نوي پېړۍ له پوهې او تخنیک سره د پښتو او پښتنو په پېژندویې او روز دیدنه کې ترمـا
زیاته ونډه واخلي .

تل دې پرناپوهي باندې دپوهې بـــري
او پر زړو باندې دنویو لاسبــــــري

پوهندوی دوکتور مجاور احمد زیار
نادرشاه مینه د ۱۳۵٦ دکب ۱۵

سید مسافر

# پښــــويــه (گـــــــرامر)

پښويه دژپوهنې يوه ستره سپړيزه( تشريحي )برخه ده چې په دوديزډول پــه ښوونځيو او ژبنيو زده کړو ځيو (کورســو) کې ديوې ژبې يادهغې دمعياري ليکنې بڼې دزده کړې داسانتياپاره لوستل کيږي ، ياپه لنډډول :

پښويه ديوې ژبې له بيلا بيلو جوليزو توکونو او دودونو څخه غږيږي ياپه لنډډه ډول پښويه ديوې ژبې دړغاونې (جوړښت ) سپړنه( شرح ) ده چې دا سپړنه له درو اړخو څخه ترسره کيږي :

۱ـ غږ پوهه (فونو لوژي )٠

۲ـ ګړ پوهه( مور فو لوژي )

۳ـ غونډ له پوهه( سينتکس )٠

## لومـــــړۍ برخـــــه

## غږپوهه (PHONOLOGY)

غږپوهه په ټولـيز ډول ديوې ژبې لومړنې ساده توکونه(غږونه) کتې اوڅيړي اوپه لنډ ډول پردوو څانګو ويشل کيږي :

۱ـ اوازپوهه(فونيميکس) ٠

۲ـ سپڼپوهه( فونيتيکس )٠

اوازپوهــــه : اوازپوهه ديوې ژبې ارزښتناک غږونه (اوازونه) ترڅيړنې لاندې نيسي ٠

اواز :( فونيم) هماغه داوريدو وړسپــڼ ياغږدي چې دغږيزوغړو او ساهوا په مرسته پربووار له خولې راوځي پخپله کومه مانا نلري خو په ويو نو(کلمو) کې مانيز توپيرپيښوي لکه پوراو تور چې ديوه اوازپه بدلولو سره دوه بيلا بيل ويــونه دي ٠

سپڼپوهــــه : سپڼپوهه ديوې ژبې ټول غږونه يا سپڼونه که ارزښت ولري يا ونلري يومخيز ترڅيړنې لاندې نيسي دساري په ډول ( د ) دپښتو يو ارزښتناک غږ ( اواز) دي خو په وېن

یاڅپه کې له راز راز دریځ (موقعیت) سره بېلابېلې بڼې ځانته غوره کوي . داسې چې وینګ (تلفظ) یې دوې یا څپې په یوه برخه کې زور وروي او په بله کې کمزوري یانې کمزوري لکه په (دود) کې چې لومړي (د) تر دویم هغه غښتلی ویل کیږي او دویم . بیخې د (ت) وینګ ته نږدې کیږي . نود فونیټیکس له پلوه پر لومړي دویم او ... (دالونو) ویشو او د فونیمیکس له پلوه یې دهماغه یواځینی (دال) په توګه پېژنو .

په دې توګه هره ژبه یو ټاکلی شمیر اوازونه لري خو سپېنونه یې هرخومره کیــــدای شي .

د پښتو اوازونـــه : یوه ـ یواځینی ـ ګڼه لیکې معیاري پښتوټول ۳۶ اوازونه لري چــې پرڅلورو ډلـــو ویشل کیږي :

۱ـ څپلواك (واول) چې راپیداکیدل یې بې له کوم ستر هوایي بندیز څخــه ترسره کیږي او شمیرېې اووه رسیږي .

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| زور | a | لکه | سر | sar |
| زورکی | ə | لکه | تره | trə |
| الف | ā | لکه | کار | kār |
| اوږده ي | e | لکه | ادي | ade |
| لنډه ي | i | لکه | ښادي | šādi |
| اوږد و | o | لکه | اور | or |
| لنډ و | u | لکه | سور | sur |

۲ـ بیواك (کنسوننټ) چې له راپیداکید و یاله خولې څخه د راوتو پر وخت د ساهوا له بندیز سره مخامخیږي او شمیرېې (۲۷) ته رسي .

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ب | (بې | b ) | لکه | بر | bār |
| پ | (پې | p ) | لکه | پور | por |
| ت | (تې | t ) | لکه | تور | tor |
| ټ | (ټې | ṭ ) | لکه | ټول | ṭol |
| ج | (جې | j ) | لکه | جوړ | jor |
| ځ | (ځې | ǰ ) | لکه | ځوړ | ǰwar |
| څ | (څې | c ) | لکه | څار | cār |
| چ | (چې | č ) | لکه | چار | čār |
| خ | (خې | x ) | لکه | خول | xol |
| د | (دې | d ) | لکه | دود | dod |
| ډ | (ډې | ḍ ) | لکه | ډاډ | ḍāḍ |
| ر | (رې | r ) | لکه | زور | zor |
| ړ | (ړې | ṛ ) | لکه | ړوند | ṛund |
| ز | (زې | z ) | لکه | زر | zər |
| ژ | (ژې | ž ) | لکه | ژر | žər |
| ږ | (ږې | ẓ ) | لکه | ږیره | ẓira |
| س | (سې | s ) | لکه | سم | sam |
| ش | (شې | š ) | لکه | شل | šəl |
| ښ | (ښې | ş ) | لکه | ښل (زینه) | şəl |
| غ | (غې | ğ ) | لکه | غرمه | ğarma |
| ک | (کې | k ) | لکه | کر (کشت) | kar |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| گ | (گې g) | لکه | گر (ظلم) | gar |
| ل | (لې l) | لکه | لار | lār |
| م | (مې m) | لکه | موړ | moṛ |
| ن | (نـن n) | لکه | نن | nən |
| ڼ | (ڼـې ṇ) | لکه | بڼ | baṇ |
| هـ | (هې h) | لکه | هلک | halək |

۳ـ نیمواك (نیم واول) هغه اوازونه دي چې دخپلواکو او بیواکو دواړو دنده پرځاي کوي یا په بله وینا که په یوه څپه کی دزړي یاهستی (حرکت) کاروکړي د خپلواك بڼهـ غوره کوي که نه دبیواك. په ترتیب سره لکه په بیل bel اوبیا byā کـسـ دنورو خپلوانو ژبو غوندې پښتو هم دوه نیمواکلري :

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| و | ( w ) | لکه | ور | war |
| ي | ( y ) | لکه | یور | yor |

٤ـ غبرگغزونه ( دیفتونگونه ) هغه اوازونه دي چی دخپلواکو اونیمواکو په ملگرتیا منځ ته راځی اولکه پوستوي آوازونه یوواړ پتـلیز (پیوسته) له خولی راوځی. دیوه غبرگغز لومړي توك یو خپلواك او دویم توك یې یو نیمواك اوازوي اوداچی پښتو نیمواك اوازونه دوه دي نوبه دې توگه یې یو ډول غبرگغونه په و ( w ) جوړیږي اوبل ډول یې په ي ( y ) چی ټول شمیریې یوولسوته رسی.

لومړي ـ دی ( y ) غبرگغزونه :

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| نرمه یازوروالهي | ay | لکه | سړی | saṛay |
| اي | y | لکه | ځاي | zāy |
| درنه یازورکی والی ی | y | لکه | مړی | maṛəy |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ږی | oy | لکه | زوي | zoy |
| ږي | uy | لکه | بوي | buy |

دویم ــ ئو ( w ) غبرګږونه :

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| او | aw | لکه | لو | law |
| أو | ə w | لکه | کټـو | kaṭə w |
| او | üw | لکه | پړاو | paṛüw |
| او | ow | لکه | اوری | owrəy |
| یو | ew | لکه | ایو(ګاه ګل) | lew |
| یو | iw | لکه | تریو | triw |

څپـــــه : څپه، هجا یا سیلابـ هغه آواز غونډه (فونیمي ګروپ) دي چې یا یو خپلواك وي اویاله یوه خپلواك اویوه یاڅو بیواکو څخه جوړ وي اویه یو ځایـی ډول له خولې راوځــی لکه په ( آدم) کې چــې دوه زږي (خپلواکه) لري لومړی څپه (الف) اودویمه( دم) ده یاشخوند šxwand چې یوزږي ( a ) لري اوپنځه بیواکه تو یوه او زده څپه ګڼــل کیږي ۰ څپه هرو مرو مانا نلري د ساري په توګه کور هم یوه څپه ده او هم یو ویــی ځکه مانا لري‌مګر ( اـــغی ـــ زه ) په اغیزه کې دریواړه څپې ځانته جلا جلا مانا وي نلري ۰

خج یافشار( اکسینت ): خج هغه چار(عملیې ) ته وایي چې دوینیــــــر تو کونو په لړ کې یو ترك په زور او شدت سره وویل شي ۰

په دي توګه خج په درو ډولو وشل کیږي :

غونډاله ییــز( جملوي ) خج ــ وییز (لغوي ) خج او څپییز (هجا یـــــی )

خج لکه په ( زه پوهنتون ته ځم zə pohanṭun ta jə m. )کې یوغونــــډ له ییز خج راغلی او هغه هم پر ( u ) اوپه یوه وخت کې وییز خج هم دي ځکه د

غونډلی دنورووینو په ترڅ کی پیاڅی د (پوهنتون) ویی خج اخیستی او هم څپیزخج دي

ځکه دپوهنتون د دري ګونو څپو په ترڅ کی پیاڅی یوي څپی

خج تر لاسه کړي دي ۰

## دویمــــــه برخـــــه

### ګړ پوهه (صرف Morphology)

ګړ پوهه د پښتویی هغه برخه ده چی دګړونو (مور فیمونو) له رغاونی اوړون (ګرداٚن) او دهغو له ډیلونو (ټولونو) سره کار لري ۰

ګـــــــړ : ګړ هغه کوچنی دانیز ژبنی توك یا مانیز یوون (واحد) دي چی که وشنل شی اوازونه تري لاسته راځی اوپه دې توګه خپله مانا له لاسه ورکوي ۰

خانګـــــــی : ګړ پوهه دګړونو د ټولونو له مخــــی په دوو خانګو ویشل کیږي : یوه داوړید ونیو (ګردانید ونکو) ګړونو خانګه او بله دنااوړید و نیو ګړ و نو خانګه ۰ داوړیدونیو ګړونو خانګه بیا دوي برخی را اخلـــــی :

۱ــ نوم ګړپوهـــــه ۰
۲ــ کړ ګړ پوهه ۰

نوم ګړ پوهه :

په نوم ګړ پوهه کی دنومونو ټولونه اود هغه اوړ ونونه (ګردانونه) څیړل کیږي ۰

نـــوم : هغه ویی دي چی بی له زمانی اړیکی (دکړپه توپیر) د راز راز څیزونو او ښکارند و (پدیدو) څرګند ونه کوي لکه تیزه، لرګی، سړي، سرپیتوب، ښایست، روغ، روغتیا، روغوالی، زه، ته، دي، یو، دوه ۰۰۰۰

دنومونو ټولونـــــــد :

نومونه پرڅلورو ټولو (ګروپونو) ویشل کیږي :

۱ـ څیزنومونه (اسما٘) ۰

۲ــ ستاینو مونه (صفات) ۰

۳ــ شمیرنومونه (اعداد) ۰

٤ــ نومځیري (ضمایر) ۰

دنوم اوړون اړخونه :

نومونه په ترلیز ډول د درو اړخو (وجوهو) له مخې اوړون موي لکه نوزي ، ګڼه ، پیر ، خو څلورم ډول (نومځري) یې پرهغو سربیره دیوه بل اړخ (وګړي) له مخې هم ګردانیږي ۰

۱ــ نوزي (جنس) چې نوم نرینه دي لکه ګیدړ ، سور اویا ښځینه لکه ګیدړه ــ سره ۰

دنرینه نوم نښې : داوروسته نومونه زیاتره نرینه دي :

۱ــ چې وروستی اواز (فونیم) یې بیواک (کنسوننت) وي لکه : کور ، ختیځ ، هلک ، غښتل ، زیاړ ، هیواد ، غوږخنګ ، اوږمیز ، الاس ، پټ ، چرګ ، بیدوده (مستثنی) زیاتره دخپلوانو نومونه لکه : خور ، مور ، ترور ، نږور ، ندرور ، وریندار ، تندار ۰ یاهغه ښځینه نومونه چې په ریښه کې زیاتره خپل پای خپلواک غوږځوي لکه ستن ، ځنګل ، لار ، ترخځ ۰ همداراز ډز (ډزې) اومت (متهی) ۰

۲ــ له زورکي والی ی (ی) او ۱۷ ه پرته هرنوم چې په غبرګغبږ (دیفتونګ) پای ته رسیدلی وي لکه سړي ــ لرګی ــ ځای ــ بډای ــ زوي ــ لړي ــ ښاروندوي ــ پیژندوي (مشهور) بوي ــ خوي ــ کډو ــ لو ــ جړاو ــ پړاو ــ کړاو ــ نیاو ــ لیو ــ تیو ۰

۳ــ هغه نومونه چې په زور کی پای کیږي لکه تره ــ پسه ــ لیوه ــ زړاره ــ زړه ۰ بیدوده لکه : خوله ــ وباله ــ تراه ۰

٤ــ هغه نومونه چې په لنډو (u) پای ته رسي لکه چاکو ، تتهو ، یابو اردو (عسکري) ، لاتو ، لاهو ، کاهو ، ماکو ، پتهو ، پیښاور (مقلد) ، ماڼډو (باجه) ، ساهو (ازاد) ، بازو ۰

دښځینه نوم نښې : داوروسته نومونه زیاتره ښځینه نښې (پایلی) لري :

۱ــ له زورکی اولنډو (و) پرته هغه نومونه چې په خپلواکو (واولو) پای ته رسي لکه ادې ، ناوې ، خوزه ولې ، ښادي ، زروري ، ودانې ، وراني ، ښه ، پزه ، ښځه ۰

رنا ، برینښنا ، بیدیا ، لور تیا ، نخا ، خلا ، ورا ، بلا ، ژړا ، خندا ، غلا ، ملا (کمر) ، شا ، ویسا ، پښتیانا ، اریانا ، پیشو ، زانګو ، درخو ، بیو ، پیلبو (برینښنا) ، شادو ، بیزو ۰۰۰۰

بیدوده لکه: دادا (پلار) ، ماما ، کاکا ، لالا ، بیړا ، بړا (مقابل) ، بومیا (پیشرا) ، هوسا ، جلیا ، ملیا (باغوان) ، کونا ، رندا ، سبا ، میلمه ، کوربه ، غوبه ، لربه ۰۰۰

۲ــ د سسر په غبرګعز پای کیدونکی نومونه ، لکه: کټو (کټوه) ،

۳ــ په زورکی والی ی (غبرګعز) پای کیدونکی نومونه ، لکه: ووړی ، هوس ، کبلی (غزال) ، شړی ، مړی ، اوی (کور دخورد) ، ون (کلک دندوه) ، متهس ، ګدی (فاحشه) ، اریکه مسند ، قنجوغه) ، نجلی ، مخږ (بدلګري نجلی ، معما ، چیستان) ، نتکی ، شپیلی ۰۰۰۰۰۰

دګنهـــس (عدد) نښـــی :

الف ــ دنرینه ګنهس (جمع) نښی په داوروسته ډول دي :

۱ــ ان ، زیاتره هغه نرینه نومونه ډیرګړي (جمع) کوي چی بیواکپای اوساوالاوي ، لکه هلکان ، پړانګان ، مچان ، کبان ، چنګابنان ،

ځینی خپلواکپای نرینه نومونه لکه لیوان ، تیتوان ، اسان (اسونه) ، پسان (پسونه) ۰۰۰

۲ــ ونه ، زیاتره بیواکپای بی سا نرینه نومونه ډیرګړي کوي ، لکه سیندونه ، لونډونه ، میزونه ، کتابونه ، لاسونه ، نسونه ، سرونه ، پلونه ، خویونه ، بویونه ، توبونه ، وربږیونه ،

ځینی خپلواکپای نرینه نومونه لکه ترونه ، وربرونه ، زړونه ، ځینی ساوالا بیواکپای نرینه نومونه لکه پلرونه ،

۳ــ زورکی ، ځینی لنډ ځپیز اوخپلواک (وای) منځی نرینه نومونه ډیرګړي کوي ، لکه : خره ، غله ، دښمنه ، مله ، مړه ، وازره ، پښتانه ، شپانه ، خوازه ، تراخه (ترخه) ، زږه (زږه) ، ماغزه ،

۴ــ لنډه ي (ī) ، هغه نومونه ډیرګړي کوي چی په نرمه ی ay پای وي ، لکه نرګی ، سړي ، ځلمی ، نښتی ، غویی ، ویی ، توکی ، پیاوړي ، روي ، ګوي (غابنی) ، غابنی ،

د دي روستاړي بلګړ ان اوونه هم لز و ډیرراځی لکه ځلمیان غویان وییونـه خرییـونــــه ۰

۵ـ یان چې د ان بلګړ دي او ځینی غبرګغږ پاي او خپلواکپاي نرینه نومونه ډیرګړي کوي لکه میرزایان، اشنایان، سویان ۰۰۰۰

۶ـ ګان چې د ان یو بل بلګــړ دي او ځینی خپلـواکپاي نرینه نومونه ډیرګړي کړي لکه سنډاګان، لاټوګان، کدوګان، تېتوګان، ماماګان، کاکاګان، لالاګان، بیړاګا ن، ډاګان (ډډا)، بوډاګان ۰

بیدوډه لکه میلمانه، زامن ۰

ب ــ د ښځینه ګنهی (جمع) نښی په دې لاندي ډول دي :

۱ـ اوزده (ې)، هغه ښځینه نومونه جمع کوي چې په زوریا زورکی پاي ته رسی ۰ لکه : منهی، پزې، خولی، ویالی، ورانګی، خانګی، سانګی (نیزې)، پانګی، ډیوې، شنډې، سکروټی، پلی (پی)، توکی تکالی، غلی، ملی، خرې ۰۰۰۰

۲ـ زورکی واله ی y ، هغه ښځینه نومونه ډیرګړي کوي چې په لنډه ي پاي ته رسیدلی وي، لکه ودانی، خپلوی، ښادی، ناروغی ۰۰۰۰۰

۳ـ وې wo هغه ښځینه نومونه ډیرګړي کوي چې په الف یا اوزده (و) پاي ته رسی، لکه ژړاوې، خنداوې، ملاوې، نخاوې، زانګووې، پیلبوې، ښکالووې، پیــــــرزووې ۰

باګړیی ګانی هم راځی لکه شاګانی، نخاګانی، بریښناګانی، زانګوګانی، بیزوګانی، همداراز ورندارګانی، نندرورګانی ۰۰۰۰

٤ـ آنی، زیاتره هغه ښځینه نومونه ډیرګړي کوي چې پاي ته یی لنډه ي راغلی وي لکه بیبیانی، شادیانی ۰ او دیوي بلی نښی (یندي) د بلګړ په توګه، لکه : ډوبیانی، مزدورانی، ترورانی (تریندي)، مورانی (میندي) ۰۰۰۰

ه‍ــ یندئ هماغه بیواکیایه خپلوان نومونه ېرگړي کوي چی ورسره لندۍ ون مومی لکه میندي، خویندي، نزیندي، ترندي.

٦ــ صفر داماتا چی په زورکی واله ئ باندي پاي نومونه بی له کومی نښی د ېرگړي په توگه هم راځی. لکه : کړ کړ، چلی، ېوې، خپلی، تېرئ (واسکټ)، بلگړیس (یانی) هم یوځه دودلري. لکه : کړکیانی، چلیانی، کوچیانی، موچیانی، کبلیانی، کچنیانی، جینکیانی، تروړیانی (تروري).

بی د وده (مستثنی). لکه : نجونی او نجونه، لونی.

۳ــ پیر (حالت). چی نوم په خپل چاپیرال (غونډ یاغونډ له) کی څه حالت لري. لکه {پلوشه راغله، پلوشي ېوې وخوړه، دپلوشی وروړ ناروغ دي، له یوه لاسه ټک نه خیژي) دلته گورو چی (پلوشه، یو اولاس) څنگه خپل حالتونه او بڼی بدلوي.

په پښتو کی دیوه نوم پیردکړوال څار (فعلی عملی) اووینکو (اداتو) له مخی څرگندیږي او دپیرنښی یی هماغه پایلی یا روستاړي دي چی په پاي پوري یی نښلی. نومپیرونه په داوروسته ډولودي :

۱ــ کړندپیر (فاعلی حالت) لکه مخلصي ېوړئ وخوړه. مخلص راغی. مخلص ېوړئ خوري. په دریواړو غونډ لوکی مخلص کړند پیر لري یا په بله وینا په دریواړو ځایو کی مخلص کړند (فاعل) دي.

۲ــ لند کړی پیر (بی واسطه مفعولی حالت) لکه : بارك اوبه وڅښلی. بارك پلوشی ته لیکی (کتاب) ورکړ. خوازك پلوشه ووهله. په دي غونډ لوکی (اوبه، پلوشه او پلوشه) لند کړی (بی واسطه مفعولونه) دي یاپه بله وینا لندکړي پیرلري.

۳ــ لرکړي پیر (بالواسطه مفعولی حالت). لکه : ببرك زمرك ته لیکانی ورکړ. سنگ اخترك ته خبره وکړه. غرزي ماته روسی ژبه رازده کوي. په دي غونډ لو کی زمرك

اخك او (ما) ترکړي دي یا په بله وینا دغه د ریوار ه نومونه لرګړي پیرلري اویه هندغسې غږیدلسو کې (ایکانی ، خبره او رومن ژبه) لنډه کړي بلل کیږي ، یا په بله وینا دغه د ریوار ه نومونه لنډه کړي دي ،

۴ــ لوښسن پیر (الی حالت) : داماناچی د یوه لوښیی یا الی په و سیله یوکار ترسره شوي وي لکه ؛ تررباالی په بیاتی ژبل شو ـ بریالی په لیکانی یو لیک وکیښ ـ ګلخانګه په کاشرغه د وا ی خوري ، په دغه د رو بیلګو کی (بیاتی ، لیکانی او کاشرغه) لوښسن یا الی نومونه دي او په دې توګه لوښن پیر لري ،

۵ــ تولپیر (اضافی حالت) : هغه نوم چی یو شه ور پوري اړه لري ، تولنوم (مضاف الیه) ګڼل کیږي او تول پیر (اضافی حالت) لري ، لکه ؛ د وبالی اوږه بښ دي ، د زمري کور بنکلی دی ، د اسمان ستوري په وریځ کی پټیږي ، (وبالی ، زمري او اسمان) تولنومونه دي یا په بله وینا دغه د ونومونو تولپیر غوره کړي دي ،

۶ــ زتون پیر (مستابی یا مفعول منه حالت) ، داماناچی یونوم د یوه کار پیلیځ (منشا) ګرځیدلی وي ، لکه ؛ له کندهاره راغلم ـ له بنوسه زیږي ـ له بدو وانه زیږي ، دلته (کندهاره ، بنو او بدو) زتون پیرلري ،

۷ــ تون پیر (ظرفی یا مکانی او زمانی حالت) هم دارنګه مفعول الیه یا استقامتی او معیتی حالت) : هغه معال نوم یا ځاینوم چی د یوه کار ظرف ګرځیدلی وي او یا ورته یرکار متوجه شوي وي ، تونوم بلل کیږي او په دې توګه تون پیرلري ، لکه ؛ په کور کی څوك ناست په شپه کی ځلسك نه بریږي ـ زه د ورځی کارکوم ، دلته (کور ، شپه او ورځ) تونپیر یا ظرفی حالت غوره کړي دي ،

۸ــ بلن پیر (ندائیه حالت) : کله یوه نوم ته بلنه یا غږ شوي وي ، بلننوم (منادا) بلل کیږي او حالت ته یی بلنپیر وایی ، لکه ؛ ای هلکه ! په خلکو ! واحلمیه ! ، (هلکه ، خلکو او حلمیه) بلن پیرلري ،

یادښت : که یوه نوم په کوم پورتنی پیرکی خپلی ښځی ته بدلون ورکړی وي . او ښتی نوم بدل کیږي یا په بله وینا هغه نوم اوښتی پیر (مغییره حالت) لري او که اوښته یی نه وي موندلی نو ارنوم ورته وایی او حالت یی ار پیر (اصلی حالت) بلل کیږي .

دنوم پیر (اسمی حالت) ننس (پایلی) ، زیاتره له گڼی (جمع) هغو سره سمون لري . لکه ځلمی ــ دځلمی ، پلوشه ــ دپلوشی ، شپون ــ دشپانه ، غل ــ غله ...

پرته له ان اووي او د هغو له بلگړونو (لیوان ، سیندونه ، بیبیانی ، شادیانی ، ژړاوې) او دبیواکپایو ښځینه نومونو (میندي) .

ډیرکړي (جمع) نـو مونه بیا په یو مخیز ډول خپل اوښتی پیر په (و) ښیی .

لکه : دښځو ، سړیو ، هلکانو ، خویندو ، بریښناگانو ....

په دي توگه په ان ، وي ، ونه ، انی ، یندي او د دوي په نورو بلگړونو (الومورفونو) جمع کیدونکی نرینه او ښځینه نومونه له (بلن پیر) پرته نوره اوښتنه نلري . البته په بلن پیرکی بیواکپاي نومونه خپل پاي په زورونو (فتحو) روستاري کوي . لکه په هلکه ! په مورې ! په پښتنو ! داوښتونکو نومونو فورمول په دي ډول دي :

زه ، ته (دحال مفعولیت پرته) ، دي ، دا ، هغه ، څوك ، سړي ، ښځه ، پښتون ....

* وییکی (ادوات) یادلیږند تیرمهال کړند والی (متعدي ماضی فاعلیت) = ما ، تا ، ده ، دي ، هغه (په زورکی) ، هغی ، چا ، سړي ، ښځی ، پښتانه .....

نا اوښتونی (تغییر نه موندونکی) نومونه : ځینی داسی نومونه شته چی په یو گړې ښځه په اتو واړو پیرونوکی کوم جولیز اوښتون (تغییر) نه مومی او هغه دادي :

۱ــ الف پاینومونه : لکه کاکا ، ملا ، دادا ، پښتیانا ، اریانا ، پکتیا ، سبا ، یما ، کیشکا ، لوړتیا ....

۲ـ و ـ پای نومونه (لنډه یا اوږده) ، لکه زانګو ، بیزو ، درخو ، تښتو ؛

۳ـ درنه ي ـ پای نومونه ، لکه ؛ تجلی ، لیونی ، خوګی ، سپوږمی ...

۴ـ زورکی پای نومونه ، لکه ؛ نیکه ، تره ، زره ، وراره ، واده ....

۵ـ ځینې زورپای (ستای) نومونه چې هم ښځینه کاریږي اوهم نرینه اوخذاخه له دري سره ګډون لري ، لکه بابا ، بابه (بریان) ښایسته ـ ساده ـ پیاده ـ شهزاده ملیده ، کلیه ، غوږه ، بوډه .... پوهاوې دبان پیرله مخی .

۱ـ زاتوه بیواکپای ښځینه او ... یرپاکپای نرینه نومونه چې په زورکی نه بدلیږي کیږي لکه ؛ یه موږي ! یه تروږي ! یه خوري ! یه وروره ! یه پلاره !

۲ـ وي غیرګغږ ـ پای نومونه لکه ؛ یه زویه ! یه پرهندویه ! یه ساتندویه ! لویه ! سویه !

۳ـ زي غیرګغږ ـ پای نومونه ، لکه ؛ یه بریه ! یه خویه !

دنومونو څلورګونی ډلـــــــی ؛

لومړي ـ څیز نوم (اسم) ؛

څیز نوم چې دوډیز (عنیعني) ژبپوهان ((اسم)) بولي ، یوداسې نوم دی چې نیغ په نیغه دیوه څیز یا ښکارندې (پدیدې) نوم وړه (نامګذاري) اوخرګندونه کوي اود اورسته ډولونه لري ؛

۱ـ ټوټوم (ذات اسم) ؛ چې په یوه ننګیرید ونکي (حس کیدونکي) اړه لري ، یاپه بله وینا داسې یو څیز نوموي چې زموږ په حواسو حس کیدای شي ، لکه ډبره ، لرګی ، اوبه ، هوا اوداسې نور .

۲ـ مانا نوم (مانا اسم) چې په یوه نه ننګیرید ونکي (غیر محسوس) څیز یاپه لنډه وینا په یوې ښکارندې (پدیدې) پوري اړه لري او هغه نوموي ، لکه ښایست ، ښتیا ،

روغتیا ، هیله ، ننګ ، پت ، میړانه ، پیاوړیتوب ، رخه (کینه) ، خوښی ، خوز (درد) ، ویر ، زغم ، اندیښنه ، لوښ ، درناوي ، سپکاوي ، ښیګڼه ، بدي ....

٣ــ ځانګړنوم (خاص اسم): چې یو ځانګړي څیز ، پدیدې ، وګړي یا ځاي نوموي ، لکه پښتو ژبه ، پښتونواله ، خوازك ، زرمینه ، ننګرهار ، کندهار ، پکتیا ، هند ، ایران ......

٤ــ ټولنوم (عام اسم) . داس څیز یا ښکارنده نوموي چې ځانګړي او خاص نه وي بلکه ټولونه او ځیلونه ولري . لکه ونه ، هلك ، نجلی ، هیواد ، څاروي ، وګړي ، اولس ، تړون ، ژمنه ....  ...

٥ــ نوز نوم (جنس اسم): چې په یوه شمیرید ونکی څیز (جنس) اړه لري . لکه: زر ــ اوبه ــ اوسپنه ــ اور ...

٦ــ غونډنوم (جمع اسم) : چې یوه ډله او غونډ نوموي . لکه: ټولی ، ټولګی ، ګونډ ، ټبر ، ګورم (پاده) ، رمه ......

٦ــ انګینوم (صوت اسم): چې د طبیعي یا مصنوعي اوازونو انګی یا انګازه (پژواك) نوموي . لکه : درز . دروز . درزي . درزا . درزهار . ګړب . ګړوب . ګړبې . ګړبا . ګړبهار . ترپ . تروپ .....

دویم ستاینوم :

ستاینوم (صفت) چې په خپلواك ډول څه نه نوموي بلکی دیو څه څرنګوالی نوموي یا په بله وینا یو ستاینوم په یوه څیزنوم اړه لري او د هغه څرنګوالی ښیي ، لکه تود ، سوړ ، غټ ، ووړ ، تور ، سور ، ښکلی ، ښایسته ، غښتلی ، کمزوري ، روغ ، ناروغ ....

په پښتو کی ستاینوم د لوړتیاد پوړونو یا دلزوالی ، ډیروالی ، ستوالی او تونډوالی بیلا بیلی ښکاره د ريګونی د رجی نلري لکه په دري ژبه کی په ــ بهتر ــ بهترین یا بزرګ ، بزرګتر ، بزرګترین

له دې کبله يو پښتو ستاينوم د وړوکو ( اداتو ) په ملتيا خپل پوړونه يا درجـــې او طبقې ښکاره کوي لکه ښه ــ ډير ښه ــ لا ډيرښه يا سپين ــ ډير سپين ــ خوراسپيـــن ــ ترټولو سپين ــ زښت زيات سپين او داسې نور ٠

د ستاينوم ډولونه :

ستاينوم په دوه ډوله دي ، لنډ او لـــر ٠

لنډ ستاينوم ، هغه دي چې تر ځيز نـــوم دمخه اوورسره جوخت را ځي اولنډ په لنډه يې ستايي ، لکه توره ذړه ، روغ سړي ، ښکلې نجلۍ ٠٠٠

لرستاينوم ، هغه دي چې تر ځيز نوم وروسته راځي او له کړوالي برخې(مسند ) سره پيوستون لري ، که څه هم هماغه ځيز نـــوم ستايي ، لکه : ذړه توره ده ــ سړي روغ دي ــ نجلۍ ښکلې ده ٠٠٠٠٠٠

لرستاينوم زياتره د کړول ( قيد ) په توګه هم کارول کيږي لکه هلک پلنې راغـــې ــ اسمان په ستورو ( ښه ) ښکاري ــ پلوشه ( ښکلې ) پريښې ــ زه کورته ( ډير ) ځم ٠٠٠٠

د ستاينوم اونستايلي ( صفت او موصوف ) ګرداني سمون :

په پښتو کې ستاينوم ( لنډ يا لر ) اوستايلي يا هغه ځيز نوم چې ستايل کيږي ٠٠٠٠ د نوم اوړون د د روګونو اړخو ( نوزي ــ ګڼـــې ــ پيږ ) له پلوه سره زياتره سمون لري لکه : روندغل ــ ړنده غله ــ ړانده غله ــ ړندې غلې ــ د ړاند ه غله ــ د ړندې غلې ــ د ړندو غلو ٠٠٠٠٠٠

يا په نابشپړ ډول او يا ابزترلږه دیوه يا دووړ خوله پلوه ، لکه : لوي غل ــ لويه غله ــ لوي غله ــ لويې غلې ــ د لوي غله ــ د لويې غلې يا سپين غل ــ سپينه غله ــ سپين غله ــ سپينې غلې ــ د سپين غله د سپينې غلې ــ د سپينو غلو ٠٠٠٠

په دې توګه ځينې ستاينومونه له خپلو اړوندو ( مربوطو ) ځيز نومونو ( ستايليو ) سره بشپړ اوړون موي او ځينې نيمګړي ٠ لکه پـــه دې لښتيليک ( جدول ) کې :

| | | |
|---|---|---|
| شین خښکـــــی | – | شنه خښکـــــې |
| د شنه خښکـــــې | – | د شنو خښکیـــــو |
| شنه هندوانـــه | – | شنې هندوانـــې |
| د شنې هندوانـــې | – | د شنو هندوانـــو |

د ریم – شمیرنوم ( عدد اسم ) :

شمیرنوم هم د ستاینوم غوندې په خپلوا ك ډول کومه نومونه نه کوي بلکی په یوه ځیزنوم اړه لري ۰ خـــو د ستاینوم غوندې یې ځرنګوالی نه چی څومره والی او پوړوالی (تدرج) ښیی ۰ لکه یو – دوه – دري ۰۰۰۰ یا لومړي – دویم – دریم ۰۰۰۰

د شمیرنوم او شمیرلی ( عدد او معدود ) ګردانی سمون :

په پښتو کی شمیرنوم لکه لنډ ستاینوم ترخپل اړوند ځیزنوم( شمیرلی ) دمخه راځی او ډیر لږ ورسره اوړون مومی ۰ هغه دا چی لومړي دوه (یو) او (دوه) ورسره دنوزي او پیرله مخی ګردانیزي او نورپورته ورسره یواځی دپیرله مخی ، لکه په دې لښتیلیك کی :

| | |
|---|---|
| یوغل | یوه غله |
| دیوه غله | دیوې غلې |
| دوه غله | دوې غلې |
| د دوو غلو | د دوو غلو |
| دري غله | دري غلې |
| د درو غلو | د درو غلو |
| څلورغله | څلور غلې |
| د څلورو غلو | د څلورو غلو |
| ۰۰۰۰۰۰ | ۰۰۰۰۰۰۰ |

د شمیرنوم ډولونه :

شمیر نوم د اوروسته ډولونه لري :

۱ــ اَر شمیر (اصلی عدد) لکه یو ــ دوه ــ دري ــ څلور .....

۲ــ پوړ شمیر (وصفی یا رتبی عدد) چی د خپل شمیرلی پوړ اورتبه ښیی لکه :

لومړي ــ دویم ــ دریم ــ څلورم .....

۳ــ ووړ شیمر (کسري عدد)، چی دا ړوند ځیزنوم (شمیرلی) ماتوالی اوبرخه والی ښیی لکه دویمه ــ دریمه ــ څلورمه ......

لسی (دهه)، سلی (سده) زری (هزاره) یوډول گروی شمیر نومونه دي .

۴ــ ویش شمیر (انقسامی عدد) چی دا ړوند ځیز نومونو ویشنه او جوړه جوړه کونه څرگندوي اویه دي توگه د ووړ شمیر غوندي له ډیرگړیو (جمع) ځیز نومونو سره اړه لري نه له یوه سره لکه : یو یو ــ دوه دوه ــ دري دري ــ څلور څلور .......

۱ــ اټکل شمیر (تخمینی عدد) چی دیوه ځیز نوم (معدود) پرځای غبرگ غبرگ ځیزنومونه ښیی اوبوهم نه ټاکی لکه : یو دوه ــ یو دري ــ دوه دري ــ دري څلور ــ یولس ــ لس شل ــ شل دیرش ــ پنځوس شپیته ..... په دي توگه اړوند ځیز نومونه د دواړو شمیر نومونو ترمنځ اټکلیدای اوبیریدای (انتخاییدای) شی . یا لومړي یا دویم اویا د دغو ترمنځ .

دغه جوړه جوړه شمیرنومونه زیاتره پرله پسی وي لکه یو دوه ــ دوه دري اویاپه یوه ټاکلی اوعام منلی واټن سره لکه اته ــ لس یا لس شل مگر ښایی هیڅ یو پښتون دوه څلور ــ دري پنځه ــ څلور شپږ ..... ونه وایی . البته (یو) له هرپوړته شمیر سره جوړه کیدایشی خو هغه هم زیاتره دپیژند (حرف تعریف) په توگه چی اټکل ورسره په خرمه (ضمنی) ډول هم څرگندیږي .

## څلورم – نومځــــري (ضمير)

نومځري هغه وي دي چې د يوه نوم ښکارندوي کوي ' د هغه پرځاي راځــــي او يا يې ملګرتيا کوي ۰ او د همدغې د نديله مخې د نومونو په ډله کې ځاي نيسي ۰ له نورو نومونو (څيز نوم – ستاينوم او شميرنوم) سره د نومځري توپير دا دي چې د ا پر د رو ګونو ا ړخو (نوزي – ګنې او پير) سربيره د وګړي (لومړي – دويم او دريم) له مخې هم اوړون مومي ۰ (وينفريد او لرېس د ژبپوهنې قاموس ۲۴۹) ۰

د نومځرو ډولونه : نومځري د جولې او چارله مخې پر دي ورو ستيو ډلواو ډولو ويشــــل کيږي ۰

۱– ځانګړ نومځري (شخصي ضميرونه) ۰ چې د وه ډوله دي : غښتلي – کمزوري ؛

الف – غښتلي (منفصل) :

| وګـړي / ګڼـه | يوګـــــړي (مفرد) | | ډيرګړي (جمع) |
|---|---|---|---|
| ۱ | زه | ما | مـــوږ |
| | اريـــــر | اوښتش پيـــر | |
| ۲ | تــــه | تــــا | تاســـــې |
| ۳ نرينه | دي هغــه | ده هغـــه | دوي هغــوي |
| ۳ ښځينه | دا هغــه | دې هغې | |

ب – کمزوري (متصل) :

| وګـړي / ګڼــه | يوګـــړي | ډيرګـــړي |
|---|---|---|
| ۱ | مې | مو |
| ۲ | دې | مو |
| ۳ | يې | يې |

۲ــ تولنو مخري ( ملکي يا اضافي ضميرونه ) چې تول ( ملکيت ) اوارونډي ( متعلقيت ) ښيي · دغه نومخري هم پرغښتليو او کمزوريووېشل کيږي :

**الف ــ غښتلي ( منفصل ) :**

| گڼه / وګړي | يوګړي | | ډيرګړي |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | زما | | زموږ |
| ۲ | ستا | | ستاسو |
| ۳ | نرينه | د ده | د دوي |
| | ښځينه | د دې | |

کمزوري تولنومخري کټ مټ دځانګړيو کمزورو هغوغونډي دي لکه :

| گڼه / وګړي | يوګړي | ډيرګړي |
| --- | --- | --- |
| ۱ | مې | مو |
| ۲ | دې | مو |
| ۳ | يې | يې |

۳ــ نغوتنومخري ( اشاري ضميرونه ) : هغه نومخري چې وګړو يا څيزونو ته نغوته ( اشاره ) کوي اود هغو د نومونو ځاي نيسي اويا ورسره لکه ستاينوم ملګرتيا کوي نغوتنومخري د نوږدي ــ ګڼې ــ پير ــ اويواځې د دريم وګړي اوواټن ( فاصلې ) له مخې اوړون لري :

| گڼه / وګړي | | يوګړي: اريپير | يوګړي: اوښتي پير | ډيرګړي: اريپير | ډيرګړي: اوښتي پير |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۱ | لنډ | دغه | دغه | دغه | دغو |
| | | دغه | دغې | | |
| | لر | هغه | هغه | هغه | هغو |
| | | هغه | هغې | | |
| | لالر | هوغه | هوغه | هوغه | هوغو |
| | | هوغه | هوغې | | |

٤ــ پوښتنو مخري (استفهامي ضميرونه): چي د يوې پوښتني لپاره په کار لويږي او د وګړي ــ شيز ــ مهال ــ تون ــ څرنګوالي او څومره والي له مخي ډول ډول دي . اوړون يې زياتره يواځي د پيرله پلوه لږ و ډيرترسره کيږي :

ــ څوک (چا) ، چي د وګړي يا وګړو لپاره راځي چي څه يې کړي يايې کوي ياپري څه شوي يا کيږي . اوزياتره دپوښتني غونډلو (جملو) په سرکي راځي .

څوک راغي ـ راغله يا راغلل؟ . څوک ځي؟ ـ چا ويل؟ ـ څوک وايي؟ ـ څوک يې وواهه؟ ــ ووهله ياووهل؟ ـ څوک ووهل شو؟ ــ ووهل شوه؟ ــ ووهل شول يا ووهل شوي؟ ــ څوک وهل کيږي؟

څوک داړيك اوناتــك نومخري په توګه هم کارول کيږي او همدارنګه د پيژند (حرف تعريف) کار هم ورکوي لکه څوک مي وليد ــ نن يو څوک راځي .

ــ کوم: د وګړي يا وګړو ــ شيز يا شيزونو لپاره راځي چي د نورو پوښتنو مخرو پرخلاف پر پيرسرسبيره د نوزي له پلوه هم اوړون لري . لکه په دې وروستيوغونډلوکي :

کوم سړي راغی؟ کوم سړي وويل؟ دکوم سړي رنګ زيړ وي؟ کومه ښځه راغله؟ کومي ښځي وويل؟ دکومي ښځي رنګ زيړ وي؟ کومو ښځو ــ سړيو وويل؟ دکومو ښځو ــ سړيو رنګونه زيړ وي؟

ــ کله: چي مهال پوښتي او هيڅ اوړون نلري ، لکه کله به راشي؟

ــ چيري: چي تون (ځاي) پوښتي او هيڅ اوړون نلري . لکه چيري ځي؟

ــ څنګه: چي ديوه وګړي يا شيز يا يوه چار څرنګوالي پوښتي ، لکه څنګه راغي؟ څنګه راغله؟ څنګه کار دي وکړ؟ څنګه نجلۍ دي وليده؟ څنګه ليکي دي ويره؟

ــ څه: چي زياتره ديوه شيز يا وګړي پيژندنه پوښتي اوزياتره په ډيرګړي او نوز نوم (جنس اسم) پوري اړه لري، بې له دې چي خپله بڼه واړوي ، لکه: داڅه دي؟ داڅه دي؟ څه دې وکړل؟ څه دي راوړل؟ څه يې نرخ دي؟ څه يې ارزښت دي .

ــ څو: چي د وګړو يا شيزونو شمير پوښتي نو ځکه تل ډيرګړي دی لکه:

څو نجونې راغلې؟ څو هلکان راغلل؟ څو ختونه دې ويړل؟ البته څو په يوه بله مانا يو کړول (قيد)

هم نيي لکه خونه رانغلی وه نه راغلم چې څينې ليکوال په نامه د ول دعلتيه ويسکي په توګه

هم کاروي لکه د رمل وخبره ييږ خو (چې) روغ شيبه ...

... خبره چې زياتره د څيزونو ، وګړو شمير او د جنس (نوزي ) او همدا راز

د څرنګوالي او کيفيت ... (قيداو ...) لکه :

څومره ښه ... څومره شاګردان راغلل او ... څومره غنم دي راولړل ؟

څومره ښکلي ... څومره ...

ولي ؟ د ... ديوه چارد ... اوښودلو (عامل او سبب ) ويونستی لکه :

ولی راغلی ؟ ولی ... ولی ... ؟

... تفسير يا قيدوتي ... هغه ... دي چې له اره ديوه کړ

او چارسره ... په ... ( ... ) د ځانګړنو مخرو کار هم ورکوي او

هغه هم په ... (ښفوي ...) حال ... کې ...

... د ... ديوه وګړي (يوګړي يا ډيرګړي ) ښکاروندويی

کـــــــــوي :

| ګڼه / وګړي | يوګړي | ډيرګړي |
|---|---|---|
| ١ | را | را |
| ٢ | در | در |
| ٣ | ور | ور |

٦ــ ... (اداتي ضميرونه) چې له ويـکو (اداتو ) څخه منځ ته راځي

او داراز ... اداتو له چارو ... سره ... ځاي نيسي :

... (درأن ) چې ... په تون ... نسي لکه :

باغ راي دګلونو ... ناست واي زه ... (خوشال )

– پس (بسویش) چې نوم په تونپیرکی ښیی لکه د زهرو گولی خورم پس ( ملنګ جان )۰

– باندې (بالایش) چې یو نوم په تون اوهغه هم په پورتنی (استعلایی) پیرکی ښیـــــی لکـــه :

گل واي غوړېدلی باندې ملاست وایږه اوته (خوشال)۰

– پرې (بران) هم (باندې) ورته د نده پرځاي کوي لکه :

ماپرې سرکېښود – پیس می پرې پورد ي ۰

– پې (به ان) چې (په اوپرې ) هم ویل کیږي په یوه لوښنی (الی )پیرکی دیوه نوم ځای نیسی اوله (پرې ) سره یې په دې غونډه لوکی توپیر کولاي شو :

زه په ښتو لیکه کوم (من به پښتو می نویسم) زه پرښتو لیکه کوم (من د ربارهٔ پښتومی نویسم)۰

ترې (ازان ) چې یونوم په وتون او تون او هغه هم په کښتنی (استفلایی ) پیرکی ښیی ۰لکه :

ماترې واخیست – ماترې لاندې کېښود ځینی له دغوویېکو ځروسره پلوي نوځری هم مختیارې کیداي شی لکه را – د رـ وربا ندي ۰۰۰ مگر دوریکی پرځاي (ورکی) ویل کیږي لکـه له نورو اویسرېلوسره (ورلاندې – ورته – ورسره – ورځخه ۰۰۰)۰

۷– اړیک نوځري (ارتباطی ضمیرونه ) :چې په یوه غونډله کی د تیري یارا تلونکی غونډلی له یوه خیز نوم یا نوځري سره راز راز اړیکی ټینګوي ۰ په دې توگه په دې وروسته ډولـــو ویشل کیـــږي :

– چې : لکه خوازک چې د ببرك ورور دي ۰ ننګرهار ته ولاړ – ننګرهار یوه سیمه ده چې توده هوالري – زموږ هیواد په داسې ځاي کی پروت دي چې سمندر ته لارنلري – هغه کال ډیروداني وي چې ډیر اورښت ولري – زموږ هیواد د ومره ښکلی دي چې له سویس سره سیالی کوي ۰ زه د ومره کتابونه لرم چې له شمیره وتلی دي ۰

– چې یـــې : یوترښتی (ترکیبی ) یا دوه توکیزه (دوه جزیی ) اړیک نوځري دي ۰ چې هم په تیره غونډه له کی له راغلی نوم سره اړیکی ټینګوي اوهم د هغه کړندوالـــی (فاعلیت )، کړیوالی (مفعولیت) اوتولوالی (ملکیت یا اضافت ) خرگندوي ۰ لکه : پکتیا یوه داسې سیمه ده چې یې ځنګلونه نوم لري – سنګ ځکه بریالی شو چې یې زیار ایستلی و – ماشوم هله په ژړا شو چې یې مور وواهه ۰ په دې وروستی غبرگه غونډه له (مضاعفـــه جمله )کی

( چې یسی ) هم له ( هله ) سره اړیکی بنیی او هم دماشوم کړیوالی ( مفعولیت ) او تولوالی ( ملکیت له مور سره ) ؟

څوک چې : یوبل تربنتی اړیك نومحري دي چې یوائحی هغه وخت د څرمه غونډلی ( فرعی جملی ) په سرکی راځی چې تر آ ري دمخه وي نو ځکه وایو ( څوک چې خوب کړي نري کېس به زیږوي ) نه داچې ووایو ( نرکېس به زیږوي څوک چې خوب کوي یالکه اجمل ختك چې وایی : ( ځی ؟ هغه خوار وته جنت وګټو - څوك چې له موره دوزخیان پیدادي ) . د دي ګرامري بنه دا سی مفیداي شي چې دویمه ( څرمه غونډله ) پرلوموړۍ ( اري غونډلی ) دمخه کړو ( څوك چې له موره دوزخیان پیدادي - ځی هغه خوار وته جنت وګټو ) او یاداچې څوك تري وغورځوو ، په دي ډول دتورو ژبو لکه اروپایی هغو په پینبود نامسمو ... غونډه لوبیلګی دادي :

غرزي کند هار ته ولاړ ، څوك چې هلته خپلوان ګوري پتنګ په لوړي ګنه بریالی شو چاچې زیار ایستلی و .....

سړ یــــــس : غرزي کند هار ته ولاړ چې هلته خپلوان وګوري - پتنګ په لوړي ګنـــــه بریالی شو ، چې یی زیار ایستلی وه ........

همداراز چیري چې - کله چې - کوم چې - څــه چې - څوچې - څومره چې ...

د ... واخله ، لکه په دې غونډه لوکی : غرزي کند هار ته ولاړ چیري چې خپلوان ګوري - زه هیواد ته هغه وخت راستون شوم کله چې ډیره وچوبه وه - مایو لیکانی واخیست کوم چې بنه کارکوي - کار بنه دي څه چې نیکمرغی راوړي - پنځه کتابه می واخیستل څوچې زما په کاروو - دوه بنه غنم می وپیرل څومره چې می پیرلاي شول .....

سمــس بــــــس یی : غرزي کند هار ته ولاړ چې خپلوان وګوري - زه هیواد ته هغه وخت راستون شوم چې ډیره وچوبه وه - مایو لیکانی واخیست چې بنه کار کوي - کار بنه دي چې نیکمرغی راوړي - پنځه کتابه می واخیستل چې زما په کاروو .....

PROPERTY OF ACKU 5596

په دې ډول پښتو له آره همدا يو (چې) هم دا ړيك ويكې په توګه کاروي او هم يو، دا ړيكـــــــنومځري په توګه او د پورتنيو پوښتنو ځرو (څوك ــ كله ــ چيري ۰۰۰۰) ملګري كول ورسره بې ځايه دي په تيره په آره غونډه له اړ ا په دا سې ځرمه کې چې تر آري وروسته راځي۰ البته څوك ــ كله چيرې اونورپوښتنو ځري چې له (چې) سره ملګري كيږي يواځې د اړيكو ييكو (ارتباطي ادا تو) چار ځرګندوي نه دا ړيكو ځرو؟ لکه څه چې كړي هغه به وينـــــــي ــ څنګه غر هسې يې كړيوړي ــ هله به خبرشې چې تارو جبې له ورشې ــ چيري دي بنـــــــه هلته دي شپـــــه ! څومره چې ګوره اچوي هومره خوزيږي ۰۰۰۰۰

٨ـــغبرګون نومځرييا انعكاس ضميرونه :

هغه نومځري دي چې ډيره چار هم كړند اوس او هم كړي په پښتو كې دا راز نومځري نومونو ياځانګړنو ځروسره د ((ځان)) په ملګري كولو لاسته راځي چې زياتره په همدې يوه يوګړي (مفرده) بڼـه هرځاي را تلاي شي لكه : ځلمې ځان ژوبل كړ ــ ځلمې او زمري ځان (ځانونه) ژوبل كړل هغه ځان ژوبل كړ ــ هغوي ځان (ځانونه) ژوبل كړل ۰ د پوره څرګندتيـــــا لپاره له ځان سره (خپل) هم ملتيا كوي لكه هغوي خپل ځان ژغوره

٩ــ ناټيكمنو ځري (ابهامي ضميرونه) : چې ديوه ناڅرت (ناتعين) وګړي ياځيز لپاره راځي او د بيلا بيلو دندو له مخې په لاندې ډول دي :

ــ هر : چې زياتره په يوګړي اړه لري او د نوزي او پير له مخې لزو ډيراوړون لري، لكه هر ځلمې ــ هره پيغله ــ هرخت (كميس) ــ هره ګنډ ى (كرتى) ــ هري پيغلې ۰ په اوښتي ډيرګړي کې لکه هرو پنځوشاګردانو ته يو يو ليكې ورسيد ۰ يا زه په هرو دوو اوونيو کې سينمـــــاته ځم ۰

ــ بـــــــل : يواځې د شميريد ونکي يوګړي نوميرځاي راځي او يا ورسره د نځوتتر ځري غوندې ملګرتيا كوي ۰ لكه : بل ځلمې ــ بله پيغله ــ د بل ځلمې د بلې پيغلې ۰۰۰

ــ نو ر : یزاخی د ډیرګړي یانوز نوم (جنس اسم) ښکارندوی او ملګری کوي اوخه ناخه اوړ ون لري لکه نور هلکان ــ نوری پیغلی ــ نور غنم ــ نوره وسپنه ــ نوره خاوره ــ نوري اوبه ــ دنورو هلکانو ــ دنورو پیغلو ــ د نورو غنمو ــ دنوري وسپنې ــ دنوري خاوري ــ دنورو خاورو ــ دنورو اوبو ......

ــ ټـــول : دنورغوندې په ډیرګړي او نوز نوم اړه لري اوله لویدیزي پښتو پرته هماغسې اوړ ون مومی لکه ټول هلکان ــ ټولی نجونی ــ ټول تیل ــ ټوله خاوره ــ ټولی خاوري ــ ټولو هلکانو ــ د ټولو هلکانو ــ ټولو نجونو ــ د ټولو نجونو ــ د ټولو تیلـو ــ د ټولی خاوري ــ د ټولو خاورو ......

ــ واړ ه : دټول همانیزدي خوواخي د نوزي او پیرله مخی اوړ ون او اوښتون موی ــ لکه واړه هلکان ــ واړي نجونی ــ واړو هلکانو ــ واړو نجونو ــ واړه خاوره ــ واړي خاوري ــ دواړي خاوري ــ دواړو خاورو ......

ــ دوا ړه : تل دوګړي (تثنیـه) دي او د (واړه) غوندې په نوزي (جنس) او پیر اړه نلري لکه : دواړه هلکان ــ دواړي نجونی ــ دواړو هلکانو ــ دواړو نجونو ..

ــ څه : پر ... بوښتنو مخري سربیره یو ناوړیدونی ناټیک نومخري هم دي لکه : څه می ولیدل څه نشته ــ چېی نه کار هلته څه کار . څه له نورو ناټیک نومخرو او ځینو ستاینو مونو سره تړښتی ناټیک نومخري جوړوي لکه : بل څه ــ نور څه ــ هرڅه ــ هیڅه (هیڅ څه) لږ څه ــ ډیر څه .. همدا رنګه له پیژند (یو) سره لکه یو څـــه .

ــ څــوز : هم پر پوښتنو مخري سربیره یو ناوړیدونی ناټیک نومخري دي لکه : څو پیسې می په کار دي ــ څو میاشتی په کار دي چی زه کتاب ولیکم . څو له پیژند او ځینو ناټیک نومخرو سره تړښتی ناټیک نومخري جوړوي لکه : یو څو ــ هرڅو ــ هیڅو (هیڅ څه)...

ــ ځینی : د ډیرګړي او نوز نوم ښکارندوی کوي لکه ځینی شاګردان ځینی شاګردانی ځینو شاګردانو .....

ـ هیـخ : دیوه ناټاکلی څیز یا څیزونو نښتوالی ښیی او کوم اوړ ون نلري . لکه :

هیڅ هلك ، هیڅ هلکان ، هیڅ نجلۍ ، هیڅ نجونی ـ ـ هیڅ هلکانو ـ هیڅ نجونو هیڅ غنم ـ هیڅ غنمو . . . . .   له پیژندل(یو ) او زیاترو ناټیك نومځرو سره دلومړي ټـوك په توګه تړ ښتی ( ترکیبی ) ناټیك نومځري منځ ته راوړي لکه : هیڅ یو ـ هیڅه ـ هیڅو ـ هیڅو مره ـ هیڅ کوم ـ هیڅ بل ـ هیڅ نور ـ هیڅوك ـ هیڅکله ـ هیچیري ( هیڅ چیري ) هیڅ دواړه یا په دري ټوکیز تړ نګ ( دري جزئی ترکیب ) کی لکه : هیڅ کوم یو ـ هیڅ کوم څوك یا په څلورو ټوکیز تړ نګ کی لکه : هیڅ کوم یونیم ـ هیڅ کوم یو بل . . . . . .

ـ څوك : هم پروښتنو مځري ( او اړیکنو مځري ) سربیره یوناټیك نومځـري هم دي چی هم د څیزنوم ښکارندویی کوي او هم د پیژند ( ارتیکل ) لکه : نن څوك راغی ـ څوك یو کار کوي ، څوك بل ـ چا می لیکنی واخیست ـ څوك سړي راروان دي ـ څوك ښځه می ولیده . په نورو پیرونو کی لکه : چا ته می لیکی ورکړي دي خراوس می هیر دي ـ له چانه می لیکی واخیست بیا می هیرشو ـ خپل کار په چانه کوم ـ ځلمی له چا سره پروه لارنه ځی زه څوك نه وهم ـ پرچا کار نلرم ـ څوك چی بل چاته کوهی کینی پخپله پکی لویږي ـ له ما سره د چاڅه کار دي په شپه کی چاته ورتګ ښه نه دي . . . . . .

له پیژند ( یو ) او ځینو نو رو ناټیك نو مځرو سره هم تړ ښتی ( ترکیبی ) ناټیـــك نومځري جوړ وي . لکه : یو څوك ـ هر څوك ـ هیڅوك ـ بل څوك ـ نور څوك ـ څوك سړي ـ کوم څوك ـ کوم چا یا لکه پښتو ریان چی وایی : چا ظالم می ژبه پریکړه .

ـ سړی : پرڅیزنوم او ستاینوم سربیره یوناټیك نومځري هم دي او تر بلن پیره پوري په ټولو پیروو کی راځی لکه سړی دي هغه کوي چی څوك تري ونه خوریږي . بایـد له سړي له لاسه داسی کارونه شی چی وروسته پري پښیمان شی ـ د لته د سړي هره هیله نه پرځای کیږي سړي دی سړي ته ګوري او بیا دي ورسره هماغسی چلند کوي . لومړي دي سړی سړي ته پوزنه ورکوي او که ورس کړ بیا دي تري ژرنه غواړي ـ وسړیه ستاله چا سره څـــه کار ! له پیژند ( یو ) او ځینی نورو ناټیك نو مځرو سره تړ نګونه ( ترکیبونه ) هم

جوړوي لكه يو سړى دبخوات را دزومى — يوه سړي ته رازويل په كارنه دي — هرسړي (خو هر سړي پيدادي خپل خپل كار لره كه — خوشال ) — هيڅ سړي نه بنكاري — سړي سړي سم كارنه نه پريږ دي — له خوازك پرته بل سړي مى ونه ليد — څوك سړي زموږ خواته راځى — كوم سړي چى د سړي نه خونيږي شه په كارجى پرمخه ورځى — څه سړي غزنۍ را دزومى . يونيم سړي خپل زوند ته پام نلري — كوم نيم سړي مى ونه ليد — كوم يونيم سړي رانغى . . . . .

— پلانى او بيستانى هم له عربى او دري ( فلان — بهستان ) څخه پښتوشوي ناټيك نومځري بنكاري . . . . . .

— گډ تولنومځــــري ( اشتراكى ضمير ) : پښتو د دري غوندي له (( خپل )) څخه پرته وروپاوسوبيره ديره تولنومځري ( ملكى ضمير ) كار هم اخلى او دا چى دد ررواړ و وګړ و لپاره راځى نو ګډ تولنو مځري ( مشترك ملكى ضمير ) بللى بى غوره دي . لكه : شپون خپلــه رمه پيايى . رمه خپل شپانه پيژوله — هرڅوك په خپل كار كى خوبر دي — ځينى خلك خپل ځان نه پيژني — ځلمى په خپله خوږه كى كار كوي — خوازك خپل كورته ناوخته ځى — خوازك له خپل ورور سره بنارته ولاړ — بزي له خپلو ملګرو څخه منه وكړه — بزپالى له خپلــى خوښى څخه نه اوړي . ځينى پښيله ګناه نه پوهيږي خپل زبيږند او ناټيك ستاينوم په توګه هم كار ول كيږي لكه خپله لاسه ګله الاسه ! چى بيا هم يكى د تول ( ملكيت ) جاج ( مفهوم ) پروت دي . په تكراري ډول لكه په مخنى بيت كى ( هو هرسړي پيدادي خپل خپل كار لره كه ) خپل د نوزي او بيږله مخى بشپړ اوړون لري . خود ګــنهس له مخى نه . له (( ځان )) سره غبرګون نو مځري جوړ ري لكه خپل ځان بى ژوبل كړ او له دي سره سره هماغه تولوالى او بيژندوالى د نده هم ښزګند ري .

— تول — ځانګري نومځري ( شخصى — ملكى ضميرونه ) چى دغښتلــيو تو لنو مځرو او غښتليو ځانګر و يا نغوتنو مځرو په يوځاي كيدو سره جوړيږي اوپه دي توګه پريوموخت

ددوو دوو نو مځرو دنده پرځای کوي له همدي کبله دوه اړخیزاو ړون لري او هغه هم دنوزي ــ گنهي ــ پیراو وګړیله چي ځانګړي ورسره یواځي په دریم وګړي اړه لري ․ لکه :

۱ــ تول نومځري یوګړي ځانګړ نومځري :

| گنه / وگړي | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|
| ۱ | هغه<br>هغه<br>زمادي ــ هغه ( ده ــ هغه )<br>زمادا ــ هغه ( دې ــ هغې ) | زموز دي ــ هغه ( ده ــ هغه )<br>زموز دا ــ هغه ( دې ــ هغې ) |
| ۲ | ستادي ــ هغه ( ده ــ هغه )<br>ستادا ــ هغه ( دې ــ هغې ) | ستاسي دي ــ هغه ( ده ــ هغه )<br>ستادا ــ هغه ( دې ــ هغې ) |
| ۳ | دده دي ــ هغه ( ده ــ هغه )<br>دهغه دي ــ هغه ( ده ــ هغه )<br>ددې دا ــ هغه ( ده ــ هغې )<br>ددې هغه ــ هغه ( ده ــ هغې ) | ددوي دي ــ هغه ( ده ــ هغه )<br>ددوي دا ــ هغه ( دې ــ هغې ) |

۲ــ تولنو مځري ډیرګړي ځانګړ نومځري :

| گنه / وگړي | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|
| ۱ | زما دوي ــ هغوي | زموز دوي ــ هغوي |
| ۲ | ستا دوي ــ هغوي | ستاس دوي ــ هغوي |
| ۳ | دده دوي ــ هغوي<br>دهغه دوي ــ هغوي<br>ددې دوي ــ هغوي<br>دهغې دوي ــ هغوي | ددوي دوي ــ هغوي |

٣ـ تولنو مخري د ابیوګړي نغوتنو مخري :

| وګړي / ګڼه | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|
| ١ | زما دغه ــ دغه ــ دغې | زموږ دغه ــ دغه ــ دغه ــ دغې |
| ٢ | ستا دغه ــ دغه ــ دغې | ستاسې دغه ــ دغه ــ دغې |
| ٣ | د ده دغه ــ دغه ــ دغې | د دوي دغه ــ دغه ــ دغې |
| | د هغه دغه ــ دغه ــ دغې | |
| | د دې دغه ــ دغه ــ دغې | |
| | د هغې دغه ــ دغه ــ دغې | |

٤ـ تولنو مخري د لیریوګړي نغوتنو مخري :

| وګړي / ګڼه | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|
| ١ | زما هغه ــ هغه ــ هغې | زموږ هغه ــ هغه ــ هغې |
| ٢ | ستا هغه ــ هغه ــ هغې | ستاسې هغه ــ هغه ــ هغې |
| ٣ | د ده هغه ــ هغه ــ هغې | د دوي هغه ــ هغه ــ هغې |
| | د هغه هغه ــ هغه ــ هغې | |
| | د دې هغه ــ هغه ــ هغې | |
| | د هغې هغه ــ هغه ــ هغې | |

٥ـ تولنو مخري د لالریوګړي نغوتنو مخري :

| وګړي / ګڼه | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|
| ١ | زما هوغه ــ هوغه ــ هوغې | زموږ هوغه ــ هوغه ــ هوغې |
| ٢ | ستا هوغه ــ هوغه ــ هوغې | ستاسې هوغه ــ هوغه ــ هوغې |
| ٣ | د ده ،، ،، ،، | |
| | د هغه ،، ،، ،، | |
| | د دې ،، ،، ،، | |
| | د هغې ،، ،، ،، | |

او همداسې د دويم ټوك ډيرګړي هم اوړون مومی . دادي د تول ـ ځانګړنومځرو د پوره ځرګندتيا لپاره څو بيلګيزي غونډ لی (جملی) وړانديکوو :

ايمل : زما زوي ناروغ دي .

خوشال : زما هغه هم ناروغ دي .

ايمل : زما زوي ښوونځی ته ځی .

خوشال : زما دي لا کوچنی دي .

ايمل : زما وراره ښوونځی ووايه .

خوشال: زما هغه هم ووايه .

ايمل : زما ماما اس واخيست .

خوشال : زما هغه هم واخيست .

ايمل : زما وروړ ځلمی ته يو ليکی ورکړ .

خوشال: زما ده هم هغه ته يو ليکی ورکړ ـ زما هغه هم هغه ته يوليکی ورکړ .

ايمل : زماليکی ځلمی واخيست .

خوشال : زما دازمري واخيست ـ زما هغه زمري واخيست ـ زما داهم ده واخيست ـ زما هغه هم هغه واخيست .

ايمل : زما ورځنی ګټه سل افغانی ده .

خوشال : زماد ادوه سوه افغانی ده .

ايمل : د ده کور لري دي .

خوشال: د ده دا نژدي دي ـ د ده هغه هم لري دي .

ايمل : د هغه مور ناروغه ده .

خوشال : د هغه هغه هم ناروغه ده ـ د هغی هغه هم ناروغه ده .

ايمل : د دې وروړ زما ټولګيوال دي .

خوشال : ستادي بيا زما ټولګيوال دي .

ایمل : زما مور وپلار مړه دي .

خوشال : ستا هغه ژوندي دي .

ایمل : زما مور وپلار کوم رسمي کار نه کاوه .

خوشال: زما هغوي هم نه کاوه (زما دوي هم نه کاوه).

ایمل : زموږ کلی له ښاره لري دي .

خوشال: زموږ دا هم له ښاره لري دي .

ایمل : زموږ هغه دومره لوی نه دي .

خوشال: زموږ دا ستاسي له هغه څخه ډېر لوی دي .

ایمل : د دویم ټولګی شاګردانو کتابونه نه دي اخیستي .

خوشال: د لومړي ټولګی هغوي هم نه دي اخیستي .

ایمل : د دریم ټولګی شاګردانو خپل کتابونه بیرته ورکړي دي .

خوشال: د څلورم ټولګی هغوي خپل هغه بیرته نه دي ورکړي .

## لومړي کړاوونــه ( تمرینونــــه )

۱ــ پښویه یا ګرامر د ژبپوهنې کومه څانګه ده او له څه نه غږیږي ؟

۲ــ پښویه د څه لپاره لوستل کیږي ؟

۳ــ پښویه کومې څانګې را اخلې ؟

٤ــ غږ پوهه څه ته وایې ؟

٥ــ د ژبې لومړنې ساده توکونه کوم دي ؟

٦ــ د پښتو ارزښتاك غږونه یا اوازونه پرڅو ډلــو ویشل کیږي ؟

۷ــ نیمواك اوازونه څو دي او څنګه پیژندل کیږي ؟

۸ــ خج څه ته وایې او پرڅو ډوله دي ؟

۹ــ ایا خج په ماناکې ونجون ( بدلون ) راوړلاي شې ؟

۱۰ــ دالاندي توټــه په غږیزه ( فونیمیکه ) ابیخــې ولیکې او خجونه یې نښه کړي :

داخوجوته او منلې خبره ده چې پښتو دپښتونخوا یوه ډله او لرغونې ریه ده چې د زرګونو کلونو په اوږدوکې پرې پوهول را پول شوي دي . ډیر پوهان او لیکوال پکې منځ ته راغلي دي که څه هم ډیري تودې سړې یې لیدلې دي ، خو بیا هم دیوې غږنې ژبې په توګه کروره پاتې شوې او په هر تورتم پسې یې رڼا راغلې ده . دا په ټینګه ویلاي شو چې نن سبا پښتنې تولنه راخوځیدلې ده او له دې خوځون سره به یې ژبه هم هرو مرو مخ پرورانده ي د ومې .

## دویم کړاوونـــــه

۱ــ ګړ پوهه له څه نه غږیږي ؟

۲ــ ګړ پوهه لومړي پرکومو دوو څانګو ویشل کیږي ؟

۳ــ داوړید ونو ګړ ینو څانګه کومې برخې را اخلي ؟

٤ــ نو مګړ پوهه له څه نه غږیږي ؟

٥ــ د نوم اوړون ( اسمې ګردان ) اړخونه کوم دي ؟

٦ــ نومځري ( ضمیر ) د څو اړخو له مخې اوړون مومي ؟

۷ــ نوم څه ته وایې او کومې څلور بڼې را اخلي ؟

۸ــ څیز نوم او ستاینوم سره څه توپیر لري ؟

۹ــ نومځري څه ته وایې او په پښتو کې پرڅو بڼو ویشل کیږي ؟

۱۰ــ په لاندې ټوټــه کې هر ډول نوم ښــه کړي ، او ونوموئ :

بارك له ما څخه یو لیکې وغوښت ، خو ما تري وژغوره ، ځکه ټولګی یې را څخه بیل دي ، په ښوونځي کې د ، د ، د اد ریم کال دي او زما د ادویم . له یوه ټولګیوال سره یې هم چال چلند سم نه دي ، دې خورا چړغلګر دي او د یوه بل خبریال ، د یوه خبره یوه ته وړي او د بل بل ته . کله یې له یوه سره اخ وډب وي او کله یې له بل سره . څوك تري ارام نه دي له هرچا سره چې یو ځل کښیني بیا یې نوروته ویاراوید وایې . دغله په غره کې ځای نشتــه . پریږ بوتـــې سپيهم متیازی نه کوي . هرسړي ته په کار دي چې خپل کارته پام ولري او د بل په کار کې ځان ګډ نه کړي . زینیاران وایې :

د خوارې کونډې زویه ــ خپلې روټـــې ژویه !

## دکړ ګړېوهنه یا دفعل صـــرف ( CONJUGATION )

په کړ ګړېوهنه کی دکړ له راز راز ډولونو او اړونو نو (ګردانونو) څخه خبري کیږي ۰

کـــــــړ : هغه ویی (لغت) دي چی د زمانی په چوکاټ کی د یو څه پیښېدنه څرګندوي ۰ داچی دکړ جاج (مفهوم) بی د زمانی له ملګرتیا نه پوهېدل کیږي نو ځکه کړ ته مهال ویی (دزمانی لغت) هم وایی ۰

## کړنو مونکـــــــی :

په پښتو کی یو کړ په مصدر (ناپاي) نومول کیږي له همدي کبله مصدر ته کړنو مونکی وایو ۰ په عربی کی یو کړ دخپل تېر مهال (ماضی) د لومړي وګړي په یوګړي ځیل (مفرده صیغه) یادیږي لکه ضرب — نصر ۰ پخوا په الماني او پارسی کی کړنو مونکی پخپله دکړ ریښه وه خو اوس په دغو دواړو ژبو کی د پښتو غوندي یو کړ دخپل مصدر په نامه نومول کیږي لکه : تون — کردن — کول ۰۰۰۰۰۰ د مصدر جوړښت او ونډه : په پښتو کی یو مصدر په یوه یوګړیز (مورفیمز) روستاړي (ل) پېژندل کیږي ۰ دغه روستاړي په کړولي (فعلی ریښی) پوري سیده نښلی په دي اړ (شرط) چی کړ ساده یا په بله وینا یوګړیز یا یومورفیمیزوي او که بیلښتی او تړښتی (اشتقاقی او ترکیبی) زي نو مصدري روستاړي (ل) په مونډ (تی) پوري نښلی ۰ سیده په کړولي پوري لکه : موندل — وهل — خوړل په مونډ پوري لکه : غوڅول اوبول — کښېناستل — پرېوتل — یو ځای کول — لاسته راوستل — تود تود کیدل — نیغ نیغ کیدل پخلا کیدل یا کول ۰۰۰۰۰۰

د مصدر ونډه هم دا ده چی یو کړ ونوموي ، کټ مټ لکه ونه — ډبره — سړي — کندهار ۰ داچـــــی مصدر د یو څه کړنه او پیښېدنه څرګندوي نو د کړنی او پیښېدنی نوم دي نه پخپله کړ ځکه په زمانی پوري اړه نلري ۰ داچی د ودیزو (عنعنی) ژبپوهانو مصدر له خپلی ویېزي (لغوي) مانا سره سم دکړ د بیلا بیلو بڼو (زیږنده) او یا بنسټ بللی دي یوې سرو مله

خبره ده. د کړ ښت هماغه کړولی (فعلی ریښه) یا کړ سونه (فعلی تنه) ده چې په اصطلاح مصدرتري د (ل) په ورښلو جوړېږي.

که مصدر په رښتیا سره د ټولو فعلی بېلو نو او ښوونې اوزېږنده واي نو باید په هره ښه کی روغ رمټ پاتېداي حال دا چې موږ ګورو چې یواځی کړولی (فعلی ریښه) یا مونږ (فعلی تنه) په هره ښه کی خپل شتوالی ساتلای شی لکه وهـ په وهم — وهو — وهې — وهی — وهې یا وواهه — واهه — وهلی دي او داسې نور وکی. له دي کبله د مصدر پرځای کړنوم یا کړنوموونکی ویل په کار دي ځکه همغه یې دنده ده د (ناپای) په نامه یې یادول چې د لاتین (INFINITIVE) اړونه ده هم دومره ناوړه نه ایسی ځکه یو ناپایه او ناټاکلی کړنه او پېښېدنه څرګندوي او ښودنه کوي، نه په وګړي اړه لري نه په زمانی او داسې نورو ګردانی اړخونو. که د مصدر نوم ونه پرکړنوم واړوو ښایی له نورو ټېرو کړنو مونو سره یې ګډون راشی لکه خوړنه — خوړانه — خوړنګ — خوړونکی — خوړلی — خوړ — خوړ — خورنده — خورندي — خوړکه او داسې نور چې د خوړل غونډي له خوړ او خور ولی (ریښی) څخه جوړ شوي دي.

پښتو مصدر د یوه نوم په توګه تل ټیرګړي نه نه دي او یواځی د پېر (حالت) له مخی اوړون موی لکه ټیرو (لوستلو) ستومان ګړم یا د عبدالقادر ختک په شعر کی:

مه شه خوښ د پادشاهی پرتخت (ختلـو)

همیشه یی غم کوه د (پریوتلـو)

د کړ او ړونی توکونه او اړخونه:

یو اوړون مونډلی (ګردان شوي) کړ تر ډالسو توکونو پوري په جولیز اوښکاره ټول یاناښکاره ټول په خپل ځان کی ځایو لای شی چې څه ناڅه د هماغو له مخی رازرازېنی اواوړون موی او هغه توکونه دادي:

۱ — مخکړ: چې د کړیو بشپړوونکی او پلو ټاکونکی توك (جزء) ګڼل کیږي لکه کښې — په کښیناستل او کښی وتل اوري — په پریوتل اوپرېولل یا پرېښودل کی.

٢ـ ولی‌یا ریښه : چی د کړ ریښتینی بنسټ دي لکه خور ـ یا خوړ ـ
په‌خورم ـ خورو ـ خوري ۰۰۰۰ او وخوړ ـ خوړ ای ـ خوړلی او دا سی‌نورو کی ۰

ولی پردوو ډولو ده : یوه لومړنۍ یا اوسمهال ( حال ) ولی لکه خور ـ اغوند ـ
بله دویمه یا تیرمهال ( ماضی ) ولی لکه خوړ ـ اغوست ـ دواړي ولی په‌ګډه دیوه راز کړ
اوړون ( ګردان ) بشپړوي او ستر مهال کړ ( مستقبل فعل ) کومه جلا ولی نلري بلکه هماغه
اوسمهال ولی یا لومړنۍ ولی ورسره شریکه ده . دویمه ولی پردي سربیره چی ګرد تیرمهال
کړونه تري جوړیزي داوسمهال او اوسترمهال بیچارکړونه ( مجهول افعال ) هم تري جوړ بنسټ
مومی ۰ کړنومونه بیا له دواړو ولیو څخه لزوډیرمنځ ته را ځی‌د کړنوموونکی یا مصدر جوړ بنسټ زیاتره
تیرمهال‌ولی څخه دوډ لري لکه خوړل ـ لیدل ـ تلل ۰ دلته لیدل له لید ـ ولی څخه
جوړ شوي چی دویمه‌یا تیرمهال ولی ګڼل کیږي او لومړنۍ یا اوسمهال ولی یی ( وین ـ )
ده د دغو ولیو پارس انډولونه دید ـ او وین ـ دي ۰

٣ـ مونـــډ : چی د مخکړیاولی اووګړیزي پایلی ( شخصی‌خاتمی ) ترمنځ
بل کوم توک په‌یو ځای‌کولو منځ ته راځی په بله وینا که له‌یوه تیرمهال ګردان شوي کړ څخه
وګړیزه‌یا بله کومه پایله وغورځول شی ۰ پاتی برخه‌یی مونډ بلل کیږي ۰ په دي توګه مونډ زیاتره
د تیرمهال کړ بنسټ جوړوي اوپه اوسمهال کی په ساده ډول له صفر یا ولی سره برابر دي لکـــه :
کښیناست ـ په کښیناستم یا کښیناستو او زبیزید ـ په زبیزیدم ـ زبیزیدو وزبیزیدم ـ وزبیزدو
وزبیزیدای یا اغوست ـ په اغوستم ـ اغـوسته ـ واغوست ـ ۰۰۰۰۰ کی ۰ داوسمهال مونډ
لکه څملو په څملوم ـ څملوو ۰۰۰۰۰ کی ۰ که په ځینو ګړدودوکی کښیناستلم ـ کښیناستلـــو ـ
زبیزیدلم ـ زبیزیدلو ـ وزبیزیدلو ـ او داسی نور ویل کیږي نو مونډ یی بیا کښیناستل ـ او
زبیزیدل ـ راځی ۰ البته په ځینو ګړدودونو کی دغه‌راز ( ل ) د مونډ ضروري توک ګڼل‌کیږي
او غورځول یی مانیزه نیمګړتیاراولی لکه ماویاله وکینله ما سندره وویله ماوزمه ورتله ۰۰۰ مګر
که وکینده اوولوسته وویل شی مونډونه‌یی هماغه کیند او لوست راځی ۰

۴- کړتـــړ : چې زیاتره دیوه خپلواك اواز په بڼه دمونږ اووګړیزي پایلـــې ترمنځ کله کله پیښیږي لکه زورکی په کښیناستم او پریوتم کې ۰ مونږ پرمخکښ اوولس سرپیره دځیل ( ٦ ) لیزد ( ۷ ) مهال ( ۸ ) اولیزند چار ( ۱۲ ) توکونه او چارونه هم را اخلی ۰

۵- دود : چې دکړ دخرګندولو ډول ښیــی لکه خبري او ناخبري (غو ښتنـــ ـ پوښتنې- هیښنی ـ امري- ارمانی ـ ګومانی ـ ټینګاري یا تاکیدي ـ شرطی همیشنی- ووزدنی یا اعتیادي) لکه : ماډوډۍ وخوړه وخوړاي- وخوړه ۰ اوداسی نور ۰

٦- ځیـــل : چې دکړ (مسند) او کړندیاکړي (مسند الیه) ټاکه کوي ۰ په دې مانا چې کړ چارواك (معلوم) دي که بیچار (مجهول) اویا منځوال (انعکاس) چارواك لکه ببرك زمري وهی ـ زمرك وهل کیږي ـ زمرك ځان وهی ۰ په لومړي غونډه له (جمله) کـی کړ په کړند (ببرك) استناد کوي په دویمه کی په کړي (زمرك) اوپه دریمه کې هم په کړند اوهم په کړي چې دواړه هماغه یو وګړي (زمرك) دي ۰ ځیل په جولیز اوناجولیز ډول دمونږ ویتوك دي ۰

۷- لیز د : په دې مانا چې کړ لیزند (متعدي) دي که نالیزند (لازمی) لکه سمندر سندري وایی او سمندر راغی ۰ لیز د په جولیز یا ناجولیز (غیر شکلی) ډول دمونږ یوه برخه جوړوي ۰

۸- مهـــال : چې دکړمهال یازمانی اړیکې (ارتباط) خرګند وي په دې مانا چې کړ په کوم مهال کی پیښ شوي دي لکه څوکري ولاړ- څوکري ځی ـ څوکري به ولاړ شی ۰ دپښتو کړ مهالونه په تولیز (عموص) ډول دري دي :

۱- تیرمهال : چې په بشپړ ـ نابشپړ ـ لنډ اولرویشل کیږي ۰

۲- اوسمهال : چې په بشپړ اونابشپړ وشنه موږ ۰

۳- اوسترمهال : چې داهم دوه ډوله لري بشپړ اونابشپړ ۰

دمهال توك په مونږ کی راځی لکه په ودریدم یا ودریدلم کی (د) یا (دل) او په ودریږم یا ودریږو کی (ږ) ۰

۹ــ وګړي یاشخص : چې کړنډ یاکړي لومړي وګړي (متکلم) دي دویم وګړي (مخاطب) یادریم وګړي (غایب) ... لومړي وګړي (زه ــ موږ) ــ دویم وګړي (تهٔ ــ تاسې) اودریم وګړي (دی ــ دوي) ، دوګړي نښنه چې وګړیزه پایله بلل کیږي دکړو روستی برخه جوړوي لکه (م) او (و) په راغلم اوراغلو کې .

۱۰ــ نوزي یا جنس : چې وګړي نرینه دي که ښځینه ، په پښتوکړ کې یوازې د دویم ولې په اوړون کې دغه توپیر کیږي لکه شینکي راغله ــ ژیس راغی چې دلته (زور) اوي نوزیز توکونه دي په دې توګه نوزیز توکله وګړیزي پایلې او ګیس سره ګډ اوپای ته راځي .

۱۱ــ ګڼه یا عدد (افراد وجمع) : چې وګړي یوګړي (مفرد) دي اوکه ډیرګړي (جمع) ، یوګړي لکه هلك راغی ډیرګړي لکه هلکان راغلل . ګڼه یوازې په لومړي او دویم وګړي کې توپیریږي نه په دریم کې لکه هلك ځي ــ هلکان ځي .

۱۲ــ لیږندچار یا صناعیت (کوزاتیف) دکړ هغه برخه یاتوك دي چې په مونږ کې راځي او یو لیږند کړ دویم ځلې لیږند (متعدي) کوي لکه دپارسي په خوراندن یاخواباندن کې (ان) پښتو سیمدلاسه دننګرهار ګړدود او خوشال ختك په استاد یوازې دوه لیږندچار کړونه لري لکه خوروِل (خوراندن) او ویېول (ګویاندن) . په نورو کړونو کې دغمراز ځرګندونه یوازې ... ییکو (اداتو) په وسیله ترسره کیږي لکه ماپرځلې خپله خبره ومنده (من برخلاص سخن خود را قبولاندم) په دې توګه یو لیږند چارکړ دوه کړنده (فاعله) او دوه کړیه (مفعوله) لري .

لکه په پورتنی بیلګه کې ما او ځلې کړندونه او خبره کړی ده او په یو مثال کې بیا ځلې او خبره دواړه کړي دي . ځینې حکمې لیږند کړونه بې له ویکو هم دلیږندچار دنده پرځای کوي لکه ماوژړوله ــ ماوخندوله او داس نور . یا داسې هم ویل کیږي : ځلې دورځانې په خبرو راوسته مانا دا چې خبري یې پرې وکړي .

۱۳ــ دنفی یا نهی توك (نه) یا (مه) چې زیاتره دمخکړ یا تړښتی او بیلښتی توك ترمنځ راځي لکه : کښې نه ناست . پانه څید . وانخیست . رانغی . مه خوره .....

کړاو (تمرین ):

| ړا | پاڅ | پـــــــــــد | ــ زورکی | ؟ |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ٦ــ۷ــ۸ــ۱۲ | ٤ | ۵ــ۹ــ ۱۱ |
| | ۲ | | | |

یادونه: نوزي (۱۰) په یوه بله بیاګه (راپاڅیدله) کې موږ چې له ۹ــ۱۰ او ۱۱ سره ګډ ون لري ۰ همدارنګه دنفی توك (۱۳) په (راپانه څیدله) کې راتلاي شي ۰

اوړ ونونـــــــه (ګردانـــونـــــــه)

لومړي ــ تیرمهـــال: چې له دویمی یا تیرمهال ریښی څخه دنو موړ و دیالِس ګونو توکونو او اړخونو په پام کې نیولو سره جوړښت او اوړ ون مومی ۰

الف ــ له لیږند خوړ ــ دویمی ولی څخه ۰

ا ــ خبـــــري ۰

۱: بشپړ تیرمهال (مطلقه ماضی)

| | ګنـــه / وګړي | یوګـــــړي | ډیرګـــــړي |
|---|---|---|---|
| چاروال | ۱ | ما وخوړ ــ وخوړ ه<br>وخوړ ل ــ وخـــوړي | موږ وخـــوړ ــ وخوړه<br>وخوړل ــ وخوړي |
| | ۲ | تا وخوړ ــ وخــوړ ه<br>وخوړ ل ــ وخوړي | تاسی وخوړ ــ وخوړه<br>وخوړل ــ وخوړي |
| | ۳ | ده ــ دې وخوړ ــ وخوړه<br>وخوړل ــ وخـــــوړي | دوی وخوړ ــ وخـــــوړه<br>وخوړل ــ وخـــــوړي |

بیچار

| وګړي / ګڼه | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|
| ۱ | زه وخوړل شوم | موږ وخوړل شو |
| ۲ | ته وخوړل شوې | تاسې وخوړل شوئ ـ سوا ست |
| ۳ | دی وخوړل شو<br>دا وخوړل شوه | دوی وخوړل شول<br>دوی وخوړل شوې |

منځوال

| وګړي / ګڼه | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ما ځان وخوړ | موږ ځان وخوړ ـ ځانونه وخوړل |
| ۲ | تا ځان وخوړ | تاسې ځان وخوړ ـ رر رر |
| ۳ | ده ـ دې ځان وخوړ | دوی ځان وخوړ ـ رر ر |

یادښت : لکه څنګه چې موږ وليدل په تيرمهال کې چاروال کړ د بيچارکړ غوندې د کړي (مفعول) تابع دي نه د کړند لکه ماښکې وخوړ ـ ما ښځې وخوړل ـ ماهندوانه وخوړه ـ ما هندوانې وخوړې ... داچې ځينې بهرنې پښتوپوهان د پښتو ليزند تيرمهال کړ (متعدي ماضي فعل) تل بيچار (پاسيف) بولي . د دوکتور تزي په وينا يوه بې سروبوله خبره ده ځکه چاروال ليزندې نه بيچار هغه سره توپيرلري او هغه داچې دکړند پخپله دکړ اينې (مسنداليه) دي . اوکړند پير هم بنيې نو بايد داسې ووايو چې د پښتو د تيرمهال چاروال ليزندکړ (ماضي متعدي معلوم فعل) پايلې له کړي (مفعول) سره سمون لري .

۲ : نابشپړ تيرمهال (هميشني ماضي) : نابشپړ تيرمهال د بشپړوالي (مطلقيت) له (و) پرته نورد بشپړ هغه غوندي جوړ ښت مومي بيچار يې د بيچارکړ نوم په لنډه ون (خوړل) د مرستيالکړ (کيدل) په ملګرتيا جوړيزي اوو ګړيزي پايلې هم په دغه مرستيال کړپوري نښلي :

چاروال

| گڼه / وگړي | یوگړي | ډیرگړي |
|---|---|---|
| ۱ | ماخوړ - خوړه - خوړل - خوړي | موز خوړ - خوړه - خوړل - خوړي |
| ۲ | تاخوړ - خوړه - خوړل - خوړي | تاسی رر رر رر |
| ۳ | ده - دي رر رر | دوي رر رر رر |

بیچار

| گڼه / وگړي | یوگړي | ډیرگړي |
|---|---|---|
| ۱ | زه خوړل کیدم | موز خوړل کیدو |
| ۲ | ته خوړل کیدي | تاسی خوړل کیدئ - کیدأست |
| ۳ | دي خوړل کیده<br>داخوړل کیده | دوي خوړل کیده - کیدل<br>دوي خوړل کیدي - کیدلی |

منځوال ؛ ماځان خوړ - موز ځان خوړ ........

۳ ؛ روز دنی (اعتیادي) تیرمهال ؛ داهغه رازکړدي چی دهمیشه والی ترڅنګه د روز دتیا (اعتیادي) جاج (مفهوم) هم را اخلی په دي‌توګه داراز کړ ته روز دنی همیشنی کړ هم وبلاي شو . له هس عادي همیشنی کړ سره‌ین توپیر داچی ترکړ دمخه پري د (به) وییکی هم زیاتیزي .

چاروال

| یوگړي | ډیرگړي |
|---|---|
| مابه‌خوړ - خوړه - خوړل - خوړي | موز به خوړ - خوړه - خوړل - خوړي |
| تابه رر رر رر رر | تاسو به رر رر رر رر |
| ده - دي به رر رر رر | دوي به رر رر رر رر |

| | | ډيرګـــړي | يوګـــړي |
|---|---|---|---|
| بيچار | ١ | موږ به خوړل کيدو | زه به خوړل کيدم |
| | ٢ | تاسې به خوړل کيدئ ـ کيداست | ته به خوړل کيدې |
| | ٣ | دوي به خوړل کيده ـ کيدل | دی به خوړل کيده |
| | | دوي به خوړل کيدې ـ کيدلې | دا به خوړل کيده |

مثلاً: لکه دا به ځان خوړ ......

٤ : لنډ تيرمهال (قريبه ماضي) : د دې مهال کړ د چارا و پيښنګ له مخې کله داسې وي چې په تيرمهال کې يو څيز بشپړ شوی وي او يا دا چې تر اوسمهال يې هم څه اوږدوالی موندلی وي ، رغيدنګيې دا ډول دي چې له بيچارکړ نوم (مفعولي صفت) ((خوړلی)) سره مرستيالکړ (ول) په اوسمهال کې اوړون مومي ، په بيچارکې يې پردې سربيره دويم مرستيالکړ (کيدل) يا (شول) ورسره هم اوړون کوي او د دې لپاره چې وګړيږي پايلې په دواړو مرستيالکړونو پورې نښلي نو دا ستاپاره د بيچارکړ نوم پايلې ته اړتيا نه پاتيږي همداراز په لرتيرمهال بيچارکړ کې هم د بيچارکړ نوم (خوړلی) يا يغورځي او د (خوړل) په بڼه پاتيږي چې ځينې د وديز پښتو پوهان (ګرامرپښيان) يې له (مصدر) سره ګډوي او اشتباه کوي .

| | | ډيرګړي | يوګـــړي |
|---|---|---|---|
| | ١ | موږ خوړلي دي ـ خوړلې دي ـ خوړلې ده ـ خوړلې دي . خوړلې دي . | ما خوړلی دی ـ خوړلې ده ـ خوړلي دي ـ خوړلې دي . |
| | ٢ | تاسې رر رر رر رر رر رر | تا رر رر رر رر |
| | ٣ـ | دوي رر رر رر رر رر رر | ده ـ دې رر رر رر |

بېچار

| | يوگـــــــړي | ټيرگـــــړي |
|---|---|---|
| ١ | زه خوړل شوي ــ شوې یم | موږ خوړل شوي ــ شوې یو |
| ٢ | ته خوړل شوي ــ شوې یې | تاسو خوړل شوي ــ شوې یئ ، یاست |
| ٣ | دی خوړل شوی دی<br>دا خوړل شوې ده | دوي خوړل شوي دي<br>دوي خوړل شوې دي |

ښځوال لکه ماځان خوړلی دی ........

٥ : لرتیرمهال ( بعیده ماضی ) : د لرتیرمهال کړ ته هغه وخت اړتیا پرېوځي چې وروسته تري بشپړ تیرمهال یا لنډ تیرمهال کړ پیښ شوي وي ، یا په بله وینا ، لرتیرمهال کړ یوله دغو نورو ټولو تر کارېدنې ( استعمال ) وروسته کارول کیږي لکه چې وایي :

ته پرلسو بجو راغلی ( بشپړ ) اوزه پرنهو بجو راغلی وم ( لـــر )

یا : ته پرلسو بجو راغلی یې ( لنډ )

د لر تیرمهال اوړون نورد لنډ هغه غوندي دي خو دلته ورسره مرستیالکړ ( ول ) هم په لـره زمانه کې اوړون مومي :

چاروال

| | يوگـــــــړي | ټيرگـــــړي |
|---|---|---|
| ١ | ما خوړلی و ــ خوړلې وه ــ خوړلي وو ــ خوړلې وې | موږ خوړلی و ــ خوړلې وه ــ خوړلي وو خوړلې وې |
| ٢ | تا رر رر رر | تاسو رر رر رر رر رر |
| ٣ | ده ــ دې رر رر رر رر | دوي رر رر رر رر رر |

| | يوگـــــــړي | ټيرگـــــړي |
|---|---|---|
| ١ | زه خوړل شوی ــ شوې وم | موږ خوړل شوي ــ شوې وو |
| ٢ | ته رر رر رر | تاسو رر رر رر وي ــ واست |
| ٣ | دی خوړل شوی و<br>دا خوړل شوې وه | دوي خوړل شوي وو<br>دوي خوړل شوې وې |

منځوال لکه ماځان خوړلی و ............

٦ : ګومانی تیرمهال (احتمالی یا شکیه ماضی) : هغه کړ ته وایی چې کیدنګ یې ګومانی او ارنګمن (مشکوك) وي . رغیدنه یې داسی کیږي چې لهه بیچارکړ نوم (خوړلی) یا (خوړل) سره (به) ملتیا موږی اوپه چاروال کی یواځی د (ول) مرستیالکړ یواځینی بڼه (وي) اوپه بیچارکی ورسره (شول) او د (ول) ټولی اوسمهال بڼی اوړون کوي . او د (وي) په بڼه یواځې په دریم وګړي کی (ګونډي) یا (ښایی) غوندي ګومانی وییکی هم ورسره ټولیز ډول مل کیداي شی .

| | | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|---|
| چاروال | ١ | مابه خوړلی – خوړلی – خوړلی – خوړلی وي | موږ به خوړلی – خوړلی – خوړلی – خوړلی وي |
| | ٢ | تابه رر رر رر رر | تاسی به رر رر رر رر |
| | ٣ | ده – دې به رر رر رر | دوي به رر رر رر رر |

| | | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|---|
| بیچار | ١ | زه به خوړل شوي – شوې یم | موږ به خوړل شوي – شوې یو |
| | ٢ | ته به رر رر رر یې | تاسی به رر رر رر یئ – یاست |
| | ٣ | دی به خوړل شوی وي | دوي به خوړل شوي وي |
| | | دا به خوړل شوې وي | دوي به خوړل شوې وي |

منځوال لکه : مابه ځان خوړلی وي .....

۷ ؛ ارماني تیرمهال (تمنایي ماضي) : چې دیوه ارمان څرګندونه کوي او ددود له مخې په بشپړ تیرمهال ، نابشپړ تیرمهال ، نژدې‌مهال اوګوماني تیرمهال پوري اړه لري :

۱ــ ارماني بشپړ تیرمهال (تمنایي مطلقه ماضي) چې درغیدنې له مخې په بشپړ تیرمهال اړه‌جاج او مرخې (مفهوم او مطلب) له مخې په اوسمهال پوري اړه لري جوړیدنه‌یې دبشپړ تیا (مطلقیت) و ــ په‌دختاري کولو او دچاروال لپاره دبیچارکړ نوم (مفعولي صفت) په اوږدولو او دبیچار لپاره دپای په‌غوړولو او دمرستیالکړ (شول) دبیچارکړ نوم په اوږدولو ترسره کیږي ، دغه رازیې دزیاتې څرګندتیا لپاره تر اینې ((مسنداليه) دمخه یا وروسته د (کاشکې) ویکې دیوه‌نحوي توک په توګه هم ملګري کیداي شي .

| | | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|---|
| چاروال | ۱ | کاشکې ما وخوړ اي | کاشکې موږ وخوړ اي |
| | ۲ | کاشکې تا وخوړ اي | کاشکې تاسې وخوړ اي |
| | ۳ | کاشکې ده ــ دې وخوړ اي | کاشکې دوي وخوړ اي |

| | | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|---|
| بیچار | ۱ | کاشکې زه وخوړل شواي | کاشکې موږ وخوړل شواي |
| | ۲ | کاشکې ته وخوړل شواي | کاشکې تاسې وخوړل شواي |
| | ۳ | کاشکې دي ــ دا وخوړل شواي | کاشکې دوي وخوړل شواي |

متحوال لکه ؛ کاشکې ما ځان وخوړ لاي .........

۲ــ ارماني نابشپړ تیرمهال ؛ چاروال یې بې دبشپړ تیا (مطلقیت) له و ــ څخه دبشپړ هغه‌غونډې‌جوړیږي او بیچاریې بې له دغه (و) او مرستیال کړ په بدلولو (شول پرکیدل) دبیچار بشپړ هغه‌غونډي راځي .

چارواڵ

| | یوگـــړي | ډیرگـــړي |
|---|---|---|
| ۱ | کاشکی ما خوړ اي | کاشکی موز خوړا ي |
| ۲ | کاشکی تا خوړ اي | کاشکی تاس خوړ اي |
| ۳ | کاشکی ده ـ دي خوړ اي | کاشکی دوي خوړ اي |

بیچار

| | یوگـــړي | ډیرگـــړي |
|---|---|---|
| ۱ | کاشکی زه خوړل کیدا ي | کاشکی موز خوړل کیدا ي |
| ۲ | کاشکی ته خوړل کیداي | کاشکی تاس خوړ ل کیدا ي |
| ۳ | کاشکی دي ـ دا خوړلکیداي | کاشکی دوي خوړل کیدا ي |

منځوال لکه : کاشکی ما ځان خوړلاي ..........

۳ـ ارمانی لرتیرمهال ( تمنایی بعیده ماضی ) چارواڵ داسی جوړیزي چی په بیچارکړ نوم( مفعولی صفت)پسی دمرستیالکړ (ول ) بیچارکړ نوم او زد (واي ) راشی او بیچار یی دبیچارکی نوم په لنډ ولو او(شول )په زیاتو راشځ ته کیزي ٠

| | | یوگـــړي | ډیرگـــړي |
|---|---|---|---|
| چارواڵ | ۱ | کاشکیماخوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی وای | کاشکیموز خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی وای ٠ |
| | ۲ | کاشکیتا رر رر رر | کاشکیتاس رر رر رر |
| | ۳ | کاشکیده ـ دي رر رر رر | کاشکیدوي رر رر رر |

| | | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|---|
| بیچار | ۱ | کاشکې زه خوړل شوی — شوې — شوي — شوې | کاشکې موږ خوړل شوي — شوي — شوې شوې وای |
| | ۲ | کاشکې ته ,, ,, ,, ,, | کاشکې تاسې ,, ,, ,, |
| | ۳ | کاشکې دی — دا ,, ,, ,, ,, | کاشکې دوی ,, ,, ,, |

مثال لکه: کاشکې ما ځان خوړلی وای.

۷ — ارماني ګوماني تېر مهال (تمنایی احتمالی ماضی) له عادي ګوماني تېرمهال سره یو ځای د (به) په غورځولو او کاشکې توری زیاتېږي.

| | | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|---|
| چاروال | ۱ | کاشکې ما خوړلی — خوړلې — خوړلي — خوړلې وای | کاشکې موږ خوړلی — خوړلې — خوړلي وای |
| | ۲ | کاشکې ده — دې ,, ,, | کاشکې تاسې ,, ,, ,, |
| | ۳ | کاشکې ده — دې ,, ,, ,, | کاشکې دوی ,, ,, ,, |

۸: اړوتی تېرمهال (شرطیه ماضی) چې د یوه اړونې کړن لپاره اړ (شرط) څرګندوي په دې توګه د ارزکړ د یوه بل کړ لپاره اړ (شرط) برابروي د ا مانا چې که دغه کړ ترسره نشي هغه بل کړ هم کېدون نلري او همدا راز که هغه بل کړ موخن او مطلوب نه وي نو د اړوتي کړ څرګندونې ته کومه اړتیا نه پېښېږي لکه (که وریځ نه وي باران نکېږي) یا (که وریځ وي (نو) باران کېږي یا به باران وشي)، څنګه چې اړ (شرط) په هر کړ او کړن تې راتلای شي نو د اوسمهال مغونې په څېر تېرمهالونو کې څرګندېږي او همغه ډول ورته ویلونه لري. د اړ د څرګندونې نښه اوتوک (که) دی چې په مخ کې راځي:

۱ — اړوتی بشپړ تېرمهال: چې له خبري بشپړ تېرمهال څخه د (که) په مخکې راوړلو سره جوړېږي او د ځانګړې (مفهوم) کې په اوسمهال پورې اړه لري لکه: که ما وخوړ ... که موږ وخوړ یا که ما وخوړل ای — که موږ وخوړل ای ...

٢ــ اړوتی نابشپړ تیرمهال (شرطیه استمراري ماضی) لکه: که ما خوړ ــ که موز خوړ یا که ما خوړلای ــ که موز خوړلای ....

٣ــ اړوتی لنډ تیرمهال (شرطیه قریبه ماضی) لکه: که ما خوړلی دي ــ که موز خوړلی دي یا ــ که ما خوړلی وي که موز خوړلی وي ....

٤ــ اړوتی لر تیرمهال (شرطیه بعیده ماضی) لکه که ما خوړلی و ــ که موز خوړلی و یا ــ که ما خوړلی وي ــ که موز خوړلی وي .....

په دې توګه هر اړوتی تیرمهال په څرمه (ضمنی) ډول ګومانی ــ ارمانی ــ هیښنی ...... هم کیدای شی.

٩: توانی تیرمهال (امکانی یا اقتداري ماضی): چې دیوه کړ کیدون (امکان) یانه کیدون تري څرګندیزي. په پښتو کی په ساده جولسیز ډول یواځې بشپړ تیرمهال او نابشپړ تیرمهال توانی کیدای شی او همدغه دوه ډوله تیرمهالونه په څرمه توګه نور تیرمهالونه هم را اخلـــــــــــی. رغیدنګ یې دبیچارکړ نوم دپای غبرګغږ په اوږدولو (خوړلای یا خوړای) او ورسره دمرستیالکړ (شول یا کیدل یادواړو) په ګردانولو تر سره کیږي.

١ــ توانی بشپړ تیرمهال. لکه: ما وخوړلای شو ــ وخوړای شو ــ تاوخوړلای شوــ وخوړای شو .....

٢ــ توانی نابشپړ تیرمهال. لکه: ما خوړلای شوــ خوړای شو ــ تا خوړلای شوــ خوړای شو .....

اعتیادي: لکه: مابه خوړلای شو ــ خوړای شو ــ تابه خوړلای شو ــ خوړای شو.

١٠: ټینګاري تیرمهال (تاکیدي ماضی): چې دکړ د ترسره کولو یانه ترسره کولو ټینګار (تاکید) څرګندوي او یواځې په بشپړ اونابشپړ تیرمهال کی راتلای شی:

١ــ ټینګاري بشپړ تیرمهال چی له بیچارکړ نوم سره د (به) (و) یا (وای) په ملګري کولو جوړیزي لکه: ما به خوړلی وای ماابه خوړلی واي اویا خوړلی به می و. خوړلی به می وای.

٢ــ تېنگاري نابشپړ تيرمهال چې له اعتيادي سره په اهنگ کې توپير لري لکه :
مابه خوړ يا مابه خوړ لاي يا خوړ اي ، کله کله بويه يا (بايد) هم په سرکې راتلاي شي او دپاي
ليکنښه يې ندائيه راځي .

ــ هينښې تيرمهال (تعجبي ماضي) . چې په هينښتيا (تعجب يا تحير) سره
څرگنديږي . دا راز کړ يواځې په اهنگ کې له خبري هغه سره توپيرېږي ليکښنه يې يوه بلنښنه
(ندائيه) ده .

بيلگه لکه : ماوخوړ ! تاوخوړ ! ........

(١) پوښتنې تيرمهال (استفهامي ماضي) چې ديوه کړ ن پيښيدنه يا نه پيښيدنه پوښتنه
داهم له خبري کړ سره يواځې په اهنگ کې توپير موي په دې توگه چې دخبري کړ اهنگ
له عادي څخه يا اهنگ سره اوار پيل موي او تيټ پاي ته رسي او دپوښتنې دا له يوه زيات پياوړي
څخه ياپه بله وينا له يوه هوار اهنگ سره پيل موي اوپه پاي کې لوړيږي . پوښتنې کړ په
بشپړ تيرمهال ، نابشپړ تيرمهال ، لنډ تيرمهال لرنيرمهال اوتوانې تيرمهال کې راتلاي شي
ليکښنه يې پای ته يوه پوښتنښه ( ؟ ) ده .

١ــ پوښتنې بشپړ تيرمهال لکه : ما وخوړ ــ تاوخوړ ........

٢ــ پوښتنې نابشپړ تيرمهال لکه : ما خوړ ــ تاخوړ .......

٣ــ پوښتنې لنډ تيرمهال لکه : ماخوړلی دي ــ تاخوړلی دي .....

٤ــ پوښتنې لرتيرمهال لکه : ما خوړلی و ــ تاخوړلی و ......

٥ــ پوښتنې توانې تيرمهال لکه : ما وخوړلاي شو ــ تا وخوړلاي شو .....

لکه : ماوخوړلاي شو ــ تا وخوړلاي شو .....

يا : ما خوړلاي شو ــ تاخوړلاي شو .....

ب ـ نالیزندکړ ( راتلل ) له بشپړاندو ( سوبلتیفو ) دویمو ولیـــو راتل ـ ( رات ) ٠ راغل ـ ( راغ ) څخه راغل ـ دبشپړ ( مطلق ) او راتل ـ دنابشپړ ( غیرمطلق ) کړ ولی هم جوړیږي بلل کیـــــزي :

۱ : بشپړ تیرمهال ( مطلقه ماضی ) :

۱ـ خبـــري : چی له راغل ـ یا راغ ـ ریښی څخه جوړښت اواړو ن مومی ٠

| | یوگړي ( مفرد ) | ډیرگړي ( جمع ) |
|---|---|---|
| ۱ | زه راغلم | موږ راغلو |
| ۲ | ته راغلی | تاسو راغلئ ـ راغلاست |
| ۳ | دي راغی ( راغلـئ ) | دوي راغلـــل |
| | دا راغلـــه | راغلی ( راغللـــی ) |

۲ـ لنډ تیرمهال چـــی دلیزندکړ غوندي دبیچارکړ نوم له اندول ( راغلی ) څخه دمرستیالکړ ( ي ـ ) او ( د ـ ) په ملگرتیا جوړیږي اوگردانیږي ٠

| یوگـــــړي | ډیرگـــــړي |
|---|---|
| زه راغلی ـ راغلی یم | موږ راغلی ـ راغلی یـــو |
| ته راغلی راغلی یـــی | تاسو راغلی راغلی یی ـ یاست |
| دي راغلی دي | دوي راغلی دي |
| دا راغلی ده | دوي راغلی دي |

٣ــ لرتیرمهال ( بعیده ماضي ) ۰ چې له لنډ تیرمهال سره په مرستیالکړ کې توپیر مومي هغه داچې دلته د ( ول ) ولي ( وــ ) په کار لیږيږي ۰

| یوګــــړي | ډیرګــــړي |
|---|---|
| زه راغلی ــ راغلی وم ۰ | موږ راغلي ــ راغلي وو ۰ |
| ته راغلی ــ راغلی وې ۰ | تاسې راغلي ــ راغلي وئ ۰ ــ وامت ۰ |
| دی راغلـــــی و ۰<br>دا راغلې ــ راغلې وه ۰ | دوی راغلـــــــي وو ۰<br>دوی راغلې ــ راغلې وې ۰ |

٤ــ نابشپړ تیرمهال ( همیشنی یا استمراري ماضي ) چې د راغلی ــ له بشپړاندې ملګري ولي ( راتل ــ ) یا ( راتـ ) څخه جوړ ښت او اوړون موږ په دې توګه چې وګړېږي پایلی په هسدغې ولې پوري بېده شلی ؛

| یوګــــړي | ډیرګــــړي |
|---|---|
| زه راتلم ۰ | موږ راتلــــو ۰ |
| ته راتلې | تاسې راتلئ ۰ ــ راتلاست ۰ |
| دی راته ــ راتلو ــ راتلې ۰<br>دا راتلــــه | دوی راتلــل ۰<br>دوی راتلې ــ راتللې |

٥ــ روزنې تیرمهال ( اعتيادي ماضي ) چې له نابشپړ تیرمهال څخه د ( به ) وییکی زیات لوي لکه ، زه به راتلم ــ ته به راتلې ۰۰۰۰۰۰۰۰

٦ــ ارماني تیرمهال ( تمنايي ماضي ) چې په بشپړ ــ نابشپړ او لر تیرمهال پوري اړه لري او دمرځي او جاج ( مفهوم ) له مخې زیاتره په اوس‌مهال پوري اړه نیسي ۰ بشپړ یې له نابشپړ سره دبشپړ تیا ( مطابقیت ) وــ توپیریږي بشپړ یې لکه ( راغلی وای ) یا ( ولاړ وای )

اونابشپړ ین لکه ( تللاي ) ، لیږی داړکړ نوم دغبرګغز .داوزدولو پرځاي دمرستیالکړ ( ول ) هغه پراوز ده غبرګغز اړري . دپوره څرګندتیا لپاره ددرواړو ډولوپه سرکی د ( کاشکې ) وییکی، دیوه نحوي توك په توګه هم راوړل کیداي شي .

(۱) بشپړ ارمانی :

| | یوګــــړي | ډیرګــــړي |
|---|---|---|
| ۱ | کاشکې زه راغللاي ــ راغلاي | کاشکې موږ راغللاي ــ راغلاي |
| ۲ | کاشکې ته رر رر | کاشکې تاسې رر رر |
| ۳ | کاشکې دي ــ دا رر رر | کاشکې دوي رر رر |

(۲) نابشپړ ارمانی :

| | یوګــــړي | ډیرګــــړي |
|---|---|---|
| ۱ | کاشکې زه راتللاي ــ راتلاي | کاشکې موږ راتللاي ــ راتلاي |
| ۲ | کاشکې ته رر رر | کاشکې تاسې رر رر |
| ۳ | کاشکې دي ــ دا رر رر | کاشکې دوي رر رر |

(۳) لرارمانی :

| | یوګــــړي | ډیرګــــړي |
|---|---|---|
| ۱ | کاشکې زه راغلی ــ راغلی واي | کاشکې موږ راغلی ــ راغلی واي |
| ۲ | کاشکې ته رر رر رر | کاشکې تاسې رر رر |
| ۳ | کاشکې دي ــ دا رر رر | دوي رر رر رر |

۷ــ توانی تېرمهال (امکانی ماضی) چې په (تلل) غونډی ناليږند. کړ کې په ساده ډول پراخې نابشپړ تېرمهال را اخلي او هغه هم په دې ډول جوړيږي چې د بيچارکړ نوم اند ډول (تللی) پای غږګڼ زا او زډيزي او مرستيالکړ (شول) ورسره اوړونوي ۰

| | يوګــــړي | ډيرګــــړي |
|---|---|---|
| ۱ | زه راتللای ــ راتللای شوم | موږ راتللای ــ راتلای شو |
| ۲ | ته ,, ,, شوې | تاسې ,, ,, شوئ ــ شوا ست |
| ۳ | دی ,, ,, شو<br>دا ,, ,, شوه | دوی ,, ,, شول<br>دوی ,, ,, شولې ــ شوې |

۸ ــ ګوماني تېرمهال (شکيه يا احتمالي ماضي) چې بشپړ ــ نابشپړ ــ انده او لــر تېرمهال يې په دغو اندې ډولز جوړيږي ۰

(۱) بشپړ ګوماني چې د (لکه چې) په ماتيا د خبري هغه غونډي جوړېدت موس لکــــه چې

| يوګــــړي | ډيرګــــړي |
|---|---|
| لکه چې زه راغلم ! | لکه چې موږ راغلو ! |
| لکه چې ته راغلې ! | لکه چې تاسې راغلئ ــ راغلاست ! |
| لکه چې دی راغی ! | لکه چې دوی راغلل ! |
| لکه چې دا راغله ! | لکه چې دوی راغلې ــ راغلې ! |

(۲) نابشپړ ګوماني چې له خبري نابشپړ تېرمهال څخه د (ګړند) نښ (بنايي) يا (لکه چې) په ماتيا جوړيږي او د روزدنې لپاره يې (به) هم ملګري کيږي ۰

| يوګـــــړي | ډيرګـــــړي |
| --- | --- |
| ګوندي – ښايي يا لکه چي زه راتلم | ګوندي – ښايي يا لکه چي موږ راتلو |
| رر رر رر رر ته راتلې | رر رر رر رر تاسې راتلئ – راتلاست |
| رر رر رر دي راتلو – راته | رر رر رر رر دوي راتلل – راتله |
| رر رر رر دا راتلله – راتله | رر رر رر رر راتللې – راتلې |

روز دني اکه : زه ګوندي – ښايي يا لکه چي زه به راتلم – ته به راتلې .......

(٣) لنډ ګومانـــي د بشپړ ګوماني غونډي په (لکه چي) يا (به) له خبري هغه سره توپيريـــــــزي .

| يوګـــړي | ډيرګړي |
| --- | --- |
| لکه چي زه راغلى – راغلى يم | لکه چي موږ راغلي – راغلي يو |
| رر رر ته رر رر رر يې | رر رر تاسې رر رر يئ – ياست |
| رر رر دي – دا رر رر وي | رر رر دوي رر رر وي |

يا – زه به راغلى يم ......

( ٤ ) لـــرګوماني چي له خبري هغه سره د (ګوندي) – (ښايي) (لکه چي) يا (به) په سرباري کولو توپيريږي لکه ګوندي زه راغلى وم – زه به راغلى وم .

٩– ټينګاري تيرمهال (تاکيدي ماضي) . چي بشپړ – نابشپړ اولر راتلاي شي او د موخې او جاج له پلوه زياتره په اوسمهال پوري اړه لري . او د پوره څرګندتيا لپاره يې په سرکي (بويه) يا (بايد) هم ملګري کيږي .

(١) بشپړ ټينګاري د به يا بايد په مختاړي کولو او د (اي) په روستاړي کولو له (راغلل –) يا (راغل –) څخه جوړيږي لکه زه به راغللاي – راغلاي يا زه بايد راغللاي – راغـــــــلاي .

(۲) نابشپړ تېنگاري چې د به یا باید په مختاري کولو او (اي) په روستاړي کولوله (راتلل ــ ) یا ( راتل ) څخه جوړېږي لکه :

زه به راتللاي ــ راتلاي یا زه باید راتللاي ــ راتلاي ۰۰۰۰۰۰ او یا راتلم به ــ راتلی به او داسې نور ۰

(۳) لــر تېنگاري چې له خبري تېرمهال څخه د (به) په سرباري کولو توپیرېږي لکه زه به راغلی وم ــ ته به راغلی وې ۰۰۰۰۰۰ که د (به) ځاي (باید یا (بویه) ونیسي نو بیا د (ول )کړ نوم پاي غبرگعز لکه ارماني هغه غوندې ورسره اوز دېږي لکه زه باید راغلی واي ــ ته بویه راغلی واي چې البته په دروواړو وگړوکې یې بیا نرینه او ښځینه سره توپیر یداي شي ۰ دپاي لیکنښه یې بلنښــه ( ! ) راځي ۰

۱۰ ــ پوښتنې تېرمهال (استفهامي ماضي) په دې مانا چې که په هر ډول تېرمهال کې پوښتنه راشي ۰ نو پوښتنې تېرمهال بلل کېږي ۰ بشپړ لکه زه راغلم نابشپړ لکه زه راتلم لنډ لکه زه راغلی یم لر لکه زه راغلی وم او داسې پسې نور ۰

۱۱ ــ هېښــنې تېرمهال (تعجبي ماضي) چې هېښتیا ترې څرگندېږي او له پوښتنې سره یوائځې په اهنگ کې توپیر مومي لکه زه راغلم ! ته راغلی ! او هم داسې په نورو تېرمهالونو کې ۰

۱۲ ــ اړوتی تېرمهال (شرطیه ماضي) چې په تېرمهال کې د کوم کړ پېښېدنــه یا نه پېښېدنه پهیوه اړ ( شرط )پورې تړلې وي داکړ نړر ترپایه پورې د خبري هغه غوندې رغېدنگ لري خو په سرکې یې یو نحوي توک اړوییکی (شرطیه ادات) ــ که ــ راوړل کېږي لکه که زه راغلم ۰ که زه راتللم ۰۰۰۰۰۰

## دویم ـ داوسمهال کړ اوړون ( گـردان ) :

اوسمهال کړ داماناچې کړ هماغه مهال یا یوخه وروسته پیښیږي چې یادونه یې کیږي • چاړوال یې له لومړي ولې ( ړینس ) څخه جوړیږي اوبیچار یې له تیرمهال یا په بله وینالهدویم ولې څخه • چې په دواړو بېـوکې وریوري ټاکلی اوړونی (تصریفی) تاړي (وندونه) نښلول کیږي • دغه تاړي داینی (مسنداليه) اودهغه د ګڼـې څرګندونه کوي نه دنوزي اومهال • داماناچې په ناتیرمهال کې نوزي نه تویبریږي اومهال خوزیاتره پچپلی کړ ولې سره څرګندیدنه مومی •

الف ـ لهلیزند خور ـ څخــــه :

١ : بشپړ اوسمهال •

١ـ خبري : چاړوال • چې له لومړ ی ړینس څخه زیاتره دبشپړتیا یې (مطلقیت ) ( و ـ ) په مختاړي کولو او داړوندو نښلونو په زیاتو لو لاسته راځی :

| یوګړي ( مفرد ) | ډیرګړي ( جمع ) |
|---|---|
| وخورم | وخورو |
| وخوري | وخوري• |
| وخوري | وخوري |

بیچاړ • چې له دویمی ولې څخه دلاسته راغلی بیچاړ کړ نوم په لنډون اوله هغه سره دمرستیالکړ ( شول ) په اوړون جوړښت مومی :

| یوګـړي | ډیرګړي |
|---|---|
| وخوړل شم | وخوړل شو |
| وخوړل شی | وخوړل شی• |
| وخوړل شی | وخوړل شی |

منحوال لکه ؛ ځان وخورم ..........

۲ـ أرزوئي بشپړ او سمهال ( شرطي حال ) چې له خبري بشپړ او سمهال سره توپیر

یې یوازې دا دي ویلی یا شرطیه ادات (که) په سرباري کولو ځرګندیږي ۰

چاروال لکه ؛ که وخورم ــ که وخوري ....

بیچار لکه ؛ که وخوړل شم ــ که وخوړل شي ....

منحوال لکه ؛ که ځان وخورم ــ که ځان وخوري .....

۳ـ أرماني بشپړ او سمهال چې د ( کاشکي ) په مخکې کولو سره د خبري هغه غوندي

رغیدنـــګ مومي ؛

چاروال لکه ؛ کاشکي وخورم ــ کاشکي وخوري .....

بیچار لکه ؛ کاشکي وخوړل شم ــ کاشکي وخوړل شي ....

منحوال لکه ؛ کاشکي ځان وخورم ــ کاشکي ځان وخوري

٤ـ پوښتني بشپړ او سمهال چې په رغیدنګ کې له خبري څخه یوازې د خج په پیاوړتیا

او د اهنګ په لوړتیا کې توپیرلري ۰ لیکښیـــــه یې پوښتنښه ده ؛

چاروال لکه ؛ وخورم وخوري

بیچار لکــه ؛ وخوړل شم وخوړل شي ۰

منحوال لکه ؛ ځان وخورم ځان وخوري

٥ـ هیښنی بشپړ او سمهال له پوښتني هغه څخه یوازې په اهنګ او د غزیدونکې

په اکړ ( وضع ) بیلتون مومندای شي او لیکښیه یې د پوښتنې پرځای بلښنه راځي ؛

چاروال لکه ؛ وخورم ! وخوري !

بیچار لکــه ؛ وخوړل شم ! وخوړل شي !

٦ــ توانی بشپړ اوسهال · چی له دویمی ولی څخه دلاسته راغلی بیچارکړ نوم

دپای غبرګغږ په اوږدو لواو ورسره د ( شول ) په اوړونو لو (ګردانولو ) سره منځ ته راځی

دجولی له مخی له بشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري · په زره پوري داچی یی چاروال اوبیچار

سره یواځی دغږیدونکی داکسر( وضعیت ) · چا پیریال اودریځ (موقعیت ) اونومخرو له

له مخی توپیرداي شی لکه : زه غم وخوړ ناري شم ــ ماغم وخوړ لاي شی باغم ماوخوړ لاي‌شی ···

| ګڼه / وګړي | یوګړي | ډیرګړي |
|---|---|---|
| ١ | وخوړ ناي شــــم | وخوړ لاي شـــــو |
| ٢ | وخوړ لاي شی | وخوړ لاي شـــــی |
| ٣ | وخوړ لاي شـــی | وخوړ لاي شـــــی |

٧ــ امري بشپړ اوسمهال چی یواځی د دویم وګړي لپاره راځی چاروال یی له لومړي

ولی څخه ساده ډول او بیچار یی له دویمی ولی څخه دلاسته راغلی بیچارکړ نوم په لنډو ن

او دمرستیالکړ ( شول )په اوړون سره تر سره کیږي ·

چاروال لکه : وخوره ! وخوري ! ·

بیچار لکه : وخوړل شه ! وخوړل شی ! ·

٨ــ ټینګاري یا تاکیدي بشپړ اوسمهال چی له خبري‌هغه سره یی توپیر یواځــــی

دټینګار ییــکی یا تاکیدیادات( دي ) په ورزیاتولو ترسره کیږي ·

چاروال :له نومخرو سره لکه : زه دي وخورم ! ته دي وخوري ····

بی نومخرو لکه : ودي خورم ! ودي خوري ····

بیچــــار : له نومخرو سره لکه : زه دي وخوړل شم ! ته دي‌وخوړل شی !

بی‌نومخرو لکه : ودي خوړل شم ! ودي‌خوړل شــی !

۹ـ غوښتنی بشپړ اوسمهال چی دعایا ښیرا څرګندوي او یواځی په ناتیرمهال کی راتلاي شی . د تینګاري هغه او کله کله د امري هغه غوندي جوړیږي خو پوره څرګند تیا یی په یوه غونډ له (جمله) کی له نورو توکونو سره کیداي شی لکه :

سردې وخورم یا سرمی دي وخورم ـ سردي وخوره یا په دغو متلو کی : نه اشه ښه ده نه ګله ـ دوي دي وخوري یو تربله (میدان) .

نه یوه ښه ده نه بله ـ دوي دي وخوري یوتربله (د هلمند ناوه)

په پښتو کی زیاتره ارکړ ونه په ساده او یو ستوي توګه دغوښتنی لپاره راتلاي نشی اومرستیالکړونه او توکونه ورسره ملګري کیږي .

ساده لکه : ومره ! ژوه ! (زنده باد) .

تړښتی (ترکیبی) لکه : ستړي مه شی ! خوارمه شی ! هرکله راشی ! خیریوسی ! یا له (خداي) سره : خداي دې خوار مکړه ! خداي دي وبښه ـ خداي دي ښه د رسره وکړي ...

۱۰ـ ګوماني بشپړ او سمهال چی دارنګ وبیکو (شکیه اداتو) او غونډ له ییزو توکونو په مختاړ لي کولو له خبري هغه څخه جوړیږي .

چاروال لکه : ښایی چی وخورم ـ ګوندي وخورم ـ لکه چی وخورم ـ کیږي چی وخورم

بیچار لکه : ښایی چی وخوړل شم ـ ګوندي وخوړل شم ـ لکه چی وخوړل شم ـ کیږي چی وخوړل شم ! .

۲ : نابشپړ اوسمهال (غیرمطلق یا استمراري چال)

۱ـ خبـــري :

چاروال . چی بی له کوم مختاړي له لومړ ی کړ ولی سره دګړیزو پایلو (خاتمو) په ملتیا جوړیږي لکه :

| گڼه / وګړي | يوګړي ( مفرد ) | ډيرګړي ( جمع ) |
|---|---|---|
| ۱ | خورم | خورو |
| ۲ | خوري | خوري |
| ۳ | خوري | خوري |

بيچار ، چې له‌لنډ کړ شوي بيچارکړ نوم (خوړل) سره مرستيالکړ (کيدل) په اوسمهال کې اوړون موي لکه :

| گڼه / وګړي | يوګړي | ډيرګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خوړل کيږم | خوړل کيږو |
| ۲ | خوړل کيږې | خوړل کيږي |
| ۳ | خوړل کيږي | خوړل کيږي |

منځوال لکه : ځان خورم ......

۲ـ اړوتی نابشپړ اوسمهال چې داړويکی ياشرطيه ادات (که) په مختاړي کولو له‌خبري‌هغه ځخه جوړيږي .

چاروال لکه : که خورم ــ که خوري ......

بيچار لکه : که خوړل کيږم ــ که خوړل کيږي ....

منځوال لکه : که ځان خورم ــ که ځان خوري ......

۳ـ ارمانی نابشپړ اوسمهال چې دجولی له مخې له ارمانی نابشپړ تيرمهال سره کوم توپير نلري لکه کاشکې ما خوړلی شواي ، په دې‌توګه يې له نورو ارمانی (تيرمهال يااوسمهال) ډولونو سره د چاروال او بيچار توپير د ريخ او نومځرو له مخې کيداي شي .

۴ـ پوښتنی‌نابشپړ اوسمهال له‌بشپړ تيا يې يا مطلقه (و ـ) پرته‌نور د پوښتنې بشپړ اوسمهال غونډي رغيدنګ لري لکه خورم .

٥ــ هینښی بیاله پوښتنې سره یواځې په اهنګ اوچاپیریال سره توپیرېدای شي اوپه لیک کې په پلنبښه لکه : خورم !

٦ــ ګومانی نابشپړ اوسمهال له بشپړ تیاپسی (و ــ) پرته نور د بشپړ هغه غوندي رغیزي لکه ګوندي خورم یا ګوندي خپل سرخورم ......

٧ــ توانی نابشپړ اوسمهال دجولې له مخې له توانی نابشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري اوپراځې دجاج اوموخې (مفهوم او مقصد) له مخې تري توپیرېدای شي اوهماغسی یې دچاروال اوبیچار بیلتون دنومخړو په اوښتون سره راځې لکه ما خوړلی شوای ــ زه خوړلی شوای ...

٨ــ امري نابشپړ اوسمهال چې کټمټ د بشپړ هغه غوندي یواځې د دویم وګړي لپاره راځې لکه خوره ! خوري !

٩ــ ټینګاري یا تاکیدي نابشپړ اوسمهال چې د (دي) په ملتیاپه دي وروستــــه بول جوړېدنګ موس .......

چاروال . له نومخړو سره لکه زه دي خورم ــ ته دي خوري .

(١)
بی نومخړو لکه : خوړل کیږم دي ــ خوړل کیږي دي !

١٠ــ غوښتنی نا بشپړ اوسمهال چې ټېرلز دودلري او هغه هم په ځینو کړوار بیاپه یوه غونډ له (جمله) کې له نورو توکونو سره لکه :

خدای دي لره ... خدای دي له هري بلا ساتــــه !

خدای دي مه بښه ــ خدای دي مه خواروه !

خدای دي مه کموه ! اودانسې پسې نور .

(١) بیچار ــ له نومخړوسره لکه زه دي خوړل کیږم ــ ته دي خوړل کیږي

بی نومخړو لکــــه خوړل کیږم دي ــ خوړل کیږي دي .

ب ــ له نالیزند خ ــ ــ ولاړ ــ او تلل یا تلل کی ــ څخه :

۱ : بشپړ اوسمهال ٠ چی له دویمی ولی ( ولاړ ــ ) سره مرستیالکړ ( شول ) اوړ ون مومی ٠

۱ــ خبري :

| وګړي / ګڼه | یوګړي ( مفرد ) | ډیرګړي ( جمع ) |
|---|---|---|
| ۱ | ولاړ شــــم | ولاړ شــــو |
| ۲ | ولاړ شــــی | ولاړ شــــی ٠ |
| ۳ | ولاړ شــــی<br>ولاړه شــــی | ولاړ شــــی<br>ولاړي شــــی |

۲ــ اړوتی بشپړ اوسمهال ٠ چی داړوییکی یاشرطیه ادات ( که ) په مختاړي کولو دخبري هغه غوندي رغیدنه مومی لکه : که ولاړ شم ــ که ولاړ شی ٠٠٠٠٠٠

۳ــ ارمانی بشپړ اوسمهال چی د تولو وګړو لپاره له ( ولاړ ــ ) څخه دجوړ شوي کړ نوم ( ولاړ لی ) په اوزدو لو جوړیزي اودپوره څرګندتیالپاره ین د ( کاشکی ) وییکی هم په سرکی راځی اودجولی له مخی له ارمانی بشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري لکه : کاشکی زه ولاړ لای یا ولاړ ای ــ کاشکی ته ولاړ لای ــ ولاړ ای ٠٠٠٠٠

٤ــ پوښتنی بشپړ اوسمهال چی له خبري هغه سره یوازی په اهنګ کی توپیرلري لکه : ولاړ شم ولاړ شی ٠

٥ــ هیښنی ٠ چی له خبري یا په بله وینا له پوښتنی هغه سره دغزیدونکی په یوه ځانګري اکر ( وضعیت ) او اهنګ کی توپیرمومی لکه :

ولاړ شم ! ولاړ شی !

٦ــ توانی بشپړ اوسمهال چی له ( ولاړ ) سره د مرستیالکړ ( شول ) اوز دغبرګغزيي کړ نوم ( شولای یا شوای ) اوړ ون مومی اوپه دي توګه دجولی له مخی له توانی بشپړ تیرمهال سره سمون خوري ٠

| وگړي \ گڼه | یوګـــړي | ډيرګـــړي |
|---|---|---|
| ١ | ولاړ شولاي ــ شواي | ولاړ شولاي ــ شواي |
| ٢ | رر رر رر | رر رر رر |
| ٣ــ | رر رر رر<br>ولاړه رر رر | رر رر رر<br>ولاړي رر رر |

٧ــ امري بشپړ اوسمهال چې پواځې په دويم وګړي پوري اړه لري لکه:

ولاړ شه! ولاړ شئ!

٨ــ تېنګاري بشپړ اوسمهال چې له خبري هغه سره یې توپير پواځې د تېنګار ويیکی (دي) په وړياتولو کیږي .

له نومځرو سره لکه : زه دي ولاړ شم ــ ته دي ولاړ شې ....

بې نومځرو لـــــکه : ولاړ دي شم ــ ولاړ دې شې ......

٩ــ غوښتـــنې بشپړ اوسمهال چې له ولاړ ــ څخه په سيده ډول ډير لږ توپير لري

لکـــــه : سړدي ولاړ شه! ګورته ولاړ شی!

١٠ــ ګوماني يا احتمالي بشپړ اوسمهال چې له ولاړ سـره مرستيالكړ (شول) د اړنګ ويیکو (شکيه اداتو) يا په بله وينا د اړنګ توکونو په ملتيا اوړون مومي لکه :

بنايي چې ولاړ شم ــ ګوندي ولاړ شم ــ لکه چې ولاړ شم ــ کیږي چې ولاړ شم ....

٢ : نابشپړ اوسمهال چې پواځې د ارمان او توانې لپاره تل ــ يا تلل ــ راځي څکه چې د جولی له مخې له تيرمهال سره سمون لري او نورپاتې ډولونه يې ... له ولي څخه جوړيږي چې د تلل ــ يا تلل ــ او ولاړ ــ سوپلاتيف (بشپړ اند) بلل کیږي .

١ـ خبــري :

| گڼه / وګړي | یوګــړي | ډیرګــړي |
| --- | --- | --- |
| ١ | ځم | ځو |
| ٢ | ځې | ځئ |
| ٣ | ځي | ځي |

٢ ـ اړوتی لکه : که ځم ـ که ځی ......

٣ـ پوښتنی لکه : ځم ځی

٤ـ هیښنی لکه : ځم! ځی!

٥ـ امري لکه :ځه! ځی!

٦ـ تینګاري لکه : ځم دي ځي دي (له دویم وګړي پرته) .

٧ـ ګومانی چی د (ګوندي) او (لکه چی ) په ملګرتیا دخبري‌هغه‌غوندي جوړیږي

لکه : ګوندي ځم ـ لکه چی ځم

٨ـ غوښتنی یی دود نلري .

٩ـ ارمانی چی د تل یا په بله وینا تلل ـ د چارنوم (تللی) په اوز د ولو سره جوړیږي

لکه : زه تللاي ـ ته تللاي ......

١٠ـ توانی چی د تل یا تلل ـ له چارنوم تلی یا تللی سره د مرستیالکړ (شول )

داوز ده چارنوم (شولاي یا شواي )په ملتیا جوړ بنت مومی او د ټولو وګړو لپاره په همدي یوه بڼــه

راځی لکه: زه تللی شواي ـ ته تللی شواي ......

دریم ــ داوسترمهال کړ اوړون (گردان) :

اوسترمهال یا مستقبل کړ چې پهگانده (ابنده) کې دیوه چارپیښیدل څرگندوي ٠ دجولی اومانا له مخې له اوسمهال سره کوم ستر توپیر نلري دا دواړه مهالونه په یوه نامه ناتیرمهال هم نومول کیداي شي لکه څنگه چې دوکتور تـزي دغه نومونه کاروي ٠ خو بیایې هم د (به) ویکی په زیاتولو لــــه اوسمهال سره بیلتون راتلاي شي اویه دې توگه په پرتلیزه ول د غزیدونکې دغزیدا له مهال نه یوځه وروسته مهال ښیي ٠

الف ــ لهلیزند خور ــ اوخوړ ــ څخه :

بشپړلکه : وبه خورم ــ وبه خوري

یا ــ وبه خوړل شم ــ وبه خوړل شي

نابشپړلکه : خورم به ــ خوري به

یا : خوړل کیږم به ــ خوړل کیږي به ٠٠٠٠٠

ب ــ لهنالیزند ځ ــ اوولاړ ــ څخه :

بشپړلکه : ولاړ به شم ــ ولاړ به شي ٠

نابشپړلکه : ځم به ــ ځي به ٠٠٠٠٠

## دکړ رغاونې ( ساختمانـــــس ) ډولونــــــه

دکړ تر ټیلا ییلو ګرامري ډولونو او اوړونو (ګردانو) وروسته غواړو دویں رغاونې (لغوي ساختمان) له مخې د هغه رغاونه او جوړښت ترکتنې لاندې ونیسو ٠ په دې توګـــه له څلورو ډولو کړونو سره مخامخیږو : ساده ــ بیلښتی (اشتقاقی ) ــ شاپشاڅ يا خپواپرخوا ــ ترښتی (ترکیبی )٠

۱ــ ساده یا یو ستوي کړ چې ستـه یا بنسټ یې له یو ګړیزي (یومورفیمیزي) ولی څخه جوړوي ٠ او اوړونې (تصریفی ) مختاړي او روستاړي وربوري سیده نښلول کیږي لکه خور ــ چې خورم ــ خورو ــ خورې ــ خوري ــ خوري ٠ ــ خوري ٠٠٠٠ او داسې نورې جوړونې تريکیږي ٠

۲ــ بیلښتی یا اشتقاقی کړ ٠ چې ستـه یا بنسټ یې له یو ګړیزي ولی اوکوم تاړي (افیکس) څخه جوړوي ٠ په دې مانا چې دکړ ولی جاج (مفهوم) د یوه تاړي په ملتیا بشپړیږي او څرګندیږي ٠ یا په بله وینا دغسې یوتاړي دجاج اومانا له مخې دکړ ولی نه بیلیدونکی توک ګڼل کیږي ٠ په دې توګه که له ولی څخه لرې کړو تاکلی جاج یې اوړي اوبایې کوږ له لاسه ورکوي لکه : راغلل ــ درغلل ــ ورغلل ــ راتلل ــ درتلل ــ ورتلل ــ راکول ــ درکول ــ ورکول ــ کښیوتل ــ کښیناستل ٠ کښې ایستل ٠ کښینول ــ پوري وتل ــ پوري وهل ــ پوري ایستل ــ پوري کول ٠٠ دغه راز ډیر ستاینومونه او څیز نومونه هم د روستاړو په نښلونه داوسمهال کړ ولی ګرځی لکه : لویيدل ــ غتیدل ــ تیریدل ــ کاریدل ــ اوبیدل ــ دودیدل ــ لاسیدل ٠٠٠ یالویول ــ غتول ــ تیرول ــ کارول ــ اوبول ــ دودول ــ لاسول ٠٠٠٠

د بیلښتی یا اشتقاقی او یا مشتق کړ رغاونه داسې لنډو ون مومی :

۱ــ کړ ولی + مختاړي = راتلل ٠ درتلل ٠ ورتلل ٠٠٠

۲ــ ستاینوم ولی + روستاړي = لویيدل ــ لویول یا غتیدل ــ غتول ٠٠ ٠

۳ــ څیز نوم ولی + روستاړي = اوبیدل ــ اوبول ــ یا دودیدل ــ دودول ٠٠٠

زموږ د ودیزڅیړونکو دغی ډلی کړونوته ((یدل والا مصدرونه)) وایی چې یوه ناپوهنیزه نومونه ده ٠

۳ـ خواپرخوایا سست ترښتی ( ترکیبی ) کړ ۰ هغه راز کړته وایی چې د کړ ستم‌س یابنست له د وویا ډیرو خپلواکو ګړ ونو ( مورفیمونو ) څخه هسی سرسري او بیابزیو ځایوالی موندلی وي ۰ په بله وینا یو پوخ ترنګ ( ترکیب ) یې بللاي نشو ۰ داسی چې سره یوځاي شوي توکونه ئه خج له لاسه ورکوي اونه پایلی اوړه دي توګه‌یی پایلی سره جلا جلا خپله اوړ ښی ( تصریفی ) لوښه ( خاصه ) ترسره‌کوي حال دا چې په یوه پوخ پارستینی ترنګ کی درغنده توکونو ( اجزاوړ ) خچونه او ( تصریفی ) پایلی پروروستنی توک باندي پنډیدنه اویوکیدنه ( تجمع او توحید ) مومی ۰ دخواپرخوا کړ رغاونه‌په دي لاندې ګړنو ( اصطلاحاتو ) کی ښوول کیږي :

۱) څیزنوم + مرستیالکړ = زمرې کیدل ــ کول ؛ زمرې کیدل ــ کول ــ زمري کیدل ــ کول ۰ زمرې یازمریاتې کیدل ــ کول ۰۰۰۰۰

۲) ستاینوم + مرستیالکړ = مړ کیدل ــ کول ؛ مړه کیدل ــ کول ؛ مړه کیدل ــ کول ۰ مړې کیدل ــ کول ۰۰۰

۳) چاروال کړ نوم + مرستیالکړ = سرخوړ ونکی کیدل ــ کول ۰ سرخوړ ونکې کیدل ــ کول ۰ سرخوړ ونکي کیدل ــ کول ۰ سرخوړ ونکې کیدل ــ کول ۰۰۰۰۰

٤) بیچارکړ نوم + مرستیالکړ = سرخوړلی کیدل ــ کول ۰ سرخوړلې کیدل ــ کول ۰ سرخوړلي کیدل ــ کول ــ سرخوړلې کیدل ــ کول ۰۰۰

۵) شمیرنوم + مرستیالکړ = دوه کیدل ــ کول ؛ دوي کیدل ــ کول ۰۰۰

٦) بیاځلی ستاینوم + مرستیالکړ = تود تود کیدل ــ کول ؛ توده توده کیدل ــ کول ۰ تاوده تاوده کیدل ــ کول ؛ تودې تودې کیدل ــ کول ۰۰۰

۷) سریل + څیزنوم مرستیالکړ = ترلاسه کیدل ــ کول ۰۰۰

۸) سریل + څیزنوم + اوستریل + ارکړ = له سرنه‌نیول ــ له پښو څخه غورځیدل ــ غورځول ۰ ترپایه پوري رسیدل ــ رسول ۰۰۰

٩) څیزنوم + اوستربل + مرستیالکړ = مخ ته کیدل — کول ، شاته کیدل — کول ۰۰۰

١٠) څیزنوم + اوستربل + ارکړ = پای‌ته رسیدل — رسول ، سرته ختل — خیژول ۰۰۰۰

١١) څیزنوم + اوستربل + بیلبنتی کړ = لاس‌ته راوړل — لاس‌ته راوستل ۰۰۰۰

٤— ترښتی (ترکیبی) کړ ، چې له خواپرخوا کړ سره‌یې په رغاونه کې توپیر دادي چې دلته مله یا یوځای شوي‌توکونه سره‌یو نه جلا کیدونکی یووالی منځ ته راوړي په دي مانا چې‌مخنی توکسونه‌یې خپل خج او اوړونی‌تاړي اوله دي سره مانیزه او گرامري‌خپلواکی له لاسه ورکوي او یوازې وروستنی هغه‌یې دگرد ترنګ په ښکارندوی یوغښتلی خج اواوړونی‌نښانی‌ځان ته اخلی ۰ البته‌مخنی توکونه‌یې یا له‌آره ناوړیدونې وي (لکه کړولونه) اویایې په همدغه ترنګ کې خپله اوړونی اوگرامري جوله اوچاروماناله لاسه ورکړې وي ۰ ترښتی کړ هم لکه د (خواپرخوا) کړ غوندې په کړنو (ایدیمونو) اړه لري لکه‌په دي بیلګو کې زیاتره:

څیزنوم + مرستیالکړ = زړه‌کیدل (میل درلودل) یا ښکاره کیدل — کول ۰ غلاکیدل — کول

(خج پرمرستیالکړ) کفه‌خواپرخوا کړ بدلیزي ۰

څیزنوم + مرستیالکړ = زړه کول (جرئت کول)

څیزنوم + مرستیالکړ = توره کول (غیرت یا میړانه کول) ۰

ترښتی څیزنوم + مرستیالکړ = زړه‌نازړه کیدل (ټکنی یا متردد کیدل)

بیاځلی‌څیزنوم+مرستیالکړ = سترګی سترګی کیدل (انتظار ایستل) برخه بخرخه — ټوټه ټوټه — ونډي ونډي — لوټې لوټې کیدل یا کول ۰۰۰

ستاینوم + مرستیالکړ = لوده — شوده — بدمرغه ۰۰۰ کیدل یاکول ۰

بیاځلی‌ستاینوم+ مرستیالکړ = لوده لوده — شوده شوده ۰۰۰ کیدل یا کول ۰

بیاځلی‌کړول + مرستیالکړ = پورته پورته — کښته کښته — وروسته‌وروسته ۰۰۰ کیدل یا کول ۰

څیزنوم + ارکړ = پښه نیول — لاس‌اخیستل — سرخوزیدل — ځان پړسول — ځان وهل — ځان وژل — ځان‌ژوبلول اوداسې نور منځوال کړونه له اره ترښتی کړونه بریښي ۰

دویمه برخــــه :

ناوړیدونی ګړونه ( INDECLINABLE MORPHEMES )

دګړپوهنی (مورفولوژي) په تیره برخه کی موله نومونو او کړونو څخه خبري وکړي او په هغه ترځ کی مو دهغوی ولونه او اوړونونه (ګردانونه) وښوول په دي برخه کی غواړو دګړونو (مورفیمونو) یوه بله (دویمه) ډله ترکتنی لاندي ونیسو ٠ ددي ډلی ځانګړتیا (خاصه) داده چی دتیري ډلی (نومونو او کړونو) په توپیر ځانته کوم ازاده ویېزه (لغوي) مانا نلري بلکی له خپلواکو ګړونو (نومونو او کړونو) سره یې چار او مانا جوتیږي او له کړولونو (قیدونو) پرته دغونډلی (جملی) له مرستیالو توکونو څخه ګڼل کیږي ٠ کړولونه بیاله نومونو او کړونوسره داروبا ازادو ګړونـــو (مورفیمونو) ډله جوړ وي ٠

ناوړیدونی ګړونه په دي وروسته توګه بیلابیلی ټولی (کتګوري) او ډولونه جوړ وي :

لومړي ــ کړولونه یاقیدونه ( ADVERBS ) :

کړولونه هغه ژبنی توکونه دي چی دیوه کړ ډپیښیدنی څرنګوالی ښیی داخرنګوالی دکړ دپیښید لوځاي یا مهال تاکی ٠ وبایی څرګند تیا ټینګار اودا سی نوري ځانګړ تیاوي (خصوصیات) ښکاره کوي ٠ په پښتو کی اکړ ولونه ناوړیدونی دي ٠ ناارلکه څیزنوموٓنه وستاینومونه چی په څــرمه ډول دکړ ولنویه توګه کارول کیږي البته ناوړیدونی نه بلل کیږ ي ٠ په ټولیز ډول کړولونه داوروسته ویشنه لري :

۱ــ مهالی کړول : چی دمهال له مخی دیوه کړ پیښیدنه اغیز منوي لکه :

اوس ــ وروسته ــ ځکی ــ دمخه ــ پخوا ــ وړاندي ــ سمدلاسه ــ سملاسی په سرکی ــ په پیل کی ــ په پاي کی ــ پاي ته ــ بیرته ــ سرته ــ ژر ــ ورو ــ ګړندي ــ ځنډ یا په ځنډ ــ بی ځنډه ــ په بیړه ــ په تلوار ــ په چټکی ــ په چابکی ــ ووړمه ورځ ــ ووړمه شپه ــ پرون ــ پرون ورځ ــ پرون شپه ــ نن ــ نن ورځ ــ نن شپه ــ نن ګهیځ ــ نن غرمه ــ نن ماښام ٠٠ ــ سبا ــ سباته ــ بل سبا ــ بل سباته ــ ګهیځ ــ سهار ــ غرمه ــ ماسپښین ــ مازیګر ٠

(مازیګر چیري وي لوي مه شـــــــــی مایه ډنګی کی شنه باد رنګ راوړي ووړه) ٠

دوخته ــ ناوخته ــ لمرخاته ــ لمرپریواته ــ سز کال ــ پرو سز کار ــ وورم کال ــ لاوورم کال (ته ) ــ کال ته ــ بل کال ته ــ لابل کال ته ــ ترخو یاخرــ په مخاسته ــ په منډه ــ دمنډې له مخی ــ دولا ي له مخی.

اوداسی نور ار اونا ار کړ ولونه . بیا ځلی (تکراري) لکه : ژر ژر ــ اوسلاس ...

لنډ پرلنډ یا لنډ پرلنډه ــ لاس پرلاس ...

۲ــ ځون (مکانی ) کړول : چی دیوه کړ پیښیدنه دځاي او چاپیریال له مخی اغیزمنه کوي لکـــــــه :

دلته ــ هلته ــ دلی ــ هلی ــ دوري ــ هوري ــ مخکی ــ وروسته ــ شاته ــ مخ ته ــ بیرته وړاندې ــ لري ــ نژدې ... (دغه راز کړ ولونه زیاتره مهالی اوځونی دواړه کاره ورکوي په بله وینا هم مهالی او هم ځونی دي ) ــ کښته ــ ورته ــ لاندې ــ باندې ــ دننه ــ دباندې ــ اخوا ــ دیخوا ــ له لري ــ له نژدې ــ له وراياله وړایه ــ مخامخ ــ پشی شا ــ مخپورته ــ مخکښته ــ مخ پر وړاندې ــ پرمخ ــ پرشا ــ ستونی ستغ یا ستونی ستاغ ــ سرپرځمکی ... ځاي پرځاي ــ لور دلوره ــ لورا لور ــ کوراکور ...... اوداسی نور ارا اونا اریا ساده او ترښتی ځونی کړ ولونه .

۳ــ څرګندنی او ښکاري کړولونه : چی دیوه کړ دپیښیدنی څرګند تیا . حالت څرنګتیا یا ښکاربنیی لکه : په ځغرده ــ په ډاګ یاپه ډاګه ــ ډانګ پیــلی (ویل ) ــ په ښکاره ــ په پټــه ــ په څرګنده ــ په غلا ــ په زیار ــ په خواري ــ په بیړانه ــ په ویره خوله ــ په زور یاپه زوره ــ په خونــه ــ ورو یاپه ورو (اواز ) ــ په نره ــ په مړوسترګو ــ په ټیټــو سترګو ــ په ځګوسترګو ــ په هسکه غاړه ــ په کلکه ــ په ټینګه ــ زړه نازړه (کول ــ ویل ...) ــ په ناسته ــ په ولاړه ــ په منډه ــ په ملاسته ــ هرومرو ــ زازو ــ په هرډول ــ په هره توګه ــ هیڅ په هیڅ یا هیڅ په هیڅه ــ خوشی په خوشی ــ په اوږدو ــ په لنډو یاپه ساره ځه ناځه ــ زړه نازړه ــ لږ و ډیر ...

یاداوږدو ګړنو په بڼــه لکه : وابنه پرخوله رسی پرغاړه (ورتلل ) ......

دویم – ویکی (ادوات PARTICLES ) :

د اهم دناوړیدونیو یا ازادو ګړونو ( مورفیمونو ) یوه غوره برخه د ه او بیلګی یی په دي

وروسته ډول دي :

۱ـ اړیکویکي ( ارتباطی ادات CONJUNCTIONS ) : چی څومره والی او

څرنګوالی یاورته والی له مخی سره اړي او څرمه غونډلی ( جملی ) نښلوي اوپه دي توګه دوه دوه

سره غاړه کیږي چی له لومړي سره یی زیاتره ( چی ) هم ملګري کیږي که څه هم ( چی ) پخپله ځانته

یو اړیکوییکی هم دي ٠ اوپه ګډه د دوو توټو یا غونډو لو اړیکی ټینګوي لکه څومره او هومره دي

غبرګه غونډه له کی ٠ څومره دیګ هومره تیپر ٠ نوري د اسی جوړي لکه : څنګه چی – هسی ٠

که څه هم – بیا هم ٠ څومره چی – هومره یا هماغومره ٠ چیري – هلته ( چیري دي بنه هلته دي شپه )

هسی – د اسی – همداسی – همدارنګه – همداراز – هغسی – هماغسی یا همغسی – خو – مګر

همدوغسی – په همدي ډول – په همدي راز ٠ چی – نو ٠٠٠ په کندهاري ګړدود کی

ځکه هم د څنګه پازه پرځای کوي لکه چی وایی ځکه چی ناروغ وم نو درمل می وخوړل ٠ ( که )

بیا په اړویکو کی یو اړوییکی دي چی د دوو غونډو لو ترمنځ یواړ ( شرط ) ټینګوي لکه که ته راشی

نو زه به هم راشم ٠

۲ـ ورتـی یا تشبیهی ویکی چی په دودیز ګرامر او ادبی فنونو کی یی ( حروف تشبیه )

بولی هغه ویکی دي چی د دوو یا زیاتو څیزونو یا پدیدو ورته والی او مشابهت ښیی لکه :

لکه – غوندي – په څیر – په رنګ – په شان – په دود – په توګه – په ډول – په راز ٠٠٠٠

۳ـ تړویکی ( عطف توري ) چی دوه توکونه ( ویی ) یا غونډلی سره ملګري کوي لکه

او – و – که – یا – سره په دي بیلګو کی : باغ وایډ ګلونو پکی ناست وای زه اوته ـ ( و ) او

( او ) سره همغانیزدي او واڅی غزیز ( فونو لوژیکی ) توپیر سره لري همدغه ( او ) دي چی په

ژبه کارید نه پر ( و ) اوړي لکه موروپلار – خور و ورور مګر که له خپلواکپای وی سره بل وی تړل

کیږي نو په اره بنه راځی لکه کاکا او ماما ٠٠٠

بل داچې زیاتره (او) یو نحوي تړون ښیي او(و) یو لغوي تړون ..... همدارنګه (که) او(یا) هم همغسې تړوونکي بلل کېږي لکه ښه که بد ښه یا بد – (سره) له نورو تړوونکو سره داتوپیر لري چې د ملګرو توکونو (ویيو یا غونډ لو) ترمنځ نه بلکې تر وروسته راځي او همغه سره تړي یا ملګري کوي.

٤– تولوییکی (اضافت توري) چې څیزونه یا پدیدې سره یو له بله اړوندوي یا یو د بل تړل او ملکیت کوي په جولیز ډول پښتو یوازې یو تولوییکی (د) لري لکه: د هلك خولۍ – د پښتو ځانګه د اسمان ستوري ..... داچې پښتو ځانګه یا دري ځانګه – ادب پوهنځی یا کابل پوهنتون بې (د) ویل کېږي دلیل دادې چې په لومړیو دوو ساریو (مثالو) کې پښتو او دري د نورو ژبنۍ نومونو غونډې د ستاینومو بڼې غوره کوي او ستاینوم په پښتو کې په خپل څیز نوم پورې سیده نښلي نور ساري يې لکه: افغان اولس – باختر اژانس – پښتون ځلمی او داسې نور. او ادب پوهنځی یا کابل پوهنتون د نومونو او تړګونو (ترکیبونو) په توګه د (د) غونډې یو نحوي توك ته نوره اړه نلري: نور ساري يې لکه: طب پوهنځی – پلان وزارت – دفاع وزارت او داسې نور. (د) د تولو الې ترڅنګه لږ و ډېره مهالي پاره هم ترسره کوي لکه د شپې – د ورځې ... مګر د سربل په توګه د (د) کارونه د لیکنی معیاري پښتو له بنسټو څخه چپه بریښي لکه د ځلمي سره د کند هار څخه راغلم. همدارازله تشبیهي ویبکو (غوندې – په څیر – په رنګ ...) د یوه (سربل) په توګه هم غاړه کېږي لکه د زمري غوندې .... له (– پاره) سره نن سبا د ومره نه مل کېږي بلکې پر (له) او ښتې دي.

٥– سربلونه( PREPOSITIONEN )او اوستربلونه( POSTPOSITIONEN ):

سربل یا پیشینه همغه ویکی دي چې تر یوه نوم د مخه راځي او به یوه غونډ (فقره) یا غونډ له کې د همغه نوم پیر اوډ ریخ ښیي. لکه (په) په (په کورکی) – (له) په (له ښوونځي څخه) یا (له ځلمي سره) (تر) په (ترکوره پورې) – (په) په (په تاپورې) او داسې نورو بیلګو کې. په دې توګه موږ ګورو چې یو سربل د یوه بل ویکی په ملګرتیا چې تر نوم څخه وروسته راځي. نوم په تون – وتون او داسې

نورو پیرو کی اچوي دغه ترنامه وروسته ملګریوییکی یی (اوستربل ) یا پسینه بلل کیزي ° سره له دي چی سربلونه او اوستربلونه دغوندل (جملی ) یا په بله وینا په ناخپلواکو او مرستیالو توکونوکی راځی اومانا اوپازه یی د ځمغو نومونو یا کړ زنو او کړ ولونو په ګاونډ یتوب کی څرګندیدا ي شی ° خو داچی پردغو اروپا ځپلواکو توکونو یو ډول اغیز لري او دهغو د ریخونو او پیرونـــــه (حالتونه) څرګند وي نو اد اره کوونکی ـــ چلوونکی یا واکمن توکونه هم بلل کیزي (په نحوي تجزیه کی به پري پوره خبري وشی ) ° د دغه پورتنیو یازو اوندو له پلوه سربلونه او اوستربلونه په دي وروستیو ډولو ویشنه مومی ؛

۱ــ په ــ چی له (کی ) اوستربل سره د اړوند (مربوط )نوم تون پیر یا ظرفی حالت څرګندوي لکه (په تږلګی کی ) ــ له (پوري ) اوستربل سره بو بل ډولځ تون پیر یا په بله وینا یوپیو ستون ښیی لکه په ځان پوري ــ په تاپوري ــ ستا په خبري پوري (بارتباط ګپ شما) ــ له (سره) اوستربل سره یو لوښتپیر (الی حالت ) را ښیی لکه په بیاتی سره ــ په چړي سره ــ په وینا سره ــ په زور سره ــ په خوښی سره ــ له ( پسی )او ستربل سره یو بډ راز تونپیر یا پرله پسی والـی څرګند وي لکه ؛ په تاپسی ــ په سختی پسی اسانی راځی ــ په ژمی پسی پسرلی دي لکه په پورتنیو بیلګو کی چی لید ل کیزي کله کله تري ملګري اوستربل لویداي هم شی لکـــــه ؛ په خوښه که په زوروي له مظلوم به د ظالم لاس لنډیزي په تا اړه نلري (په تاپوري اړه نلري ) ــ په لیکانی لیک کیزي (په لیکانی سره لیک کیزي ) ° مګر (په کور ) له (په کورکی ) سره یوراز نه دي ځکـــــــــــــــــــــــه (پـــــه کــــــــــــــــــــــور) له اره (پرکور ) دي چی ظرفی نه بلکس استعلایی مانا ښندي ° همدا راز په وخت ــ په کال ــ په مازیګر ــ په بجو ° ° ° ° ° د پروخت ــ پرکال ــ پرمازیګر ــ پربجو ° ° ° ° ناسم یا ناکره ښیی دي ° همدا خبره د ه چی موز (پمپنتولیکل ) او (پرپښتو لیکل ) سره توپیر وو °

۲ــ پر ــ یو باندي نی (استعلایی ) وییکی دي چی یو اړوند اوستربل (باند ي )یی زیاتره غوږ ځیزي لکه پرمیز باندي یا پرمیز ــ پر ځمکه باندي یا پرځمکه ــ پرزړه باندي یا پرزړه ــ

پرسرباندي یاپرسر — پرزړه یو څه پرخوله بل څه — پروخت — پرکور — پرکابل — پرلسو بجو — پر ۱۳۵٦ کال اود اسې نور . پرهم د (په) غونډې زور پای نومونه پراونښتي پرونه اړ زي .

له کندهاري اوتاریخي ادبي پښتو پرته نور زیاتره ګړ دودونه (په) او (پر) سره ګډ وي پر یوه وخت یادواړه په الي — ارتباطي اوتسلسلي مانا کاروي په بله وینا دواړه د (په) پازه پرځای کوي او یادواړه په استعلایي مانا پاپه بله ژبه دواړه د (پر) دنده تر سره کوي . لکه د (په پښتو لیکل) او (پرپښتو لیکل) بیلګې چې د (په) په برخه کې راوړل شوې . په یوه کره لیکني پښتو کې د دغه دواړو سرېلونو توپیر ضروري دي . یوځلی ار هم دادي چې د وه توکونه یا دودونه په تاریخي او اتمو لوژیک ډول هیڅکله همما نیزاو همپازینه وي د همدغه اړ په ترڅ کې سپمایي ارهم سمبالیزي که په ګړنی ژبه کې دغه ارونه د ومره پرځای هم نشي مګر په لیکني ژبه کې څو اړخیز ګټور نقش لري . توپیریانه ګډوډون — کارویش او سپما دنړۍ دهري ژب بنسټ جوړ وي . په دې توګه په کار دي (په پښتو لیکل) د اسې مانا کړ وچې یو څه په پښتو ژبه لیکل کیږي نه په بله ژبه ا (پرپښتو لیکل) د امانا چې د پښتو په باره کې څه لیکل کیږي نه د بلې ژبې یابلې موضوع په باب همد ارازپرکابل اوسیږم د امانا چې د کابل د ښار په شاوخواکې اوسیږم اوپه په کابل کې اوسیږم د اچې دننه په کابل یا کابل ښارکې . په پارسي کې هم د (به) او (بر) توپیر په زړه ادب اواوسني ایراني ادب اولیکه کې پوره څرګند دي . د (پر) بل اوستریل (سرییره) دي چې ناکره ډول یې (برسیره) هم لزو لیږ دود لري . دغه اوستریل هیڅکله نه غورځول کیږي که نه مانایې له (باندې) سره ګډ یېزي او یوکیږي . پرد و ییکو مخري (اداتی ضمیر) — پري — پرځای کارول چې کندهاري ګړ دود و اړه لري هم د یاد شوو ژبنیو ارونو له مخې په ټولیزه لیکني پښتو کې د منني وړ نه بریښي . همد اسې تر اوبه هم د رواحله چې له ترې اوپې یاپري سره ګډ ول ګڼل کیږي پیښوي .

۳ــ تر — چې د (پر) په (مقابل) سرېل دي هغه د اچې ترهر څه د مخه د پرغونډې د (باندې) نه چې د (لاندې) اند ښسندي له دې کبله یې لومړي اوستریل (لاندې) دي چې هیڅکله غورځیدنه نه مني لکه (ترمیز لاندې) چې (ترمیز) بیا ګرد سره بله مانا ښندي

او هغه توني او مهالي پيوستون دي لکه ترننګرهاره – ترمازيګره چې اوستريل (پوري) يې هر و مرو ملتيا نکوي . دريم اوستريل يې (ورسته) يا را وروسته کړول دي لکه ترغرمې وروسته يا ترغرمې را وروسته – ترڅلمې وروسته زما واردي .... له څلورم اوستريل څخه (ځنې – نه) سره پرتليز جاج ښندي لکه ترتا څخه زه ښه يم چې دغه اوستريل په غورځيدو (ترنا) هم سم راځي . د دي پرځاي چې د نورو ژبو په ښېښو – سزنې کال د پروسز کال په نسبت پيروزندي (بارنده) دي – ووايو (سزنې کال ترپروسز کال پيروزندي دي) لنډ او کره راځي . (تر) په دغه پرتليزه (نسبتي يا تدرجي) مانا له (له) سريل سره هممانيزکيږي خوداچې (له – څخه) تر هرڅه د مخه وتون پير (منشايي) حالت څرګندوي . نو بيا هم له (تر – څخه) سره يې ګډ ول په کارندي – يالز ترلزه (ترتاځنې) وکارول شي . له تولوييکي (اضافت توري) – د – سره يې ونجول هم پې ځايه دي لکه ننګرهاريان چې وايي : د کوره په ساراخوښ يم – د ويشه په تالا . خوداچې په ډېره کره ليکني پښتو کې دلته د پرتلې مانا موخه (مطلوب) ده نو (ترکوره پرسارا خوښ يم – ترويشه پرتالا) تري سم بريښي او له کوره پرسارا خوښيم – له ويشه پرتالا) دومره ټيک او غوره نه راځي .

دغه راز په ختيزو ګرډودوکې د (په) – (تر) – (له) پرځاي هم زياتره (د) کارول کيږي چې دا هم له ژبنيو او معيارياړونو څخه چپ بلل کيږي لکه د ځلمې پسې – د ننګرهار پورې – د ميزلاندې – د ننګرهار نه – د ځلمې سره د کندهاره راغلم – د پښتو ټولنې د لغاتو د ځانګې دخوا – د تانه يا ستانه زه ښه يم ..... کره کول يې : په ځلمې پسې – ترننګرهار پورې – ترميز لاندې – له ننګرهاره له ځلمې سره له کندهاره راغلم – د پښتو ټولنې د لغاتو د څانګې له خوا – ترتا (څخه) زه ښه يم .....

٤ – له – چې له (څخه – نه يا ځنې) اوستريل سره له اره ديوه نوم (وتون پير) منشايي حالت څرګندوي لکه له سيستانه يا له سيستان څخه يا له سيستان نه او يا له سيستان ځنې . په دويمه (نسبتي) مانايې کارول يې دومره کره نه بريښي لکه پاس چې ورته ګوته ونيول شوه .

(له) له دویم اوستربل (سره سره د ملگرتیا (معیت) جاج ښندي لکه له ځلمی سره تر هرات پورې ملگري وم اود اسې نور. په دغه مانا یې اوستربل (سره) پر (څخه یا څه) اړول له گړي کره لیکې پښتو څخه چپ بریښي په بله وینا باید (له ځلمی سره) او (له ځلمی څخه) په یوه مانا ونه کارول شي . دریم اوستربل یې (وروسته) دي چې مهالی او تونی کړول (قید) ورسره جوړ وي او له (تر) سره یې پازه یو کیږي لکه لرغری وروسته کورته ځم چې البته (ترغرمی وروسته ترې) زیات غوره بریښي په بله وینا (وروسته) د (له) نه بلکې د (تر) معیاري اوستربل دي . څلورم اوستربل یې (راهیس) دي چې یو مهالی کړول ورسره جوړ وي لکه له پروسږ کال راهیسې – له پیروکلو راهیسې – له پخوا راهیس .... ناکره یې: د پروسږ کال راهیسې – د پیروکلو راهیسې – د پخوا راهیس ...... په دې توگه (راهیس) د یوه او ستربل په توگه باید په (نوم) سیده ونښلول شي اوبل کوم زیاتی اوستربل یا بل ژبنی توک ترې دمخه نشي په بله وینا (له پیروکلو څخه راهیس) نه بلکې (له پیرو کلو راهیس) وویل شي (د پیروکلو را په دیخوا) هم مانیز اندول دي خود پارسي (ازسالها باینطرف) تکی پرتکې اړونه ده او د ومره رواني اولندون هم نلري . د (له) پنځم اوستربل (پرته) دي چې د (سره) یو او مقابل جاج ښندي د امانا چې د اړوند نوم ملگرتیا نه چې بیلتیا اونشتوالی څرگندوي لکه له بللیو پرته نابللي هم راغلي وو .

٥ – بې – چې زیاتره د (نا) غوندي یوستاینومیز (صفتي) مختاړي دي لکه بې کوره . خولز وپیره سربلی ځانگړتیا هم لري او هغه هم زیاتره د (له) په ملگرتیا او د یواځینی اوستربل (څخه – نه یا ځنی) په د رلودلو ، لکه بې له تا څخه – بې له هغه څخه چې له تا او بې له هغه هم ویل کیږي مگر (بې تا) ویل کیږي او (بې هغه) نه .

(بې) تل یو خپلواك سربل نه دي .

٦ – و – یو پخوانی سربل دي چې له (ته) او ستربل سره ورتلون پیر (مفعول له حالت) څرگندوي چې پخوانی څرك یې په لویدیزو (کندهاري) گړ دود وکې پاتی دي اونورو تولو گړ دود وله لاسه ورکړي اود هغه اوستربل (ته) یوستري کاروي لکه: وتاته وایم – وښوونځی ته ځم . . .

دمنځنی دوري شاعرانو هم ډېر کارولی اوداکله یې دوېم ځلی ترنوم وروسته هم راوړي او اوستربل (ته) سره بیاهم پټلیز (جرخت) نښلولی لکه رحمان بابا چې وایي : خدای وماوته ښکاره کړ هغه لمر یا ... ( ) ... بې ... دي لکه : پیرمحمد کاکړ چې ویلي دي : سوزګداز د محبت هسې وماراو په هره توګه دیونکو د ډېرښت په لاسوند تر (و ـ ته)، (ـ ته) زبات معیاري ارزښت لري .

۲ـ د ـ که څه هم په ټرلیز ډول یو تولوییکی دي خوله (غوندي) اردا سې نوروتشبیهی اوتونی وییکو سره د سربل په توګه هم راځي خوبیا هم د تولوالی ځانګړتیا ښیي لکه د ځلمی غوندي په رنګ ـ پرشیرـ په ډول ـ په راز ـ په توګه ـ لپاره د کوردنښه ـ د کورد باندي .... چې ترکوردنښه ـ ترکور د باندې باله دانا ورکړي . چاپیر ـ چارچاپیرباګرد چاپیر ـ تاوراتاو ـ کښته ـ پورته ـ پاسې ... هم د ترا وستربلونه دي . پرپورتنیو وییکو سربیره . ځینې نور راز راز وییکی هم شته چې په غونډ له کې بېلا بېلې پاڼې لري په دوي کې د ځینو پاڼې صرفي بڼل کیږي او ځینې نحوي او ځینې دواړه ډوله . صرفي لکه (به) چې د نا بشپړ اونا خبري (لکه ګومانی) اراو سترمهال کې پرځوك جوړ زي يا (نه) ار (مه) چې کې نفي یا نهی کوي . یا (که) چې اړ ربیکی دي . غونډ له پوهېزیا نحوي لکه ( نه ) ومنفي ځواب په توګه ـ (هو ) دمثبت ځواب په توګه. چك( ولی نه) هم ځواب په توګه ـ (سره) په صرفي ډول لکه سره تلل ـ په نحوي ډول یا په بله وینا د اوستربل په توګه لکه له ځلمی سره ولاړ ـ (بیا) د کړ ول او هم اړیکوییکی په توګه ـ (مګر) یا (خو) د اړیکوییکی په توګه ـ کورټ ـ بیخي ـ چورـ هډو ـ سوچ ـ چورلټ ـ ورټ ـ بیخپوره ـ لا ـ ان ـ هن ـ ایله ـ په متې یا متې ... د مرستیالو کړ لونو په توګه ـ و ـ یه ـ یا ـ آ ـ او ـ ای د بلن وییکو په توګه ـ (ایا) د پوښتوییکی په توګه . باروییکی لکه اخ ـ ارخ ـ اوش ـ اوه ـ آه .... چې د ناخاپي خوښي یاویري اودا سې نورو هیجانونو (پاریدنو ) څرګند ونه کوي چې ترا رو او مرستیالوتوکونو وروسته دغونډلی د توکونو د ړیمه ډوله جوړ زي ار پرځپل ځای ځیرل کیږي .

وىنا وابنتي يا تكيه كلامونه لكه ماسكه – غوله يا غولى – مره – يامري – غوچى – چى دي ··· كاكا گوري – ماما گوري ··· هم لـرزو ډيرپه يوستوو او ترښتى ويكوكى رائحى · چى د يا ربلن وبيكو يا پارويبكوغوندې نومونى پازه نه پرځايګوي بلکـس راز راز ننگيرنى (احساسات) څرگندوي ·

## ۳– کـــــړاوونــــــــه

۱– کړځه رازگړ دي؟ څه او څنگه څرگندونه کوي؟

۲– مصدر له کړ سره څه اړيکى لري اودغه نومونه (اصطلاح ) د څه لپاره کارول کيده او کارول کيږي؟

۳– ديوه کړ بنسټ او اساس څه شيز دي اوپه څه نامه يادېږي؟

٤– يو اوړ ون موندلى کړ څومره توکونه ارچارونه د رلود اي شى؟

٥– مهال پرڅو ډوله دي؟

٦– کړ نوزي څه ته وايى اوپرڅو ډوله دي؟

۷– وگړي او گڼه سره څه توپير لري؟

۸– چارواک– بېچار او منځوال کړ په يو يو ساري (مثال) راوپيژنى ·!

۹– کړ نوم يا حاصل مصدر څه ته وايى او څو ډوله جوړېداي شى؟

۱۰– توانى کړ څنگه جوړيږي؟

۱۱– بشپړ (مطلق ) او نابشپړ (غير مطلق )کړ سره څه توپيرلري؟

۱۲– لر او لنډ کړ په يو يو ساري وښياست؟

۱۳– کوزاتيف يا ليزند چار کړ څه ته وايى؟ له يوه ساري سره يې وښياست!

۱٤– کړول څه ته وايى؟

١٥ـ د اوروسته غونډ ونه یا عبارتونه کوم کوم ټول کړ ولونه دي او په غونډ لو کښ څه پازي پرځای کوي ؟

په سیرانه ـ په ځغرده ـ په ټاکه ـ ټانګ پیلی ـ هرو مرو ـ هیڅکله ـ ژر ـ ژرژر ـ ورو ـ په ورو ـ په زور ـ په خوښه ـ په ناخوښه ـ ورووړو ـ دلته یا دلی ـ هلته یا هلی یاهله ـ دننه ـ دباندې ـ دلاندې ـ شاوخوا ـ ګرد چاپیر ـ دپاسه ـ کښته ـ له کښته ـ پورته ـ له پورته ـ په لوي لاس ـ په غلا ـ په پټه ـ په ښکاره ـ په ښرګنده ـ په غوږ اوږ یاپه غوږ مالی ـ په ټیټو سترګو .... نن ـ پرون ـ وورمه ورځ ـ سز کال ـ پروسز کال ـ کال ته ـ بل کال ته ـ پسرلی ته ـ دشپې ـ د ورځی ـ غرمه ـ مازیګر ....

٤ـ کړ اوونه ( تمرینونــــــــه )

١ـ سربل څه ته وایی او ستربل څه مانا ؟

٢ـ پښتو ټول څو ستر بلونه او او ستر بلونه لري اوهغه کوم دي ؟

د دي لاندې غونډ لو تشځایونه په سمو سربلونو او اوستربلونو ډ ک کړ ي !

٣ـ ... کابل کی د ژمی سا ړه وي ـ ... زړه به دي یوه وي ـ دریبنه به شی بله ـ زه ...لیکانی سره لیکل کوم ـ زه ... انګلیسی ... روس ښه غز یدای شم ـ کوچیان داوړي ... کابل وي او دژمی ... ننګرهار ... اوس ـ زما په کالیو .... مه خانده ! سپین ... تور اوښتل یابدلیدل ـ اوبه ... ټانګ بیلول ـ ... زده کړې پس ملا وتړه ! په تا ... اړه نلري ـ زه کور ... پنځو بجو ځم ـ ... غره باندې واوره اوري ـ ... ټیوي لاندې تیاره ده ـ ځلمی سربیره زمري هم راغی ـ ... ځلمی پرته نور ټول ولاړ ل ـ ... ټولګی دننه ـ ... ټولګی دباندې ـ سپوږمی .... منځ داسمان راغله ـ یاخوخوب نشته یا خوما ... نه راځینه ـ که غم ... غمه شرمیدلای ـ ... مابه نه راتلای ځولی ځولی غمونه ـ ... تور ټویك ویښتلی راشی ـ

د بې ننګي اوازدې مه راځه مینه ! دیار ۰۰۰ پاره د رمسال جاروکومه ۰۰۰
ګود ر سور سالو بنکاره شو - اشنامی سر۰۰۰۰ وطن کیښود - ۰۰۰۰۰
تار د زلفو به کښې ورته ګډېږمه - که زما عمر ۰۰۰۰ ضرور وي تیر به شینه ۰۰۰۰ لوېو غرود خداي
نظردي ۰۰۰ لمن ۰۰۰۰ یې زېږ ګلونه - که ولاړ شې ۰۰۰ بلخه د رسره د ه خپله
برخه - ګلاب ۰۰۰ اصله شاهزاده دي - رامبیل چامبیل یې اردلیان ورسره ځینه - ۰۰۰۰
ګود ر څه کانه راوشوه - چې کشره خور یې ورسره ګود ر ۰۰۰ ځینه - ما ۰۰۰۰ په سرو زرومنظور
دی - که د جانان ۰۰۰ لاسه توري خاوري وینه - خپه پري نه یم ۰۰۰ جانان سره به یمه -
۰۰۰۰ خاورو سترګودي جارشم - چې ۰۰۰ ژړاشي مرغلري تویوینه - ۰۰۰ وچه ږاګه
د لونګو بوي راځینه - زما ۰۰۰ تشه خند استه - ما به جانان ۰۰۰ لاس نیولی ګرځوونه
که شینکی خال مې د چړو ۰۰۰ څوکو ځینه - چې ۰۰۰ سنګره پوري زه د رسره ځمه
سپوږمی ۰۰۰ دي څه احسان دي - زما جانان ۰۰۰ دیواله سیوري ته ځینه .

د پښتو ګړونو ( مور فیمونو ) د ډلبندۍ انځورلیک

ګړ ( مور فیم )

- آزاد
  - ګړونه
  - نومونه :
    - خپزنوم
    - ستاینوم
    - شمیرنوم
    - نومځري
  - ګړولونه
- تړلی
  - وییکی :
    - اړیکوییکی
    - تړوییکی
    - سربل
    - اوستربل
  - تاړي
    - مختاړي :
      - اوړونی ( تصریفي )
      - بیلښتی ( اشتقاقي )
    - روستاړي :
      - اوړونی
      - بیلښتی

## د ریمــــه برخـــــه

## غونډله له پوهه ( نحــو SYNTAX )

لکه څنګه چې دغږ پوهې دوېیني یوون ( د بحث واحد ) غږ دي او دګړ پوهې هغه ګړ دي . نو دغونډلې پوهې دوېینې یوون غونډله ( جمله ) ده . په بله وینا غونډله پوهه د غونډلو ـــ دغه راز دغونډونو ( فقرو ) او ګړنو ( ایدیمونو ) جوړښت اوړولونه ترکتنې او وېینې لاندې نیسي .

غونډله ( جمله ) :

غونډله له دګړونو او وییونو یوداسې اوږد لړ غونډ ( کل ) دي چې یو بشپړ جاج ( مفهوم ) او برخه ( مطلب ) ترې پوهول کیږي . له بله پلوه داچې خبري یا وینا په غونډلو کیږي او بې غونډلو خبري او وینا نه تر سره کیږي . نو داسې یې هم پیژندلای شو :

غونډله له دخبرو ـــ وینا یا ګړ هغه بشپړه خپلواکه ناشنونې رغاونه ده چې تري بلــه ستره رغاونه نشته . په بله وینا : غونډله دخبرو او وینا تر ټولو لوي یوون ( واحد ) دي .

دغونډلې جوړښت :

غونډله له لوړي پړاوو برخو یا غونډونو ( فقرو یا ګروپونو ) وېشل کیږي چې یـــو یې ته نوموال ( اسمي ) او بل ته کړوال ( فعلي ) غونډ وایي . دپاړي له مخې نوموال غونډ ته ایښې ( مسند الیه ) او مبتدا ـــ او کړوال غونډ ته ایښودنې ( مسند ) یا خبر هم ویل کیږي .

په ایښې کې یا کړنده له خپلو اړوندو سره راځي ( که په چاروال کړ اړه ولري ) او یا کړي له خپلو اړوندو سره ( که په بیچار کړ اړه ولري ) . په ایښودنې کې کړ او کړي دواړه له خپلو اړوندو سره راځي . په دې اړ چې کړ چاروال لېږندوي که نه یواځې کړ له خپلو اړوند وسره راځي . دکړنده او کړي اړوند نه ستاینوم ... شمېر نوم ـــ ټولنوم ( مضاف الیه ) ـــ ټولوییکې ـــ پیژندوییکې او داسې نور ضروري وییکې کیدای شي اړدګړ هغه کړلونه ( قیدونه ) . په دې

توګه تول لوي اوواړه یا خپلواك (ازاد) اوناخپلواك یا ناوریدونی ګړونه اوتوکونه په یوه غونډله کې راغونډیدای شی او دهمدغو توکونو په کتوالی اوزیاتوالی سره زړي یا لوي غونډلې منځ راځي •

دیوې غونډلې د شتوالي لپاره کې اړ یا بنیادي توك ګردان شوې کړ دي • که هرڅومره ژبنی توکونه سره لېرې شی اوکړونه لري • غونډله جوړ والای نشی اویه سرچپه ډول پخپله ګردان شوې کړ دیوې غونډلې لپاره کې اندازه ده لکه خوړم – څښم – ځم اوداسې نور •
ځینې نادوده یا غیرعادي غونډلې چې کړ یې غورځیږي اوبیا هم غونډلې بلل کیږي هغه بلن غونډلې یا ندائیه غونډلې دي لکه : یه پښتیانا ! یه ځلمیه ! دغه راز – هو – نه – بنه څنګه – ولې اوداسې نور – نښتو مخري هم نیمګړي یا اندېي کړ شوې غونډلې دي هغه هم دخبرو اترو او دیالوګ په ډول لکه چې یوووایی : ته ناروغ یې – بل داسې ځواب وایی : هو – نه – ولې – څنګه اوداسې نور •

اوس دیوې پوره ساده غونډلې څو بیلګې وړاندې کوو :

| | | |
|---|---|---|
| ١– | ځلمي | راغـــی |
| | ایښــی | ایښوونی |
| ٢– | د ځلمي ورور | راغـی |
| | ایښی | ایښوونی |
| ٣– | د ځلمي مشرورور | نن کابل ته راغی |
| | ایښی | ایښوونـــی |
| ٤– | د ځلمي پوورور | نن له کندهار څخه کابل ته راغی |
| | ایښــی | ایښوونـــی |
| ٥– | ځلمـــی | لیك کاږي |
| | ایښی | ایښوونـــی |
| ٦– | یوهلك | یو لیك کاږي |
| ٧– | یولیك | کښل کیږي |
| | ایښــی | ایښوونـــی |

په لومړۍ غونډه له کې هم اینښ (مسند الیه) له یوه ساده کړند څخه جوړ وي او هم اینښونې له یوه ساده کړ څخه، په دویمه غونډه لې اینښ له داسې کړند (وروړ) څخه جوړ دي چې (ځلمی) ورسره د تولنوم (مضاف الیه) او (د) ورسره د تولوییکې په توګه اړوند (متعلق) بلل کېږي خو اینښونې لا هماغسې یو یو ستوی کړ (راغی) دي . د دریمې غونډه لې د اینښ کړند (وروړ) یو ستاینوم (مشر) — یو تولنوم (ځلمی) او یو تولوییکی (د) د خپلوا اړوندونو په توګه له ځان سره ملګري کړي او په اینښونې کې کړ (راغی) له ځان سره یو مهالې کړول (نن) او یو تونې کړول یا په بله ژبه مفعول له (کابل ته) د خپلو اړوندونو په توګه ملګري کړي دي .

د څلورمې غونډه لې په اینښ کې کړند (وروړ) له ځان سره یو پېژند (یو) د (حرف تعریف) — ځلمی د تولنوم او (د) د تولوییکې په توګه ملګري کړي او په اینښونې کې یې کړ (راغی) یو مهالې کړول (نن) او دوه تونې کړولونه (له کندهار څخه) او (کابل ته) په خپلې اړوندې کې لري . د لومړي تونې کړول په دروتو کونو کې (کندهار) د سرېل او اوستربل (له — څخه) په ملتیا وتونپیر (مفعول منه حالت) موندلی دي او په دویم تونې کړول کې (کابل) د اوستربل (ته) په ملتیا ورتلونپیر (مفعول له حالت) .

سرله پنځمې څخه د پورتنیو څلورو غونډو پرخلاف د نالېږند (لازمې) کړ ځای لېږند (متعدي) کړ نیسي او په دې توګه یې کړي (مفعول) ته هم اړتیا پیدا شوېده . د پنځمې په اینښ کې کړند (ځلمی) بېوسېتوي راغلی او په اینښونې کې یې کړ (کاري) له کړي (مفعول) سره ملګري شوی او په شپږمه کې اینښ د تولنوم (عام اسم) په توګه له هلك سره د پېژندنې او ټاکنې لپاره ورسره پېژند (یو) هم ملګري کړي دي او همدا راز د اینښونې له کړي (لیك) سره هم یو پېژند . د لومړي پېژند پرځای بل ډول پېژند (څو یا کوم) او د دویم پېژند پرځای بل پېژند (کوم) هم راتلای شي په بله وینا (یوهلك یو لیك کاږي) (څو یا کوم هلك کوم لیك کاږي) سره څومره بېزاو څرنګېز (کمي او کیفي) توپیر نلري .

اوومه غونډه له بیا دپنځمی او شپږمی غونډه لی غونډي چاروال لیزندکړنه بلکی بیچار لیزندکړ لري په دې توګه یی کړي (لیك) له خپل پیژند (یو) سره ایښی جوړوي او (کښل کیږي) دیوه ترښتی کړ په توګه ایښوني ٠ دغه راز کړي (لیك) چی دکړندځاي نیسی او کړ وریوري اړه (اسناد) پیداکوي ٠ نوره دودیزه نومونه یی (نائب فاعل) بولی ٠ دادي دپوره څرګند تیاپاره دخو بیلګو غونډه لو انځور لیك (ګراف) وړاندي کوو :

١ــ نالیزندہ غونډلـــه :




٢ــ چاروالہ لیزندہ غونډه له :



۳ـ بیچاره لیزند د غونډ لــــه :




دغونډ لی رغنده توکونــــــه :

پاس موپرد وو برخو (اینبنی او ایښونی) دغونډ لی ویشنه وکړه دلته غواړو په تولیز ډول یې ټول رغنده توکونه (گروته) ترکتنی لاندې ونیسو او ډهغو دخومره والی لمخی دغونډ لي جولیز (شکلی) ډولونه ونومو . دغه توکونه ټول ازاد یا خپلواك گړونه اوله ناخپلواکو یا تړلیو گړونو څخه یواځی وییکی را اخلی . البته تاړی دازادو گړونو دنه جلا کیدونکو توکونو (اجزاوو) په توگه دغونډ لی سیده توکونه (عناصر) نه بلل کیږی په دی توگه یی که ازاد توکونه او ړون موندلی ـ بیلښتی (اشتقاقی) او تړښتی (ترکیبی) هم وی دغونډ له پوهی (نحوی) له پلوه بیاهم دښتنی وړ نه دی بلکی هریو دغونډ لی یو یواځینی تـــوك (جز ٔ) یا توك (عنصر) او یا یوون (واحد) گڼل کیږي لکه : خورم ـ خورو ـ خوړلــی ـ خوړونکی ـ خوړل ـ ورکوم ـ ورکوو ـ ورکړي ـ ورکوونکی ـ ورکول ... زمري کیدل ـ کــول ـ لاسته راوړل اوداسی نور . دساري په ډول (زه خپلو شاگردانو ته په درنه سترگه گورم) .

غونډه له په نحوي ډول اته توکیزه بلل کیږي چې څلورې (زه ــ ته ــ په ــ سترګه) ساده توکونه (ګړ ونه یا ویپونه) دي او څلورې (خپلو ــ شاګردانو ــ درنه ــ ګورم) داوړ ونې (تصریفی) تاړ وپه دړلودلو سره اوړ ونې توکونه (ګړ ونه یا ویپونه) دي . یا (ځلمی یو کتاب ترلاسه کړي دي) په غونډه له پوهیز ډول یوه پنځه توکیزه غونډه له ده چې یې (ځلمـــی ــ یو ــ کتاب ــ دي) ساده توکونه (ګړ ونه یا ویپونه) دي او (ترلاسه کړي) یو ترښتی توک یا ګړاو یا وییی . ځکه له شننې سره یې اوسنی یواځینی مانا له منځه ځي او ترښتی چاج له لاسه ورکوي .

دغونډه لې توکونه په لاندې ډول ډلبندي کیږي :

١ــ ارباخپلواك توکونه چې تول ازاد ګړ ونه را اخلی . نومونه (څیزنومونه ــ ستاینومونه ــ شمیرنومونه ــ نومځري) ــ ګړ ونه (ار ــ مرستیال یا ساده ــ بیلبنتی ــ خواپرخوا ــ ترښتی) او کړ ولونه (اراونا ار) دي .

٢ــ مرستیال توکونه . چې په دوي کی ناوړیدونی ګړ ونه (ویکی) راځی لکه اړیکویبکی -- ترویبکي ــ سرپلونه ــ او ستر بلونه اوداسی نور .

٣ــ په دریمه ډله کی انګیرییکی ــ پارویکی ــ بلن ویکی اوداسی نور راځـــی لومړي ډ له (ارتوکونه یا خپلواك توکونه) دموضوع څرنګوالی ــ څومره والی ــ چاروالی (فعالیت) اوداسی نور جاجونه (مفهومونه) نوموي او یا ورته نغوته کوي یا په بله وینا هم ویپزه (لغوي) مانا بښندي هم پښوییزه دغه ډلـــه ارزو کړ ولونه پرته تول او ړیدونی ګړ ونه را اخلـــی .

دویمه ډ له (مرستیال توکونه دنومونی او نغوتنی پازه نه بلکی یواځی پښوییزه مانا اوچارلري . مرستیال ورته په دي وایی چې دغونډه لی دارو توکونو ــ غونډه ونو او غونډه لو ترمنځ اړیکی تینګوي .

په دریمه ډ له (پارویکی ــ بلن ویکی ...) دنومونی پازه نلري او دبیلا بیلو ځانګړ و ننګیرنو څرګندونه کوي پارویکی لکه دخوښی (واخ ــ وخ ــ اوخ ...) یا

دخپګان اندیښنې او درد ( وای — ری — اه — اوه — ینننن — وش — الا یاهله — آه … ) اوداسې نورې هیجاني جغې سوري او اوازونه ، بلن رییکي لکه دځناورو — ځناورو او مرغانو ژباني او هغوئ یارښت ، اوشړنې لیاره لکه اوښه ! اخه ! کشې ! تښه ! تو رو … ح ! کچ کچ ! ګوري ! ورکیش ! پیش پیش — خخخخه … خې ! ځکځکه ! کور کور ! ( خروته ) نغښته … مګر انګیری پیکي یا دنومونې پاره تر سره کوي لکه بغ — بم — بوس — غوس — ګر اوداسې نور بې مانا اوازونه چې د طبیعې پیښو په بڼه له خولې راوځي ، په دوي کې ځینو داروته تر کونو ( ځیز نومونو ) ارزښت هم پیدا کړي وي لکه د رز — غرزی … د ( دغو ځیزو اوازونه ) — ترپیه — د رونبا — ټه ټه — ټه رب … ( دوهمې اوازونه ) اوداسې نور ( د ځیز نوم د ولوت — ه دي هم وکال شي ) ،

اوله وون ( ترتیب )

اوله ون د ادانا چې په یو ه غونډ له کې بیلا بیل یاد شوي وغنډ ، توکونه سره ځای که اوله ل ( ترتیب ) بولي ، ځکه دو وویل چې په لومړي دوه برخیز ریښکي دیزي غونډه لی ترموال غونډي ( اینې یا پیل اوونامیده ؟ ) د ځه اوکړوال غونډه ( اینوس یا پای او یا خبر ) وروستــه راځي ، ګوره څوه هر یوه غونډه کې د بیلابیلو توکونو ځای که اواره نه د هري ژبې یوه بیلوونکــې ځانګړتیا بللی کیږي ، لکه څنګه چې ړه څو تیرو بیلګه غونډه او تی څه ناڅه ولیدل چې په لومړن برخه ( اینې ) کې که یوناليزي ندیا چاروال لیبزند کړوالا غونډه له ري ، کړند ( فاعل ) ځانته یا له خپلوا ړونو توکونو سره راځي او که یو بیبچار کړ والا غونډه له ري ، کړي ځانته یا له خپلو اړوند و توکونو سره راځي ، اوپه اینوښ کې کړ که نالیزند اویا بیبچار لیبزند وي اړوند اړوند وته لکه کړ ولمنه — پیژند ونه — ترلنو مونه — شمیرنومونه اوراز راز وییکي ، په اینوش کې کړنده تر ټولو اړوند زنیو روسته راځي ، په کړ نده تر مخه د کړنده نږدي سا کونکي لکه پیژندنه — ستاینوم یا شمیرنوم اویا ترلنوم او یا د هغه تر مخه تولمیکي راځي لکه په دې بیلګو کې …

۱ــ یو سړی ــ راغی یا : یوه سړي ــ ډوډۍ وخوړه ٠

۲ــ یوغټ سړی ــ راغی یا : یوه غټ سړي ــ ډوډۍ وخوړه ٠

۳ــ دغلمی مشرورور ــ ولاړ یا : دغلمی مشرورور ــ وینا وکړه ٠

٤ــ دغلمی دوه ورونه ــ ولاړل یا : دغلمی دوو ورونو ــ وینا وي وکړي

ه‍ــ دغلمی دوه مشران ورونه ــ ولاړل یا : دغلمی دوومشرانو ورونو ــ ویناوي وکړي ٠

٦ــ زما یو کشرورور ــ کورته ولاړ یا : زما یوه کشرورور ــ واده وکړ ٠

په اینبوني کې کړ (آریا مرستیال) ترنورو توکونو وروسته راځي که دغه کړله دوو غبرګو (آر او ناآر) کړ څخه جوړ وي نو آر ترمخه او نا آر (مرستیال ) وریسی بیخی پای ته راځي ٠ ترکړ (آریا مرستیال ) دمخه کړي (که کړ چاروال لیزندوي ) او کړي بیا له خپلو اړوندونو وروسته ځاي نیسی ٠ کړول (که چیري وي ) زیاتره ترکړي دمخه راځي خو که دوه کړولونه په یوه اینبوني کی راغلي وي او یو مهالی اویل تونی یا بل ډول وي نوزیاتره مهالی له تونی یا بل کړول اوکړي څخه مخکی کیږي ٠ تونی یا بل کړول بیا کیداي شی ترکړي وروسته ځاي ونیسی لکه په دي لاندي غونډ لوکی :

۱ــ زمري ــ نن ازموینه ورکړه ٠

۲ــ زمري ــ (نن) (په بریالیتوب سره) ازموینه ورکړه ٠

۳ــ زمري ــ (نن) (له خپل ورور سره) (له کندهاره) (کابل ته) راغی ٠

په پاسنیو غونډ لوکی (نن) مهالی کړول دي (په بریالیتوب سره) او (له خپل ورور سره) څرګندنی او (له کندهاره) او (کابل ته) تونی کړولونه دي ٠ همداراز (ازموینه) او (خپله ازموینه) کړي (مفعولــــونه) بلل کیږي ٠

دغونډ لی بشپړ اند توکونه :

سرپیره

یوه غونډ له پریوړتیو نومول شویو توکونو څینی بشپړ اند (متمم) توکونه هم لري لکه اخج ــ اهنګ ــ بیلتون اوبیوستون اودغونډ لو دپاي غاړه (لحن) ٠ دغزپوهی له مخــــ

دغه ځانګړ تیاوي (خصوصیات) د ویمنی اوازونه (فونیمونه) بلل کیږي چې د لومړیو یا اروااوازونو (لکه ا ــ ب ــ پ ــ ت ــ ټ ... ي ) غوندې دګړ هار په بهیر کې د پرله پسیوالی یا تسلسل (لینیاَل ) لوښه نلري او دغونډ له پوهې له مخې هماغسې مانیز او چاریز (تعاملی یا فنکشنال) نقش او اغیز لري لکه ارتو کونه (ګرونه) ځکه دغونډ لو مانیز اوښتونه ولونه سره تړېږي . نوله دي کبله خج ــ اهنګ ــ بیلتون او پیوستون اودغونډ لو د پاي غاړه (لحن ) د غونډ لی بشپړ اند توکونه بلل کیږي .

## ۱ــ اهنـــــګ :

دغونډ لو اهنګ څلور ډوله دي : خبري اهنګ ــ پوښتنې اهنګ ــ هیښنې اوبلنې (تعجبی اوندایی) اهنګ او امري اهنګ . په بله وینا خبري ــ پوښتنې ــ هیښنې اوبلنې اوامري غونډ لی سره د خپلو ځانګړ و اهنګـو په مرسته توپیریږي .(۱)

۱ــ د خبري غونډ لی اهنګ اوار پیل کیږي اوبیا غورځیدلی پروت پاي ته رسي

لکـه : زمري ــ راغی .



۲ــ د پوښتنې غونډ لی اهنګ ټیټ پیل موسی او بیا نیغ شوي پروت پاي ته رسي

لکـــه : زمري ــ راغی ؟



که په سرکی یې پوښتنو مخري یا پوښتوییکی راشی بیا نو اهنګ په سرکی لوړیږي .

۳ــ د هیښنې ــ بلنې ــ ګومانی او د اسې نورو غونډ لو اهنګ کابو یوراز راځـــي او هغه دا چې ټیټ پیلیږي بیا پورته ځي او په پای کی ریب پاي ته رسیږي لکه :

زمري ــ راغـــی !



## ۲ــ خـــج :

لکه څنګه چې په غږ پوهه کی ورته نغوته وشوه . غونډ له یېز خج هماغه پیاوړي خج دي چې د نورو توکونو په ترخ کی یې پریوه راشی اوهماغه خجن توک تر نورو توکونو زیات موخن

---

۱ــ دلته له پوهاند الهام څخه الهام اخیست شوي ( روش جدید د رتحقیق د ستور زبان دري ۱۴۲ ــ ۱۴۴ مخونه ــ همداراز د زبار د ژپوهنی بنسټونه هم د پاملرنی وړ دي .

(مطلوب ) ښیې • نور تړکونه یاهیڅ خج نلري اویا دهماغه یوه پیاوړي خج تراغیز لاندي کمزوري ویل کیږي • په دي ډول دړي رازه غونډ له ییز خجونه سره توپیرو • پیاوړي ـ لږ پیاوړي او کمزوري لکه داولمیر په دي سند ره کی ( ستاد سترګو بلا واخلم بیا دي سترګی ولی سري دي ) پر ( ولی ) پیاوړي ـ پر ( واخلم ) لږ پیاوړي او پر ( سترګو ) کمزوري خج اوریدل کیږي •

۳ـ بیلتون او پیوستـــــون :

بیلتون او پیوستون د امانا چی دغونډ و یا غونډ لو د پای وییونه سره پیوست اوبی لارغه ( بی مکثه ) وویل شی اویا سره ناپیوست په لارغه ( مکث ) • په دي توګه که کله د هماغو یوراز غونډ و یا غونډ لو ترمنځ بیلتون پرپیوستون بدل شی اویا سرچپه • نو هغه جاج او مانا یی سره نه توپیریږي چی د وینکی موخه او مطلب وي • داچی دغه بیلتو ن او پیوستون یوائی دنحوي یوونو ( واحد ونو ) ترمنځ نه بلکی دغږپوهیزو هغو ترمنځ هم نقش او اغیز لري نود خج آهنګ او غاړي ( لحن ) غونډ ي بیلتون او پیوستون له اره دویمی اوازونه ( فونیمونه ) دي • بیلتون او پیوستون دلیکونکی په دي کړیځ ( بیت ) کی ښه تراجوتیږي :

کړي که بخشش دوصل رازیاره ـ زړه سوزول پرما ملنګ ښــــــــه دي •

دلته که ( ز ) له مخنی وییی یاپه بله وینا له مخنی اواز ( الف ) سره پیوست وویل شــی مانا یی داسی راځی چی ( یه یاره ! ) که ماته ( دوصل راز ) را بخشش کړي اوکه نه ( ز ) له ( یاره ) سره پټلیزه وویل شی یا په بله ژبه د ( الف ) او ( ز ) ترمنځ بیلتون او ـ لارغه راوړل شی بیاد مانا ښندي چی ( یه زیاره ) که ماته ( دوصل بخشش ) راکړي په دي توګه که د مخنی مانا موخه وي • په کار دي د ( راز ) او ( یاره ) وییونو یاپه بله وینا د ( ز ) او ( ي ) ترمنځ په وینګ ( تلفظ ) کی لارغه او بیلتون او له بله پلوه د ( الف ) او ( ز ) ترمنځ پیوستون راشـــی • او که وروستی مانا موخه وینو په کار دي د ( را ) او ( زیاره ) یاپه بله وینا د ( الف ) او ( ز ) ترمنځ لارغه اوبیلتون اوله بله پلوه د ( ز ) او ( ي ) ترمنځ پیوستون راشی •

او که وروستی مانا موخه وګڼو په کار دي د ( را ) او ( زیاره ) یا په بله وینا د ( الف ) او ( ز ) ترمنځ لا رغه او بیلتو او له بله پلوه د ( ز ) او ( ي ) ترمنځ پیوستون راشي ، په دې ډول ترموري نیم بیتي یا غونډه له دوه رازه کاږو :

د لومړي مانا له مخې : کړې که بخښش د وصل راز ـــ یاره !

د دویمې مانا له مخې : کړي که بخښش د وصل را ـــ زیاره !

همدا رنګه د راډیو افغانستان د خبرلو ځانګړې څانګې بیلتون او پیوستون په دې وروسته غونډلو کې خوږه مانیز بدلون پیښوي : د جنوبي افریقا صدر اعظم جان ـــ فورستروویل ـــ د نیپال پاچا دیوانن ـــ خپل هیواد ته ستون شو ، په دې توګه ( جان ) د صدر اعظم توک ګرځي نه د فورستر او ( نن ) د ( دیوا ) توک ګرځي نه د جلاوې ( کړول ) . لیکښې د نورو غونډي د همدا راز د ویښیو توکونو ( خپ ـــ اهنګ ـــ لحن بیلتون او پیوستون .... ) سمبولونه بلل کیږي .

د ایښې او ایښونې سمون :

د ایښې او ایښونې ترمنځ همغه سمون مطلب دی چې د ګڼې ـــ نوزي او وګړي له مخې د کړند یا کړي او کړ ترمنځ راځي . د ګڼې له پلوه سمون دا چې که کړند یو ګړی وي نو کړ و رسره یو ګړي راځي او که کړند ډېر کړي یا د ډېر کړي ډانه ول ( لکه جنس ) وي ، کړ ورسره ډېر ګړي راځي د نوزي له پلوه دا چې که کړند ښځینه وي کړ ورسره ښځینه کارول کیږي او که کړند نرینه وي کړ ورسره نرینه کارول کیږي او د وګړي له مخې سمون دا چې کړ باید له هر یوه وګړي ( لومړي ـــ دویم ـــ دریم ) سره سم وکارول شي ته دا سې چې د لومړي وګړي کړ د دویم وګړي لپاره په کار واچول شي او دا سې نور . لکه په ګړ پوهه کې موچې ولیدل دغه د ود ( قاعده ) بیدونې ( استثناء ) لري لکه په چاروال لیزند تیرمهال کې چې کړ د کړند نه بلکې د کړي ( مفعول ) اړزند ( تابع ) دی په بله ژبه د ګڼې ـــ نوزي او وګړي له مخې کړ له کړي سره سمون خوري نه له کړند سره . همدا راز دغه سمون په اوس مهال کې یوازې د ګڼې او وګړي له پلوه شته نا څه رښتینوالی موږ مګر د نوزي له پلوه هیڅ نه . په دې وروسته غونډو لو کې د ایښې او ایښونې ترمنځ سمون له ټولو استثناګانو سره لیدای شو :

۱ـ نالیزند تیرمهال :

۱) زه —— راغلم

۲) ته —— راغلی

۳) دي —— راغی

۳) دا —— راغله

٤) موز —— راغلو

٥) تاسی —— راغلاست

٦) دوي —— راغلل

٦) دوي —— راغلی

۲ـ لیزند تیرمهال (چاروال) :

۱) ما —— ختکی وخوړ

ما —— ختکي وخوړل

ما —— هندوانه وخوړه

ما —— هندوانی وخوړي

۲) تا —— ختکی وخوړ

تا —— ختکي وخوړل

تا —— هندوانه وخوړه

تا —— هندوانی وخوړي

او همداسی د دریم وګړي لپاره ۰

۳ـ لیزند تیرمهال (بیچار) :

۱) زه —— وخوړل شوم

۲) ته —— وخوړل شوې

۰۰۰۰۰ همداسی ترپایه ۰

٤ـ ناليزند اوسهـال :

۱) زه ــــ ځم

۲) ته ــــ ځې

۳) دي ــــ راځي

...... همداس ترپایه ۰

٥ـ ليزنداوسهال (چاروال) :

۱) زه ــــ ډوډۍ خورم

۲) ته ــــ ډوډۍ خورې

۳) دي ـ دا ــــ ډوډۍ خوري

...... همداس ترپایه ۰

٦ـ ليزنداوسهال (بيچار) :

۱) زه ــــ خوړل کيـــزم

۲) ته ــــ خوړل کيږې

۳) دي ـ دا ــــ خوړل کيږي

...... همداس ترپایه ۰

نوموالـه او کړ واله غونډ لـــــه :

که دیوې غونډ لې په اینبونس کې دآریا مرستیالکړ (لکه خوړل ـ کیدل ـ شول) پرځاي يوا ځې (دي) آريا ددغه مرستيالکړ نوري بڼـس اوړولونه راشي ۰ هغه غونډ لـــه (نوموالـه) غونډ له ياـل کيږي که نه کړ واله غونډ له ـلکه زرین ـ روغ دي يا وـ يا : هلکا ن ـ ناروغه دي یاو ۰ زرینـــه ـ ناروغه ده یاوه یا : نجونې ـ ناروغې دي ياوې ۰

دغونډ لی مانیز ډولرنـــه:

غونډ لـــی دکړ دودله مخی په خبري یا بیانیی اوناخبري‌یا انشایی اویاالتزامی غونډ لو ویشل کیږي.

١ـ خبـــــري :

١ـ ببرك ـــــــ ولاړ

٢ـ ببرك ـــــــ تللی دی

٣ـ ببرك ـــــــ تللی و

٤ـ ببرك ـــــــ تــــه

٥ـ ببرك ـــــــ ځـــی

٦ـ ببرك ـــــــ به ولاړ شـــی

.... اودا ســـــ نور.

٢ـ ناخبـــــــري :

١ـ ببرك ـــــــ ولاړ؟ (پوښتنی)

٢ـ ببرك ـــــــ ولاړ! (هیښنـــی)

٣ـ ببرك ـــــــ به تللی وي! (گومانی)

٤ـ (کاشکی)ببرك ـــــــ به تللی وای! (ارمانی)

٥ـ ببرك ـــــــ دي تللی وای! (ټینگاري)

٦ـ (که) ببرك ـــــــ تللی وي (اړوتی)

٧ـ ببرکـه ـــــــ ځـه! (امري)

٨ـ ببرك ـــــــ به ولاړ شی (گمانی او ټینگاري)

...... اودا سی نور.

دغونډ لی جولیز ډولونه :

دجولی او شومره والی له مخی غونډ له یو ستوي یا غبرګه ـ یاګډه اویاګډ لی .

۱ـ یوستوي غونډ له هغه رازغونډ له ده چی له دووغونډ ونو ( اینس او اینونی ) شخه جوړه وي لکه :

ځلمی ـــــ ییوه کوي

یوغښتلی سړي ـــــ په ځغاسته راغی

دکندهار انار ـــــ خوازه دي

بوره ـــــ نشته

... اوداسی نوري . یوستوي غونډ له دنورو درو ډولو ښست بلل کیږي .

۱) اړه یو ستوي غونډ له چی ین اینس ډ له یوه ( کړند ) یا کړي او اینونی له یوه ( کړ ) ـ او دلیږنده په ترځ کی ـ له یوه ( کړ ) شخه جوړ وي او ددوه له مخی د دغو درو واړو توکو ( کړ ـ کړند ـ کړ ) اړوندونه له دوو توکسو شخه تیري ونکړي لکه :

زمرك ـــــ ځغلی

زرك ـــــ اویه ښبي .

یوه نجلی ـــــ یو لیکی لولی .

یوه ښکلی نجلی ـــــ یو ښه لیکی لولی

زما یو ملګري ـــــ هیڅکله خپل کورنی کار نه هیروي

۲) ارته یو ستوي غونډ له چی په اینس یا اینونی یا دواړو کی دکړ ـ کړند یاکړي یا درواړو اړوندونه له دوود وو توکونو شخه تیري وکړي اویه دي توګه پکښی زيات ارتوالی راشی لکه : دعراق دعربی جمهوریت رئیس حسن البکر ـــــ په بله میاشت د افغانستان دجمهوري دولت پایتخت مرکز کابل ته راشی .

یا : دافغانستان دجمهوري دولت یوه کلتوري ډله ـ دشوروي اتحاد دپوهنو داکادمی په بلنه هغه هیواد ته سفرکوي ... اوداسی نوري .

۲ـ غبرگفونه لــــه :

غبرگفونه له هغه ده چې دیوه اینس او یوه اینونې پرځاي دوه دوه اینس او اینونې ولري یا په بله وینا که دیوې پوهونې او مطلب دبشپړتیا دپاره دوو اړوندو مطلبو دڅرگندونې لپاره سره دوي غونډ لې په کوم اړیکوییکې یا لارغه (مکث) غبرگی اوملگري شي • یوه غبرگفونډ له منځ ته راوړي • داړیکوییکو دډولونو له مخې سره ډول ډول غبرگفونډ لې توپیرولاي شو دغبرگفونډ لې په دواړو بیلا بیلوغونډ لو کې یوه اره یا خپلواکه اوبله څرمه (فرعي) یا بیواکه غونډ له بلل کیږي • اره یا خپلواکه په دې مانا چې ار مطلب او موخه پکې څرگندیږي اوځانته په خپلوبنود ریداي شي • څرمــه یابیواکه په دې مانا چې ار مطلب اوموخه پکــې نه څرگندیږي اوځانته پخپلو پښو دریداي نشي په دې توگه په یوه غبرگفونډ له کې بیواکه یا څرمه له خپلواکې یا اري سره دیوه مطلب په څرگندونه کې مرستیاله او بشپړوونکې اوسي • داړیکویکو له مخې د غبرگفونډ لې ډولونه په لاندې توگه ښوول کیږي :

۱ــ تړ غبرگفونډ له : چې دواړه یوستوي غونډ لې پکې په یوه تړوییکې (او) یا لارغې سره یو ځاي شوي وي لکه :

زما زوي اووه کلن (دي) او لورمې شپږ کلنه ده •

یا : زما زوي لس کلن دي اوستا لور دولس کلنه (ده) •

۲ــ اړوتي غبرگفونډ له : چــې یې یوه (زیاتره لومړۍ) یوستوي غونډ له بیواکــه او بله (زیاتره دویمه) خپلواکه وي • په دې تــوگه دلته بیواکه غونډ له آر (شرط) بلل کیږي او خپلواکه اړوتي ، لکه :

که ته راشي ــ زه به راشم •

که وریځ سپینه شي ــ باران کیږي •

که شمال نه وي ــ ونه نه ښــوري •

دکه په وړاندې داړوتی غونډه لی په سرکی د (نو ) اړیکوییکی هم راتلای شی لکه : که شمال نه وي ــ نو ونه نه ښوري ۰

۳ــ توسنی (علتی )غبرگغونډه له : چی یی دواړه پوستوي غونډه لی سره په یوه یاغبرگو توسنو ییکو( څکه ــ څکه چی ــ چی ــ داچی ــ په دې چی ــ نو ۰۰۰ ) غبرگی شوي وي ۰ په دې ډول خپلواکه توسنی (معلوله ) اوبیواکه توسن (علت )غونډه له نومیدای شی لکـــه :

زه راغلم ــ څکه تابللی وم یا : زه راغلم ــ پــه دې چی تابللی وم ۰

تابللی وم ــ څکه راغلم یا : تابللی وم ــ نو څکه راغلم ۰

څکه راغلم ــ چی تابللی وم یا :څکه راغلم ــ په دې چی تابللی وم ۰

داچی تاویلی وو ــ نوراغلم یا : څنگه چی تاویلی وو ــ نو څکه راغلم ۰۰۰۰

٤ــ څرگندنی (بیانـــی )غبرگغونډه له : چی دویمه مله غونډه له دلومړۍ هغــی دزیاتی څرگندتیا لپاره وي اوڅيوي پوښتنی ځواب وایی : ددغسی څرگندتیا دڅرنگوالی له مخی داالاندې کوچنی ډولونه دیادولو دي :

۱ ) موخنه یامراسی څرگندنی غبرگغونډه له : چی په خپلواکه غونډه له کی د راغلی مطلب یا پیښــی موخه په بله څرمه غونډه له کي څرگنده شی لکه :

سنک ایران ته ولاړ ــ چی ځانته کار مزدوري پیداکړي ۰

زه راغلم چی تاووینم ۰۰۰۰۰

۲ ) مهالی څرگندنی غبرگغونډه له : چی لومړۍ (بیواکه)غونډه له ددویمی (خپلواکی ) غونډه لی څرگندکړي چار اوپیښی مهال اووخت ټاکی لکه :

چی ته راغلی ــ زه به ولاړ شم یا : چی ته راغلی ــ نو زه به ولاړ شم

کله چی ته راغلی ــ زه به ولاړ شم یا : کله چی ته راغلی ــ نو زه به ولاړ شم

سم چی ماوربرانیست ــ پرهغی می سترگی ولگیدې ۰

زه به هله درشم ــ چی ته می وغواړې ۰

یا : زه به هله د رشم — هرکله چې ستا وغوښتم

هومره به دې مړ نکړم — څو دې رنګ د مړي نکړم

هله به خبر شې — چې تاروجبې له ورشې !

هله به دې په یاد شې — چې دې یو دیوال ته مخ بل ته دې شاشې !

۳) تونې څرګندنې غبرګغوندوله : چې څرمه غوندې له یې داري لپاره تون (ځاي) وټاکې لکه : چیري دې نه — هلته دې شپه !

چې نه کار — هلته څه کار ـ ا : چې دې نه کار — هلته څه کار !

چې له کومې راغلې یې — پرهماغه ځه !

چیري چې اوسې — په خوي به د هغوي اوسې یا : چیري چې اوسې — په خوي به د هغــــوي اوسې !

یاد پرد یو ژبو په یې ځایه پیښو لکه :

د هند جمهوررئیس شوروي ته ولاړ — (چیري) چې له شوروي مشرانو سره خبري کوي

دلته (چیري) یو زیاتی توک دی ، البته له (چې) سره (کوي) نه بلکی (وکړي) راځې ،

(تون) د زیاتې څرګندنې لپاره له (چې) سره (هلته) هم ملګري کیداي شی لکـــــه :

د هند جمهور رئیس شوروي ته ولاړ چې هلته له شوروي مشــــرانو سره خبري کوي ،

٤) وګړیزه څرګندنې غبرګغوندو له : چې په دواړو ملوغوندو لوکی راغلی کړندیاکړي یو (وګړي) وي لکه :

څوک چې خوبکړي — نو کښي به زیزوي ،

یا : د نورو ژبو په پیښو په نامسم ډول :

ځې ، هغو خوارو ته جنت وګټو — (څوک) چې له موره دوزخیان پیدا دي

دلته دا پایله اخیستلای شو چې (څوک) د (چیري) — (کوم) — (څه) — (کله) او داسې نورو څرګندنې اړیکوییکو غوندې یوا ځې د هماغې څرمه غوندو لې په سرکې له (چې) سره راتلاي شي چې تر اړي د مخه وي د غه توپیر په تیرو دواړو ساربو (مثالو) کې نه ترا لیداي شو ،

۵) ځیزواله ښرګندنی غبرګغونډله : چې په دزاړ و ملوغونډ لوکی راغلی کړندونه یا کړي یو (ځیز) وي لکه :

څه چې کړي — هغه به ریبې

څه چې وي — هغه به وي

۶) کړولی (قیدي) ښرګندنی غبرګغونډ له : چې د دواړ وغونډ لواړیکو پیکس کړ و لونه وي لکه :

اسري څه — ژرژاځه

یاد دي لنډۍ دویمه برخه : پراویو غرو دخدایېنظر دي — پرسرېي واوري — پرلمن یې زیړ ګلونه

۷) پرتلیزه ښرګندنی غبرګغونډله : چې د دواړ و ملوغونډ لو اینبی سره داړیکو پیکو په وسیله انډ ول — پرتله یا همځیر شوي وي لکه :

ښنګه دیګ — هسی تیپریا : هسی یې تیپر (کړ پرېښوول شوي)

ښنګه غر — هسی یې کیوړي (کړ پرېښوول شوي)

یو یې ګټي — سل یې ښټي

سل دي ومره — یوندي مه مره

یا : سل دي ومره — د سلو مردي مه مره

سل پښنګان سرخي — دیوي شمی ژړ ا سره

۸) اړپیچنه (متضاده) ښرګندنی غبرګغونډله : چې داري اوښرمی ښرګدونی یا اینبی سره اړ پیچ یابډ والی (تضاد یا تقابل) ولري لکه :

که څه هم مازیار ایستلی نه و — (خو) بیا هم بریالی شوم

سره له دي چې ناروغ وم — پوهنځی ته راغلم

یا : سره له دي چې ناروغ وم — خو بیا هم پوهنځی ته راغلم

یا دیوی ارتی یوستوی غونډ لی په بېلــه :

له نارونو سره سره پوهنځی ته راغلم .

له ولسه وو ځـــه ـ له نرخه مه ووځـــه

که غر لوی دی ـ پرسرېی لار ده

خپل خپل دی ـ پردی په پیرو نارو خپل دی

دښمن به دی وخندوی ـ دوست به دی وژړوی

شمه که سوزېږی رڼـا هم لری (گوره په خندا کی ژړا هم لری )

۹) سرغاړی (منصرفه ) څرگندنی غبرگغونډه له : چی دویمه (څرمه) غونډ له یې دلومړی (اری ) له څرگندونی څخه سرړنړوی او نور زیات څه څرگند کړی لکه :

ځلمی گرم نه دی ـ بلکی زمری گرم دی

یا : ځلمی گرم نه دی ـ چی زمری گرم دی

۱۰) بشپړ انده څرگندنی غبرگغونډه له : چی دویمه (څرمه) یې د دویمی (اری) دجاج (مفهوم ) په بشپړو لو یا پراخولو کی مرستیاله اوس لکه :

خوشال ختـک نه یواځی شاعرو ـ چی تورزن هم و یا : بلکی تورزن هم و .

یا : خوشال خټک یواځی شاعر نه و ـ چی تورزن هم و یا : بلکی تورزن هم و .

یا : خوشال خټک لوی شاعرو ـ چی لا اتل هم و .

دلته گورو چی (نه یواځی ) د (چی هم) یا (چی لا هم) او یا (بلکی هم) په ملگرتیا د دواړو غونډ لو اړیکی ټینگوی یا په بله وینا (نه یواځی ) او (چی هم) یا (نه یواځی ) او (چی لا هم ) یا ( نه یواځی ) او ( بلکی هم ) د دواړو ملو غونډ لو ترمنځ دبشپړتیا اړیکی څرگندوی .

همدومره خبره ده چی که د پورویی ( بلکه یا بلکی ) له کارونی څخه پېره وشی نو دپټــــې (جبران ) لپاره یې په همغه څرمه غونډه له کی د اینبی پرار توک باندی یو پیاوړی خج راوړل په کاردی چی له همدغه خج سره اهنگ هم پټلیز (جوخت) لوړولاړ شی .

۲ــ گډه غونډه لــــه :

گډه غونډه له هغې ته وایي چې په هغه کې له دوو نه زیاتې غونډې لې پرله پسې راغلې وي او څرګندونې یې سره یو له بله کوم بول اړیکې او اړونده ولري . او داچــــې هماغه یوه یوازینی مطلب د بیلا بیلو ملو غونډو له مخې په بیلا بیل بول څرګندیدنه موندلې وي . تر زیاتره یې یوه غونډه له خپلواکه یا اړه وي او نورې تولې ملې ورسره بیواکه یا څرمه وي په ګړتي ( محاوروي ) پښتو کې ګډې غونډې لې زیاتره له دوو غبرګغونډو لو څــــخه جوړې وي چې په دې بول په دواړو یو ځاي شوو غبرګغونډو لو کې داړو او څرمو غـــونډو لو شمیر یو پر یو وي لکه په دې لنډۍ یو کې :

بنه دي چې ستړګې دي ورېدي ــ که چیرې غنــس واي خوړ لاي به دي ومه
یارې د کوټ زه د تیرا یـــــــم ـــ خدایه کوټ وران کړي چې جوړه تیزاله څونه

په لومړۍ لنډۍ کې لومړي برخه (مسره) یوه غبرګغونډه له ده چې اړه غونډه له یکې یوېخــــه او څرمه وریسې ده . دویمه برخه (مسره) یوه بله غبرګغونډه له ده چې څرمه غونډه له له اړې غونډه لې ترمخه راغلې ده . داچې په لومړۍ مسره کې دویمه ( څرمه ) غونډه له په څرګندنې ویکـــې ( چې ) پیل شوي نو تړله لومړي مسره یوه څرګندنې غبرګغونډه له بلل کیږي او داچې په دویمه مسره کې لومړي ( څرمه )غونډه له په اړ ویکو (که چیري ) پیل شوي نو تړله دویمه مسره یوه اړوتې غبرګغونډه له ده . دواړې مسرې (غبرګغونډه لې ) سره بیا په یوه تومنې اړیکې ــ چې په لارغه څرګندیږي ــ یوه ګډه غونډه له جوړوي . نو له دې پلوه زموږ یامنې لومړي لنډۍ یوه تومنې ګډه غونډه له ده چې یې دغړیو غونډو لو شمیر څلوروته رسیږي او لومړۍ یې ( بنه دي ) اره غونډه له بلل کیږي او که دغې لنډۍ ته د دوو غبرګغونډو لو په سترګه وګورو نو لومړۍ غبرګغونډه له (لومړۍ مسره) اړه او دویمه غبرګغونډه له (دویمه مسره) څرمه ده . د دویمې غبرګغونډه لې بیا دویمه مله غونډه له (خوړ لاي به دي ومه) اړه یا اړوتې او لومړۍ هغه یې (که چیري غنس واي ) څرمه ( اړ ) بلل کیږي .

او داهم د لومړۍ لنډۍ (ګډې غونډلې) لښتیلیک (جدول):

۰۰۰ | ایښوونې اړیکوییکی ایښې | ایښوونې لارغه ۰۰۰ | ایښوونې اړیکوییکی ایښې | ایښوونې

له پټ ایښې سره اړه — خرمه — له پټ ایښې سره خرمه — اړه

ـــــــــــــــــــــ لارغه ـــــــــــــــــــــ

لومړۍ څرګندنې غبرګغونډله — دویمه اړوتې غبرګغونډله

ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

توښنې ګډه غونډله

همدا راز دویمه لنډۍ دیوې ګډې غونډلې په توګه جوتولای شو او هغه داچې داهم یوه توښنې ګډه غونډله ده، مګر په همدومره توپیر چې دلته توښنې غبرګ غونډه له ترلې (تړغبرګغونډلې) د مخه شوې ده. اول داچې تړپولو وروستی غونډه لهیې اړه ده او په دې توګه ټوله دویمه غبرګغونډله (مسره) د لومړۍ غبرګغونډلې (مسرې) په وړاندې اړه پلل کیږي په دې ګډه غونډه له (لنډۍ) کې د لومړي ملې غونډلې (یارمې ــ د کوټ) ایښوونې د (د) په غورځونه چې یوه شعري اړتیاده نیمګړې دې. دغه راز د څلورمې (اړې) ــ ایښې خپلواکه جوله نلري اوداچې د لومړۍ غبرګغونډلې د واړې ملې سره په یوې لارغې تړل شوې یا عطف شوې دې نو یوه تړ غبرګغونډله پلل کیږي.

داهم د دغې دویمې ګډې غونډلې (لنډۍ) لښتیلیک:

ایښې | ایښوونې (بې کړه) لارغه ایښې | ایښوونې لارغه ایښې | ایښوونې اړیکوییکی ۰۰۰ | ایښوونې

خرمه — خرمه — خرمه — بې ایښې اړه

ـــــــــــــــــــــ لارغه ـــــــــــــــــــــ

لومړۍ خرمه تړ (عطف) غبرګغونډله — دویمه اړه توښنې غبرګغونډله

ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

توښنې ګډه غونډله

یادښت: پرتوښنې ګډې غونډلې سربیره نورې راز ګډې غونډلې هم پیداکیدای شي تشبیهي لکه د ښکارندوي په دې کړۍ کې:

هر یو لود ګلووزم دې لونلی ــــ ته واراغله له ختـه کاروانـونـه

یا د حمید دغه لنډ ی :

سینه مې دیګ زړ ګی مې غوښې — اوښکې اوبه دي بیلتون اوربس کوینه

٤ــ ګډ لې (مختلطه) غونډ له :

ګډ لې غونډ له هغه ده چې دیوې یوستوي غونډ لې په منځ کې یوه یا زیاتې څرمه غونډ لې ورننوتې وي ٠ دغه راز څرمه غونډ لو ته منځپیښې (معترضه) غونډ لې ویل کیږي ٠ جوړښت یې داچې داري غونډ لې تر ایښې ( مسند الیه ) یا د هغه ترکومې برخې وروسته د هماغه ایښې یا برخې په اړیکې (ارتباط ) یوه یا زیاتې غونډ لې په څرمه ډول راشي او بیا د اري غونډ لې پاتې برخه ترټولو پاي ته راووځي ٠ په ګړنې پښتو کې ګډ لې غونډ لې ډیرې لږې کارول کیږي اوهغه هم په دومره پیچلې بڼه نه ٠ د امانا چې نه اره غونډ له یکې دومره ارته وي اونه یکې منځپیښې ترېوې زیاتې وي او هغه یوه هم د ومره ارته نه وي که نه په غبرګو اوګډ وغونډ لو اړ ول کیږي ٠ دلته لومړي ګړنې اوبیا له لیکې پښتو څخه دګډ لو غونډ لو بیلګې را اخلو :

۱) زه چې کورته ځم — رخصت اخلم ٠

۲) ځلمی چې پرون راغلی و— ما ونه لید ٠

۳) ما پروفیسور مورګن سیترنې — چې د اوروستي ځل کابل ته راغلی و— ونه لید

یا دغبرګې غونډ لې په ډول : ما د اوروستي ځل پروفیسور مورګن سیترنې ونه لید — چې کابل ته راغلی و ٠

٤) خوشال خټک — پخوا تر دې چې په ګوالیارکې بندي شي — له اورنګ زیب سره په داسې میړانه — چې ساری یې نه د رلود — جنګ وکړ ٠

د ایوه دوه اړخیزه ګډ لې غونډ له ده په دې توګه چې دلومړ ی اري غونډ لې (خوشا ل خټک له اورنګ زیب سره په میړ انه جنګ وکړ ) دوه منځپیښې غونډ لې راغلې دي چې لومړ ی یې ( په ګوالیارکې بندي شي ) د ایښې (خوشال خټک ) په ګوالیارکې بندېد ل څرګندوي او دویمه یې

(ساري یې نه درلود) د اینبوني (جنګ وکړ) دیوه کړول (په میړانه) څرګندوي او پیاوړي کوي • (پخواتري – چې) او (د داس – چې) د دروواړو ملوغونډلو ترمنځ د اړیکو پیدا کوونده پرځای کوي لومړي زماني اړیکي او دویم څرګندوونکي اړیکي •

د لته وینو چې د اړې غونډه لې اینبي (خوشال خټک) له خپل اینبوني (جنګ وکړ) یوناد ود ه لړیوالي لري نو په دې لاندې ډول دغه لړیوالي له منځه وړلای شو :

خوشال خټک – پخواتردې چې په ګواليار کې بندي شي – له اورنګ زیب سره په داسې میړانه جنګ وکړ – چې ساري یې نه درلود •

د دغې کلتوري نړۍ په غونډنتو او اغیزو سره دغه راز غونډه لې په ((لیکني)) پښتو کې مخ پر زیاتیدو او پیچلي کیدو دي لکه :

٥) د یونان نومیالي فیلسوف اپلاتون – چې په اسلامي نړۍ کې د لوي نامه خاوند شو – د لویدیزې نړۍ لومړي پوهاند دی – چې د ژبې د بنسټ او څرنګوالي په باب یې فلسفي څیړنه کړې ده – او له دې لامله د لویدیزې نړۍ د ژبپوهنې پرانیستونی او د پرله غښتي ګرامر بنسټ ایښودونکی ګڼل شوی دی •

٦) د یونان ستري جنګي بوللې یا حماسې ((ایلیاد او اودیسې)) چې سپیڅلي ګڼل کیدې په خورا لرغونو زمانو کې په داسې یوه ژبه او سبک کښل شوي وې چې کابو نابومه (نامانوسه) شوې وې (الهام : وږمه – ٦ ګڼه ١٣٥١) •

په پنځمه ګڼه لي غونډه له کې یواځې (د یونان نومیالي فیلسوف اپلاتون ———— په اسلامي نړۍ کې د لوي نامه خاوند شو – د لویدیزې نړۍ لومړي پوهاند دی) رښتیني ګڼلې غونډه نه جوړه کړي – ځکه د دوی اړي ترمنځ یوې منځپیني غونډه لې ځای نیولی دی – او وروسته نورې د دوی ورسره په څرګندونې اړتومنې بڼه د زیاتې څرګندونې لپاره ملګرې شوي دي •

## (IDEOMS) گړنـــــې یا اصطلاحـــــات

په غونډ له پوهه کې موتر او سه د ونا بشپړ یوونونه ( واحدونه ) یا په بله ژبـــه غونډ لی وخیرلی اوبه ترڅ کی مو واړه واړه وېی غونډونه یا لغوي گروپونه ( فقري ) چې دگړنو (ایدیمونو) په نامه بلل کیږي •

پیژندون ( تعریــــف ) :

یوه گړنه یوداسې وېی غونډ دي چې دراز راز مانا لرونکو ( دوویاډیرو ) ویـــو اړ ویکو څخه منځ ته راغلی وي اوپه ژبه کې یو ناڅکل کیدونکی لرغونتوب لري • یوه گړنه تل په جولیز ډول یوناشنونی او ټینگ یووالی نه وي خوپه مانیز ډول بوناشنونی غونډ ( مجموع ) گڼل کیږي • په بله وینا یوه گړنه دداسې ویوغونډ دي چې په یوه غونډ له ییز یاپه بله وینا غونډلموییز(نحوي) چاپیریال کی ځانته بیلا بیله جولیزه خپلواکی ساتلاي شي • د ساري په ډول له هر راز اوښتي راوښتي سره مخامخیداي شي خو په گډه چې کومه یوه بواځیني مانا منځ ته راوړي نه شنل کیدونکی مانا بلل کیږي دغسي یوه منځ ته راغلی گډه مانا کله داسې وي چې دټوکونو( اجزاوو ) له بیلا بیلو مانا وو سره څه ناڅه ورته والی اواړیکی لري اودشنلو ( تجزیه کیدلو) پروخبتـین گډه مانا کورتـــه له منځه نه ځي ــ دچاخبره یو ځرک هومره یی لالگیږي لکه برخه اخیستل ــ سرېرځښې کیدل مقصد ته رسیدل ــ وروسته پاتیدل خوله پرخوله کیدل ــ پرمخ تلل ــ لاسته راوړل یاراوستل ــ له منځه وړل ... او نور •

په دویم ډول گړنوکي گډه مانا داسې وي چې دبیلا بیلو ټوکونو ماناوي یې ښکارندوي نه شي کولاي او له ټوټـه ټوټه کیدو سره هر توک خپلی گوښی اري مانا ته ورگرځي کټ مټ لکه دیوه کیمیایی ترنگ ټوکونه ( دبیــاري په ډول هایدروجن او اکسیجن چې یوېی هم ځانته دخپل ترنگ (( اوبو )) ښکارندوي نه شي کولاي ) بیلگی یې لکه : غوز ړول ــ زړه مړیدل ــ زړه خوړل زړه ماتیدل ــ زړه پخیدل ــ سپینی ښوییدل ــ تښتیدل یا غوټه کیدل ــ پــزي ته رسیدل سترگی رییدل ــ لاس ترزنې کیناستل ــ لاس پرسرکیدل ــ لاس اخیستل اوداسې نوري کنایی او مجازي مانا ښندونکی گړنی •

دریم — هغه ګړنی دي چې د متلو او بولنو (مقولو) په ډول وي یا په بله وینا یوه غوره وینا وجیزه ډوله یا مقوله ډوله وینا وي او یا متلونه وي د اما نا چې کومې کیسې ته ګوته نیسي او هره یوه د ګړها ر په بهرکې دیوه ناشنونکې وییز غونډ (لغوي ګروپ) په توګه لکه یوه ګړنه کارول کیږي کټ مټ د شاعرانه ارسال المثل غوندي لکه: د ګبرجام نسکور دي — پلانی او بیستانی سره نوك او اوري دي — پلانی او بیستانی دیوې سوړې ماران دي یا دیوي باغچې ګلان دي — په یوه ګل نه پسرلی کیږي — دا هم په انارو — خوند یې باران وړي دي — د کوهی ختې پر کوهی لګی — وروري خوري به کړو حساب ترمنځه — یوه بلا بلی ته وایی چې بو — بنه بنه د ي بد بد دي — خپل عمل د لاري مل — د جولا منډه تر موزي پوري وي — لري ځه — ژرراځــــــــه — مه کوه پرچا چې را به شي پرتا — لاس چې مات شي د غاړي بارشی یا غاړي ته ورځی — د چا پر توګا بن تنستیدل (خجالت کیدل) — پر پچه سپریدل او کشمیر لیدل — لوړ په لوټه تیره کول — اوبه له ورخه تیریدل — اوبه په ډانګ بیلول — چې په نازلوییږي په زیار زړیږي ۰ ( لکه پدي کړي کــــی: چې په ناز لویشې په زیار زړیږي — زه په زیار لوي شوم په ناز زړیــږم

